# جمع الازهار

## فی الآیات والأحادیث والآثار

دګڼو غوره سوو آیتونو، احادیثو او آثارو ټولګه

Download from:aghalibrary

لیکونکئ اوترتیب کوونکئ

ابومحمدنورالحق مظهری

دکتاب فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام علي محمد وآله وصحبه اجمعين.

په لاندي صفحاتو كي به ډير جالب بحثونه اوموضوعات وګورى كوم چي دګنو آيتونو، احاديثو او آثارو څخه په استناد ذكر سويدي د يادوني وړ ده چي د آيتونو، احاديثو اوآثارو د ژباړي ترڅنګ د ځينو سره مهم توضيحات هم ليکل سويدي الله پاک دي راڅخه قبول کړي او زموږ د هدايت سبب دي وګرځوي.

## د سفر په اړه:

١ ــ ځيني د سفر څخه عبرتونه را وړي او ځيني پوسخندونه.

٢ ــ ځيني د سفر څخه خاطرات راوړي او ځيني خطرات.

٣ ــ ځيني په سفر كي ګټمن سي او ځيني زيانمن.

۴ ــ د ځينو لپاره سفر سعادت وي او د ځينو لپاره شقاوت.

۵ ــ د ځينو په سفر كي دوستان ډير سي او د ځينو دښمنان.

٦ ــ ځيني په سفر كي خوشال وي او ځيني بي حال.

## د مصيبت او تاوان په وخت كي د غمګينۍ او پښيمانۍ خبري مکوه!

وإن أصابک شيء فلا تقل : لو أني فعلت لكان كذا وكذا ولكن قل قدر الله وما شاء فعل فإن اللو – تفتح عمل الشيطان. [مسند ابي يعلي6251]

ژباړه: که يو شى در ورسيږي نوته داسي مه وايه چي کچيري مي داسي کړي واى نو داسي او داسي به سوي واى بلکي ووايه د الله تقدير وو هر كار چي الله يې وغواړي كوي يې ځكه چي لو(کچيري) عمل د شيطان را خلاصوي.

توضيح: يعني كله چي د يومصيبت سره مخامخ كيږې نو داسي مه وايه چي کچيري مي داسي كړيواى او يا داسي سويواى نو دغه مصيبت به نه را رسيدلاى ځكه چي دداسي خبرو كول



M.N.Mazharee

انسان ته دروازې د شیطاني کارونو او باورونو خلاصوي چي هغه د الله پر قضاء او قدر پښیماني او غمګیني ده او پر الهي تقدیر باندي یو قسم نیوکه او اعتراض دی.
بس سړی به داسي وایې: چي الله پاک په تقدیر کي همداسي لیکلي وه ارومرو دغه پیښنه کیدل.
او د الله پاک خپله خوښه ده چي کوم شی وغواړي هغه کوي هیڅوک او هیڅ شی یې مخه نسي نیولای.
په بل حدیث کي راځي:احرص علی ما ینفعک ولا تعجز، فإن غلبک أمر فقل: قدر الله وما شاء صنع، وإیاک واللو فإن اللو تفتح عمل الشیطان. [مسند ابي یعلي6346]
ژباړه: پرهغه شي باندي کوښښ وکړه چي تاته ګټه رسوي او مه ناتوانه کیږه که یوشی درباندي غالبه سو نوداسي ووایه: د الله تقدیر دی کوم شی چي د الله خوښه وي هغه کوي او ځان د لو (کچیري) څخه وساته ځکه چي په هغه باندي د شیطان دکار دروازه خلاصیږي.
یعني تل د ځان لپاره د ګټي د لاسته را وړلو په هڅه کي وسه او ځان ناتوانه مه بوله خو که په یوکار کي ناکامه سوې او ستا ناخوښه حالت درباندي راغی نو داسي ووایه چي دا د الله تقدیر دی کوم شی چي الله یې و غواړي هغه کوي.
او هیڅکله داسي مه وایه: کاشکي مي فلانی کار نوای کړی او یا که مي فلانی کار نوای کړی نو داسي به نه کیدل. ځکه چي دداسي خبرو په کولو پر انسان د شیطاني کارونو او باورونو دروازې را خلاصیږي چي هغه د الله پاک پرتقدیر پښیماني او غمګیني ده او یوقسم اعتراض دی پر تقدیر باندي.

## ایا ډېری خلګ ددې حدیث مصداق ندي؟

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ رُوَيْمٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : شِرَارُ أُمَّتِي الَّذِينَ وُلِدُوا فِي النَّعِيمِ ، وَغُذُّوا بِهِ ، هِمَّتُهُمْ أَلْوَانُ الطَّعَامِ ، وَأَلْوَانُ الثِّيَابِ ، يَتَشَدَّقُونَ فِي الْكَلَامِ.[الزهدلابن مبارک 758]

ژباړه: بدترینه زما د امت هغه خلګ دي چي په هوساکۍ کي پيدا سويوي اوپه هغه باندي لويان سويوي، ددوی ټوله غم د خوراکونو او کالو رنګونه وي او ډيري بې ځايه او بې احتياطه خبري کوي.

توضيح: يعني بدترينه زما د امت هغه خلګ دي چي دوی په ډيرو نعمتونو او هوساکيوکي پيدا سويوي او هيڅ لوړه او تنده ورباندي نوي راغلې او په همدغه حالت کي لويان سويوي ددوی ټوله توجه او پاملرنه خوراکونو اوکالوته وي او د رنګارنګ خوراکونو اوکالو ډير شوقيان وي اوکله چي د خلګو سره خبري کوي نو ډيري بې ځايه او بې احتياطه خبري کوي په خبروکي تحقيق نکوي او تل ددې هڅه کوي چي په خپلو خبروکي د ځان غټوالی او سپيناوی ښکاره کړي او د نورو بې عزتي اوسپکاوی ښکاره کړي.

بيلګه:

که سړی د اوس خلګوته وګوري پرځينو باندي اوس همدغه حديث صادقيږي اوځيني نور بيا قصدا ځان ددې حديث مصداق جوړوي ځکه تل ددې هڅه کوي چي د ځان او اولادونو لپاره داسي زمينه برابره کړي چي دده په فکر په ټوله ژوند کي د ستونزو سره مخامخ نسي، د هري خوا څخه ورته پيسې ټولوي، کلک او محکم کورونو ورته جوړوي، رنګارنګ کالي اوخوراکونه ورباندي راټولوي او د دنيوي ژوند مختلف مادي سهولتونه ورته برابروي. او په خبروکي خو نو هريو بسته من وي تنها خپله خبره مني د بل چاخبري ته هيڅ ارزښت نه ورکوي.

پدې خاطردی چي حضرت عمررضي الله عنه په فارس کي خپلو عساکرو ته داسي ليکلي وه:

ذروا التنعم وزي العجم.[حلية الاولياء]

يعني دډيري هوساکۍ اوسهولت څخه او دکافرانو دکالو څخه ځان وساتی.

## خوندور او پوره ملاقات:

د ځان طبيعت دي داسي جوړ کړه اوخپله خوله او عمل دي داسي عيار کړه:

چي د خان او بډا سره د ملاقات په وخت کي ته احساس د حقارت ونکړې او د هغه څخه تکبر ونسي.
او د مسکين سره د ملاقات په وخت کي ستاڅخه تکبر ونسي او هغه احساس د حقارت ونکړي.

## بهترينه:

بهترينه زړه هغه دی چي صادق او ويښ وي.
بهترينه خلګ هغه دي چي تا نه هيروي ځکه چي ستاسره محبت لري.
بهترينه ورځ هغه ده چي بې ګناه دربانديې تيره سي.
بهترينه سوغات هغه دعاء ده چي ستا لپاره کيږي خوته په خبر نه يې.

## صميمي ملګرى:

۱ـــ صميمي ملګرى د بل چا په واسطه ستاسره خبره نه شريکوي بلکي تاته يې خپله وايې.
۲ـــ صميمي ملګرى ستا د عوايدو حساب نکوي بلکي ستا د مصارفو حساب کوي تر څو د اړتيا په صورت کي مرسته درسره وکړي.
۳ـــ صميمي ملګرى ستا مخ ته ستا صفت نکوي بلکي د نورو مخ ته ستا صفت کوي.
۴ـــ صميمي ملګرى ستا په اړه د نورو څخه پوښتنه نکوي بلکي ستا څخه خپله پوښتنه کوي.
۵ـــ صميمي ملګرى ستا په حق کي د نورو خلګو بدي خبري نه تحمل کوي بلکي جواب يې ورکوي.
٦ـــ صميمي ملګرى تا ستا خطاء ته متوجه کوي او ستا نيمګړتيا درته په ګوته کوي.
۷ـــ صميمي ملګرى ځېل کار په تا نه جوړوي بلکي ستاسره په ګډه د مشترکي ګټي لپاره کار کوي.

## درې شیان د اسلام عزت له منځه وړي!

وَعَنْ زِيَادِ بنِ حَدِيْرِ قَالَ: قَالَ لِيْ عُمَرُ: "هَلْ تَعْرِفُ مَا يَهْدِمُ الاِسْلَامَ؟ قَالَ:قُلْتُ: لاَ؛ قَالَ: يَهْدِمُهُ زِلَّةُ الْعَالِمِ، وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ، وَحُكْمِ الأَيِمَّةِ الْمُضِلِّيْنَ"([1])

ژباړه: زیاد بن حدیر وایي ماته عمررضي الله عنه وویل: آیا ته هغه شیان پیژنې چي اسلام ورانوي؟ ما ورته وویل یا. ده وویل: اسلام خرابوي د عالم ښوییدل، په قرآن باندي د منافق جګړه کول، او د ګمراه پاچاهانو حکم کول.

توضیح: محدثینو ددې حدیث په تشریح کي لیکلي دي: دغه درې شیان د اسلام عزت له مینځه وړي: یو دا چي عالم په خپل شرعي مسیولیت کي ناغیړی وکړي نوله امله یې په شرعي امورو کي غلطیاني ډیري سي، او بل دا چي منافق سړی د خپل شخصي هدف د ترلاسه کولو لپاره او د یوې ځانګړي موخي د لاسته راوړلو په نیت په قرآن باندي استدلال کوي اوخپل ناروا، بدعت او خپل خرافات په قرآن باندي توجیه کوي.

او دریم دا چي بې لاري اوګمراه پاچاهان او مشران د خلګو مینځ کي حکم کوي ددوی فیصلې د خپلو غوښتنو مطابق او د هغوی د مزاج موافق آواره وي.

## د صفر میاشته د بدفالۍ او بد مرغۍ میاشت نده:

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ عَدْوَى وَلاَ غُولَ وَلاَ صَفَرَ ».[صحيح مسلم 5929]

ژباړه: جابررضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: د ناروغۍ سرایت نسته، د إنسان ښخه لاره ورکوونکی پیری نسته، او په صفر(میاشتي) باندي بد پالي نسته.

توضیح: پورته هغه شیان دي چي د جاهلیت په زمانه کي خلګو ورباندي عقیده درلودل خو د اسلام په راتګ سره پرهغو باندي عقیده درلودل رد سوه.

[1]- مشكاة المصابيح271



M.N. Mazharee

د" عدوي " لپاره څو تفسيرونه راغلي دي خو يو تفسيرېي دادی چي د يوه شخص څخه ناروغي بل شخص ته ورتلل، پدې روايت باندي صراحتا ددې خبري رد سوی دی چي د يوه شخص ناروغي دي بل چاته سرايت وکړي، خو د نورو احاديثو څخه داسي ښکاري چي ناروغي سرايت کوي، په تطبيق کي يې مختلف قولونه راغلي دي، خو معتبر قول دادی چي د ناروغۍ ورتلل د يو شخص څخه و بل شخص ته د الله پاک تر قضاء او فيصلې پوري اړه لري، داسي نده چي که يوه سړيته يوه ناروغي ورغله نو ارومرو د بل إنسان څخه ورغلې ده که هغه نوای نو دغه ناروغي به د ته نه ورتلل، او دا هم يقيني خبره نده چي د ناروغ إنسان سره دي تماس نيول د ناروغۍ د إنتقال سبب سي، د جهالت د زماني د خلګو داسي عقيده وه چي جوړ سړيته ورغلې ناروغي هماغه ناروغي ده چي هغه بل إنسان ورباندي اخته وو، خو رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي: داسي نده. بلکي دغه سړيته ناروغي د هغه ذات په قضا باندي سوېده کوم چي د لومړني سړي د ناروغۍ فيصله يې کړېوه، نو إنسان بايد د ناروغۍ څخه پدې خاطر کرکه ونکړي چي که مي د ناروغ سره ارتباط ونيوی نو ارومرو يې ناروغي ماته راځي.

او " غول " ويل کيږي هغه تخيلي شيطان يا پيري ته چي د جاهليت په زمانه کي خلګو ورباندي عقيده درلودل. دوی پدې باور وه چي په دښت کي يو شيطان او ياپيری دی چي د إنسانانو څخه لاره ورکوي او يا إنسان ويروي خو رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي: داسي نده . د غول په نامه هيڅ شی نسته.

د" صفر " په تفسير کي هم مختلف اقوال راغلي دي خو مشهور قول يې دادی چي ددې څخه د صفر المظفر مياشته مراد ده.

د جاهليت د زماني خلګو به د صفرالمظفر په مياشتي باندي بد پالي کول، پدې مياشتي کي به يې سفر نکوی، پدې مياشتي کي به يې کوزده او واده نکول، دا مياشت به يې د آفتونو اوبلاګانو مياشت بلل او همدا راز نوري فاسدي عقيدې چي دوی ددې مياشتي په باره کي درلودلې.

خو رسول الله صلي الله عليه وسلم دغه ټولي رد کړې؛ داسي چي د صفرالمظفر د مياشتي په هکله چي خلګ کوم فاسد باور لري هغه درست ندی، پدې مياشت کي واده کول او سفرکول

هيڅ پروا نلري، او پدې میاشتي کي هيڅ ځانګړی مصیبت او غم نسته او نه هم دغه میاشت یوځانګړی عبادت اوطاعت لري ، د نورو میاشتو غوندي داهم یوه د دوولسو میاشتو څخه ده چي کال ورڅخه جوړدی.
نو دې میاشتي ته د غم او بلاګانو میاشت ویل او یا ددې میاشتي په تیریدلو باندي خوشاله کیدل او د میاشتي په آخره کي د خوشالئ مراسم نیول دا ټوله هغه شیان دي چي مسلمان یې په کولو باندي ګناهکاره کیږي او په کلکه باید ځان ورڅخه وساتي.

## مجازات کسي كه در بين امت مسلمه تفرقه مياندازد:

عَنْ عَرْفَجَةَ بْنِ شُرَيْحٍ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم : إِنَّهَا سَتَكُونُ بَعْدِي هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ وَهَنَاتٌ – وَرَفَعَ يَدَيْهِ – فَمَنْ رَأَيْتُمُوهُ يُرِيدُ تَفْرِيقَ أَمْرِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم وَهُمْ جَمِيعٌ ، فَاقْتُلُوهُ كَائِنًا مَنْ كَانَ مِنَ النَّاسِ.[سنن نسايي4021]
ترجمه: عرفجه بن شريح روايت ميكند كه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمود: زود است كه بعد ازمن حوادث زيادي بيايد – ودستان خود را بلند كرد – پس كسي را كه ديديد كه اراده پاشيدن كار امت محمد صلي الله عليه وسلم را دارد درحاليكه آنها باهم جمع باشند، پس آنرا بكشيد هركسي كه باشد از مردم.
توضيح: يعني اگر كسي را ديديد كه دربين امت اسلامي تفرقه مياندازد، وحدت وانسجام آنها را ازبين ميبرد پس اين شخص را بكشيد هركسي كه باشد، به رتبه، قوم وسابقه او نگاه نكنيد زيرا وحدت مسلمين مهمتر از اشخاص است.

## درخواست چوكي و مسىوليت را نكنيد!

يَا عَبدَ الرّحمن بن سمُرَةَ! لا تَسأَل الإمارَةَ ، فَإنّکَ إن أُعطِيتَها عَن غَيرِ مسأَلَةٍ أُعنتَ عليها، وإن أُعطِيتَها عَن مسأَلةٍ وُكِلتَ إلَيها»[صحيح البخاري 6622]



M.N.Mazharee

رسول الله صلي الله عليه وسلم به عبدالرحمن بن سمره ميگويد: خواهش امير بودن را نكن زيرا اگر بدون خواهش تو امارت براي تو داده شود خداوند ترا برآن همكاري وياري ميكند واگر بخاطر خواهش تو داده شود مسيوليت به تو واگذار ميگردد.

توضيح: يعني هيچوقت خواهش ودرخواست مسيوليت را نكن.

چنانچه در حديث ديگر آمده است:

إنّا واللّه لا نُوَلِّي هذَا العَمَلَ أحداً سَأَلَه، أو أحَداً حَرَص عليه»[صحيح مسلم 4821]

ترجمه: ما اين مسيوليت را به کسی که بخواهد نمی دهيم وهمچنان به کسی که حرص آن را داشته باشد.

## ماه صفرالمظفر ماه بدپالي نيست:

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ عَدْوَى وَلاَ غُولَ وَلاَ صَفَرَ ».[صحيح مسلم 5929]

ترجمه: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايد: سرايت مريضيها نيست، جن گم كننده راه انسان نيست وبه ماه صفر بدفالي نيست.

ياداشت: از حديث فوق معلوم ميشود كه ماه صفر هيچگونه نحوست وبدفالي ندارد.

موارد فوق چيزهاي هستند كه در زمان جاهليت مردم بر آنها باور داشتند ولي با آمدن اسلام، باور كردن بر آنها مردود گرديد.

براي لفظ" عدوي " تفسيرهاي زياد آمده است يكي از آنها رفتن مريضي يک شخص به شخص ديگر است، درين حديث صراحتا برچنين باوري رد شده است كه مريضي يک شخص به شخص

M.N.Mazharee

ديگر سرايت کند، اما از احاديث ديگر چنين برداشت ميشود که مريضي يک به شخص ديگر سرايت ميکند، پس ظاهرا در بين احاديث تعارض مشاهده ميشود.

در تطبيق اين دوحديث ورفع تعارض، اقوال مختلفي آمده است که معتبرترين آنها اينست که سرايت مريضي از يک مريض به مريض ديگر ارتباط به قضاء وفيصله خداوند عزوجل دارد، چنين نيست که اگر کسي مريض ميشود حتما مريضي از کسي ديگري به او سرايت کرده است، اگر او نمي بود به اين شخص هم اين مريضي نمي آمد.

اين سخن يقيني نيست، که تماس با شخص مريض حتما سبب مريضي بشود.

عقيده مردم زمان جاهليت چنين بود، که اگر کسي مريض ميشد آنها باور داشتند که اين مريضي حتما از فلان شخص مريض به او سرايت کرده است، اگر او نمي بود اين شخص با اين مريضي گرفتار نمي شد.

ولي رسول الله صلي الله عليه وسلم ميفرمايد: چنين نيست، بلکه مريضي اين شخص به قضاء وفيصله خداوند عزوجل است چنانچه کسي ديگري را به اين مريضي مبتلا کرده بود اين شخص را هم مبتلا به اين مريضي کرده است.

پس مسلمان بايد از هيچ مريض به اين خاطر تنفر نکند که اگر با او درتماس شدم حتما به مريضي اومبتلاء ميشوم.

ولفظ"غول" به آن شيطان وجن تخيلي گفته ميشود که مردم زمان جاهليت برآن باورداشتند.

آنها به اين باور بودند که در دشت يک شيطان وياجني وجود دارد که راه را از انسان گم ميکند وياهم انسان را ميترساند، ولي رسول الله صلي الله عليه وسلم اينرا رد ميکند ومي فرمايد بنام غول هيچ چيزي وجود ندارد.

در تفسير" صفر" هم اقوال گوناگون آمده است اما مشهورشان اينست که مراد از آن ماه صفر المظفر است.

مردم زمان جاهليت به ماه صفر المظفر بدفالي ميکردند، درين ماه به مسافرت نميرفتند، درين ماه عروسي وشيريني خوري را نمي کردند، اين ماه را ماه آفتها وبلاها ميدانستند وهمچنين بعضي ديگري از عقايد فاسد که درباره اين ماه داشتند.

ولي رسول الله صلي الله عليه وسلم اين عقيده آنها را رد ميکند ومي فرمايد: کدام عقيده که مردم درباره ماه صفر دارد هيچ حقيقت ندارد، درين ماه سفر کردن و عروسي کردن هيچ مشکلي ندارد، وهمچنان اين ماه هيچ مصيبت وغم خاصي ندارد، ونه هم کدام عبادت وطاعتي خاصي دارد.

اين ماه هم مانند يازده ماه ديگر يک ماه است که سال از آنهاتشکيل شده است.

پس اين ماه را ماه مصيبت گفتن وياهم با گذشتن اين ماه اظهار خوشحالي کردن ودر آخر اين ماه مراسم خوشحالي را گرفتن که اين ماه تير شده است همه شان براي مسلمان جايزنيست وباکردنش گناهکار ميشود.

## ذکر خدا را قرباني اولاد و اموال نکنيد!

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِکَ فَأُولَئِکَ هُمُ الْخَاسِرُونَ.[المنافقون 9 ]

ترجمه: اي کساني که ايمان آورده ايد، شما را مشغول نسازد اموال واولاد تان از ذکر خداوند عزوجل، وهرکسي اين کار را بکند پس او زيانکار است.

توضيح: درين آيه خداوند عزوجل از مشابهت بامشرکين ومنافقين منع ميکند؛ وآن اينکه نبايد مسلمان خود را با مال و اولاد خويش چنين مصروف بکند که ذکر خداوند عزوجل را فراموش بکند، که مراد از ذکر: توحيد، نماز، دعا وفرايض ديگر است.

وکسيکه با مال واولاد خود را چنين مصروف سازد پس يقينا او بطور کامل در خسران وزيان است.



M.N.Mazharee

## په دنیا کي د تقوی او رغبت پایلي:

**سمعت الفضيل بن عياض ، يذكر عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : « الزهد في الدنيا يريح القلب والبدن ، والرغبة في الدنيا تكثر الهم والحزن »[الزهد لإبن أبي الدنيا 278]**

ژباړه: فضیل بن عیاض د رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه روایت کوي چي ده وفرمایل: په دنیاکي تقوی زړه اوبدن آراموي، او په دنیا کي شوق او رغبت غم او پریشاني ډیروي.

توضیح: یعني څوک چي ددنیا سره دومره علاقه نه ساتي بلکي د هغې څخه لیري ګرځي او د الله په عبادت او ددین په خدمت باندي ځان مصروفه کوي نو هغه ته به الله پاک د زړه او بدن آرامي او سکون په برخه کړي اوڅوک چي په ژوند کي ددنیا ددنیوي مادیاتو سره مینه کوي د هغو سره شوق لري نو الله پاک ورباندي غمونه او مصیبتونه ډیر راوړي.

## ددنیا او اخرت پرتله کول:

**عن عون بن عبد الله: « إن الدنيا والآخرة في قلب ابن آدم ككفتي الميزان ، بقدر ما ترجح إحداهما تخف الأخرى ». [الزهد لإبن أبي الدنيا 281]**

ژباړه: عون بن عبدالله وایي: دنیا او آخرت د إنسان په زړه کي داسي دي لکه دوې پلې د ترازو هره یوه چي درنه سي هغه بله سپکه کیږي.

یعني ددنیا اوآخرت سره محبت او د هغو لپاره کار کول داسي دي چي په زړه کي د هرڅا ددنیا محبت ډیروي نو د آخرت محبت به لږوي اوکه د آخرت محبت ډیر وي ددنیا محبت به لږوي، همدا راز څوک چي ددنیا لپاره ډیرکارکوي نو د آخرت لپاره به یې کارکول لږوي او که د آخرت لپاره ډیر کارکوي نو ددنیا لپاره به یې کار کول لږوي.

M.N Mazharee

## د بې حيايۍ اوبې علمۍ زمانه:

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : اللَّهُمَّ لاَ يُدْرِكْنِي زَمَانٌ ، أَوْ لاَ تُدْرِكُوا زَمَانًا لاَ يُتَّبَعُ فِيهِ الْعَلِيمُ ، وَلاَ يُسْتَحَى فِيهِ مِنَ الْحَلِيمِ ، قُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الأَعَاجِمِ ، وَأَلْسِنَتُهُمْ أَلْسِنَةُ الْعَرَبِ.[ مسنداحمدبن حنبل 22930]

ژباړه: سهل بن سعد فرمايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: اى الله داسي زمانه په ماباندي مه وينې، يا داسي زمانه دي الله پاک په تاسو باندي نه ويني چي په هغې زمانې کي دپوه سړي متابعت نکيږي، او د حليم انسان څخه حياء نکيږي، زړونه ددوی به داسي وي لکه زړونه د (عجمو)کافرانو او ژبي به يې داسي وي لکه ژبي د(عربو) مسلمانانو.

توضيح: يعني داسي زمانه به راسي چي خلګ به داسي جوړ وي چي پدوی کي به د علم اوحياء اهميت دومره لږ سي چي د عالم متابعت به نکوي او د باحياء إنسان څخه به خلګ حياء نکوي، خبري به ډيري ښې او د مسلمانۍ خبري کوي خو زړونه به يې ډير کلک وي او په کفري باور باندي به لړلي وي.

تنبيه: دلته مراد د عربو څخه مسلمانان دي ځکه هغه وخت مسلمانان يواځي عرب وه او مراد د اعاجموڅخه کافران دي ځکه هغه وخت عجموته اسلام نه وو رسېدلی.

## شپږخلګ دغم اومصيبت څخه نه خلاصيږي:

عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ ؛ قَالَ:سِتَّةٌ لَا يَخْلُونَّ مِنَ الْكَآبَةِ : رَجُلٌ افْتَقَرَ بَعْدَ غِنًى ، وَغَنِيٌّ يَخَافُ عَلَى مَالِهِ التَّوَى ، وَحَقُودٌ ، وَحَسُودٌ ، وَطَالِبُ مَرْتَبَةٍ لَا يَبْلُغُهَا قَدْرُهُ ، وَمُخَالَطَةُ الْعُلَمَاءِ بِغَيْرِ عِلْمٍ .[المجالسة وجواهرالعلم 661]

ابوعبيده وايي:شپږ نفره دي چي هيڅ وخت به د مصيبت څخه خالي نوي: هغه څوک چي د بډايي توب وروسته مسکين سي. هغه سرمايه دار چي د خپل مال پرهلاکت باندي ويريږي.کينه ساتونکی، حسدکوونکی، غوښتونکی دهغي مرتبې چي دده قدر او توان هغې ته نسي رسيدلای (لاسته يې نسي راوړلای) او هغه څوک چي د علماؤ سره پداسي حال کي ځان ګډوي چي دی علم نلري.

توضيح: يعني ددغو شپږو کارونو کوونکي به تل په غم او مصيبت کي اخته وي:

1 – څوک چي د بډايي وروسته مسکين او ناداره سي ځکه چي ده خو په مال اومالدارۍ کي چرچې او خوندونه ليدلي وي اوس چي ورته نه رسيږي نوطبعا احساس دغم او مصيبت کوي او ياهم شايد د خلګو پورونهورباندي پاته سويوي اوس يې هغوی ورڅخه غواړي خو دی يې نسي آداء کولای چي طبعا د انسان آرامي ورڅخه اخلي.

2 – هغه سرمايه دار چي پرخپل مال باندي ويريږي د هغه څخه به ځکه د آرامۍ ژوند اخيستل سوی وي او په مصيبت باندي به اخته وي چي هرګړی به دی د ځان او مال لپاره د هلاکت او بربادۍ په فکر کي وي او هردم به احساس د خطر کوي چي طبعا دداسي فکر سره مصيبت مل وي.

3 – کينه ساتونکی او هغه څوک چي د نورو خلګو څخه د انتقام اخيستلو په فکر کي وي ارومرو به دی په مصيبت کي اخته کيږي ځکه کله چي دی انتقام نسي اخيستلای اوياهم کارونه دده پرطبيعت باندي برابرنوي ارومرو به يې پر اعصابوباندي داسي فشار راځي چي دی به احساس د نا آرامۍ کوي چي دا خپله لوی مصيبت دی.

4 – د نورو خلګوسره حسد کوونکی خو ترټولو ډير په عذاب وي ځکه چي د جانب مقابل يوه کوچنۍ مسکا پرده باندي تاسي تأثير کوي لکه ايتم بم، د کوم چاسره چي دی حسد کوي تل به

M.N.Mazharee

د هغه ژوند تعقيبوي خپل ژوند به ورڅخه پاته وي د هغه د ژوند د ورانولو فکرونه او سوچونه به يې په سرکي ګرځي چي طبعا تل به لکه ليونى داسي وي او تردې به نو لوى مصيبت چيري وي؟.

5 – او دهغي مرتبې اوچوکۍ غوښتونکى چي نه يې دى استعداد اوظرفيت لري او نه يې هم لاسته راوړلاى سي په مصيبت کي ځکه اخته وي چي تل داسي وي لکه دده څخه چي يوشى ورک وي، تر ويښه به په خوب خوشاله وي ځکه په خوب کي دى د هغې چوکۍ په اړه تصورات کوي، تر اجتماع به په يواځي والي باندي خوشاله وي ځکه چي دځانه سره يې په هکله خبري کوي او داسي نور حالات چي هرګوري يې ودته لوى مصيبت دى.

6 – او چي څوک ځان د علماؤ په ټولي کي داخلوي خوعالم نوي هغه به ځکه په مصيبت کي اخته وي چي تل به داسي شيان اوري چي دى به ورباندي نه پوهيږي، تل به داسي خبري ورڅخه کيږي چي هيڅوک به يې ورسره نه مني، تل به داسي تبصرې اوتحليلونه ورڅخه کيږي چي هيڅ عقلي لاسوند د ځانه سره ونلري، تل به داسي مسايل بيانوي چي هيڅ اعتبار او اهميت ونلري او تل به ځان ورته داسي معلوميږي لکه ليونى چي د هوښيارانو مجلس ته راټيل وهل سوى وي.

## د حسد په پرېښودلو باندي عمرډيريږي:

سَمِعْتُ الْأَصْمَعِيَّ يَقُولُ:رَأَيْتُ أَعْرَابِيًّا فِي بَنِي عُذْرَةَ قَدْ أَتَتْ لَهُ مِيةٌ وَعِشْرُونَ سَنَةً ، فَقُلْتُ لَهُ : مَا أَطْوَلَ عُمُرِكَ ؟ فَقَالَ : تَرَكْتُ الْحَسَدَ فَبَقِيتُ.[المجالسة وجواهرالعلم 660]

ژباړه: اصمعي وايي: ما يوسړى په بني عذره کي وليدى چي يوسل او شل کاله عمر يې وو، ماورته وويل چي څه شي ستاعمر ډير کى؟ ده وويل ما حسد پسې پرېښودى نو تردې وخته پوري پاته سوم.

## په اسمان او مځکي کي لومړنى ګناه:

عَن ابْنِ عُيَيْنَةَ ؛ قَالَ: الْحَسَدُ أَوَّلُ ذَنْبٍ عُصِيَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِ فِي السَّمَاءِ – يَعْنِي حَسَدَ إِبْلِيسَ آدَمَ – ، وَهُوَ أَوَّلُ ذَنْبٍ عُصِيَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِ [ فِي ] الْأَرْضِ ، وَحَسَدَ ابْنُ آدَمَ أَخَاهُ فَقَتَلَهُ.[ المجالسة وجواهرالعلم 659]

ژباړه: ابن عيينة وايي: حسد لومړنۍ هغه ګناه ده چي په آسمان کي په هغه باندي د الله جل جلاله نافرماني وسوه چي هغه د ابليس حسد وو د آدم عليه السلام سره. همدا راز حسد لومړنۍ هغه ګناه ده چي په ځمکه کي په هغه باندي د الله پاک نافرناني وسوه چي هغه حسد زوي دآدم عليه السلام(قابيل) وو چي دخپل ورور(هابيل) سره يې حسد وکړی اوهغه يې شهيد کړ.

## همدغه نيت درسره وساتی:

عن بِلاَلَ بْنَ سَعْدِ بْنِ تَمِيمٍ الدِّمَشْقِيَّ الْقَاصَّ ، قَالَ : لاَ تَنْظُرْ إِلَى صِغَرِ الْخَطِيئَةِ ، وَلَكِنِ انْظُرْ مَنْ عَصَيْتَ.[سنن كبري للنسايي11854]

ژباړه: دګناه کوچنيوالي ته مه ګوره بلکي ودېته وګوره چي د چا نافرماني دي کړېده؟.

حق په خلګو باندي مه پيژنه بلکي خلګ په حق باندي وپيژنه، يعني په خپله حق وپيژنه ترڅو چي اهل حق درته پوره معلوم سي.

## د خبري په ثبوت کي دليل ته ګوره!

عن علي رضي الله عنه قال: لا تنظر إلى من قال، وانظر إلى ما قال.[كنزالعمال 44218]

ژباړه:خبري کوونکي ته مه ګوره بلکي خبري ته يې وګوره.

توضيح:يعني چي کله د چاڅخه يوه خبره اورې د سړي شخصيت ته مه ګوره بلکي خبري ته يې وګوره چي څنګه خبره ده؟ د قرآن، حديث، ثابتي اجماع او سالم قياس سره برابره ده اوکه نده برابره؟ څوک چي د قرآن،حديث او شرعي اصولو په چوکاټ کي د ننه مدلله خبره درته کوي، دی که خپله هر ډول وي خوخبره يې درسته او سمه ده ورسره يې ومنه او څوک چي د شرعي اصولو پرخلاف خبره درته کوي، دده شخصيت چي هرڅومره درته قابل اعتماد وي خو

خبره يې تر هغه وخته ورسره مه منه ترڅو يې درته شرعي دليل نوي ويلی، او چې څوک درته صحيح او سم دليل وړاندي کړي بيايې خبره ورسره ومنه کڅه هم ستا د طبيعت پرخلاف وي او يا دي هم تر اوسه پوري د بل چاڅخه نوي اوريدلې ځکه حق، حق دی په هره ذريعه او هره لاره باندي چې سړيته معلوم سي، او دا هم مسلمه او منل سوې خبره ده چې شرعي اصول څلور دانې دي، قرآن، حديث، اجماع او قياس، ددغو اصول پر بنسټ او د سلف صالحينو د فهم پر اساس چې دکومې خبري اثبات وسي هغه قابل قبول ده کنه نو د هر سړي په خبره او په هر فاسد قياس او تخمين باندي هيڅه خبره نسي ثابتيدلای.

عن علي رضي الله عنه قال: لا تعرف الحق بالرجال اعرف الحق تعرف أهله.[إحياء علوم الدين]

ژباړه: د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې ده وفرمايل: حق په خلګو باندي مه پيژنه، ته حق وپيژنه اهل حق خپله پيژني.

## د علماؤ سپکاوی مکوی!

عن علي رضى الله عنه أنه قال : «من استخف بالعلماء ذهبت آخرته» (آداب الملوک للثعالب)

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: هرڅوک چې د علماؤ سپکاوی وکړي آخرت به يي وران سي.

## جزاي کسيکه مسلمان را اهانت ميکند:

جابر بن عبد الله وأبا طلحة الأنصاري يقولان : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ما من امرى يخذل امرأ مسلماً في موضع تنتهک فيه حرمته ، وينتقص فيه من عرضه إلا خذله الله في موطن يحب فيه نصرته ، وما من امرى ينصر مسلماً في موضع ينتقص فيه من عرضه ، وينتهک فيه من حرمته إلا نصره الله في موطن يحب فيه نصرته.[الاحكام الشرعية للاشبيلي]

ترجمه: جابر بن عبدالله وابوطلحه رضي الله عنهما از رسول الله صلي الله عليه وسلم روايت

میکند، که رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمود: هیچ کسي نیست که مسلمان را درجاییکه آبرویش میرود بي حرمتي وآبروریزي کند مگر اینکه خداوند عزوجل اورا خوار خواهد نمود درجاییکه او دوست دارد کسي کمکش بکند، ونیست کسي که مسلمان را درجاییکه بي حرمتي وآبروریزي میشود کمک بکند مگر اینکه خداوند عزوجل او را نصرت خواهد کرد درجاییکه او دوست دارد کسي نصرتش بکند.
توضیح: یعني کسي که مسلمان را اهانت وبي حرمتي میکند خداوند عزوجل او را در سختي و روز قیامت خوار وذلیل خواهد نمود وکسي که آبروي مسلمان را حفاظت میکند خداوند عزوجل اورا در سختي و روزقیامت نصرت خواهد کرد.

## په ناخبرۍ کي د تهمت ویلو سزا:

عن ابن عمر،قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من بهت مؤمنا،أو مؤمنة بغير علم ،حبسه الله في ردغة الخبال،حتى يخرج مما قال،وليس بخارج.[التوبيخ والتنبيه للاصبهاني 212]
ژباړه: ابن عمر رضي الله عنه وايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمایل: څوک چي پرمسلمان باندي بېله علمه تهمت ولګوي الله پاک به يې په لوشو کي د چتلیو د جهنمیانو بندي کړي ترڅو چي دی د هغه څخه وځي چي ده ویلي دي(یعني د هغه تهمت عذاب ویني) او دی د هغه څخه وتونکی ندی.( یعني ددې عذاب څخه دی نه خلاصیږي).

## ښکلي څو عربي د پند څخه ډک شعرونه د پښتو ژباړي سره:

ياهاتكاً حرم الرجال وتابعاً
طرق الفساد فأنت غير مكرمِ
ای څیرونکې د حرمت د خلکو او تلونکې پر لارو د فساد ته عزت نلري!
إن الزنا دين إذا أقــرضته

كان الوفاء من أهل بيتک فاعلم

زناکول پور دی چي کله يې ته واخلې نو پدې باندي پوه سه چي ستاکورنۍ به يې آداء کوي

من يَزنِ يُزنَ به ولو بجداره

إن كـــنت يا هذا لبيباً فاعلم

څوک چي زنا وکړي نو زنا به ورسره کيږي، کڅه يې هم دديوال سره وي، نو اي سړيه که عقل لرې پوه سه!

من يَزنِ في قومٍ بألفي درهم

في بيته يـــزنى بربع الدرهم

څوک چي په يوقوم کي په دوه زره درهمه زنا کوي، دده په کور کي به په څلورمه د يوه درهم زنا کيږي.

يادونه: عربي شعرونه د بل چا دي خو ژباړه يې ماکړېده.

## په هر کورکي چي طالب العلم وي هلته به برکت وي:

عن انس بن مالک قال: كان أخوان على عهد النبي صلى الله عليه و سلم فكان أحدهما يأتي النبي صلى الله عليه و سلم والآخر يحترف فشكى المحترف أخاه إلى النبي صلى الله عليه و سلم فقال لعلک ترزق به.[سنن ترمذي2345]

قال ابو عيسى هذا حديث حسن صحيح

قال الشيخ الألباني : صحيح

ژباړه: انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي دوه وړونه وه يويې د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه راتلی ( تعليم يې کوی) هغه بل يې کارکوی، هغه کارکوونکی راغی رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يې د خپل ورور څخه شکايت وکړی، رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل: شايد تاته به دده په خاطر رزق درکول کيږي.

M.N.Mazhar

توضیح: یعني دوه وروڼه وه چي یو یې طالب العلم وو پر رسول الله صلي الله علیه وسلم یې سبق وایه هغه بل یې تاجر وو کار یې کوی، تاجر راغی رسول الله صلي الله علیه وسلم ته یې د خپل ورور د لاسه شکایت وکی چي زه کارکوم زما ورور کار نکوي بلکي راځي ستاسر درس وایي، رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ته څه خبر یې شاید تاته چي کومه روزي اوکوم رزق درکول کیږي هغه به ستا د همدغه ورور په برکت وي.

نو موږ باید پدې باندي خپل سرخلاص کړو چي د هرچا په کورکي د طالب العلم وجود یو لوی نعمت دی شاید زموږ ډیري لویې کورنۍ به د هغه طالب العلم په برکت باندي روزي خوري چي ددوی په کورکي اوسیږي.

## زموږ څخه پرموږ باندي:

دعبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل:

1. په هر قوم کي چي د غنیمت څخه غلاکیدل ددوی په زړونوکي به الله پاک ددښمن څخه ویره اچوي.
2. په هر قوم چي زنا کیدل په دوی کي به الله پاک مرګ ډیر عاموي.
3. هر قوم چي په ترازوکي خیانت کوی پر دوی باندي به الله پاک رزق او روزي بنده کړي.
4. په هر قوم کي چي پر ناحقه فیصلي کیدلې (یعني د الله د قانون څخه بغیر په نورو شیانوباندي فیصلي کیدلې) په دوی کي به الله پاک د وینې تویېدل (مرګ) ډیر کړي.
5. په هر قوم کي چي په عهد او وعدې باندي وفا نه کیدل الله پاک به پر دوی باندي ددوی دښمن مسلط کړي. [موطأامام محمد861]

## د درو نفرو پسې خبري کول غيبت ندی:

قال عيسى بن دينار:لا غيبة في ثلاث:إمام جاير وفاسق معلن فسقه وصاحب بدعة. [المنتقى 7 / 312]

ژباړه: عيسي بن دينار وايي: د درو نفر پسې خبري کول غيبت ندی:

1- ظالم باچا.

2- ښکاره فاسق.

3- بدعتي.

ظالم باچا هغه څوک دی چي د الله د قانون څخه بغير په بل قانون باندي حکم کوي او ياهم د خلګوسره ظلم کوي.

ښکاره فاسق هغه څوک دی چي په ښکاره توګه ګناه کوي.

بدعتي هغه څوک دی چي په دين کي د ځانه څخه نوي شيان پيداکوي.

## درې غټ افتونه:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ : أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِالثَّلاَثِ الْفَوَاقِرِ ، قَالَ : وَمَا هُنَّ ؟ قَالَ : إِمَامٌ جَايِرٌ ، إِنْ أَحْسَنْتَ لَمْ يَشْكُرْ , وَإِنْ أَسَأْتَ لَمْ يَغْفِرْ وَجَارُ سَوْءٍ إِنْ رَأَى حَسَنَةً غَطَّاهَا , وَإِنْ رَأَى سَيِّئَةً أَفْشَاهَا وَامْرَأَةُ السَّوْءِ إِنْ شَهِدْتَهَا غَاظَتْكَ , وَإِنْ غِبْتَ عَنْهَا خَانَتْكَ.[مسندابن ابي شيبة17430]

ژباړه: آيا زه تاسو په درودانو غټو آفتونوباندي خبرکړم؟:

1- ظالم باچا، که ښه ورسره وکړې شکر نه باسي اوکه بد ورسره وکړې بخښنه نه درته کوي.

2- بد ملګری، که نيکي درڅخه ويني پټوي يې او که بدي درڅخه ويني إفشاء کوي يې.



M.J. Mazharee

3- بده ښځه، چې ورسره یې بد درڅخه وړي اوکه ورڅخه غایب سي خیانت درسره کوي.

## پر درو نفرو باندي الله پاک ډیر رحمت کوي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : إِنَّ اللَّهَ لَيَضْحَكُ إِلَى ثَلاَثَةٍ : لِلصَّفِّ فِي الصَّلاَةِ ، وَلِلرَّجُلِ يُصَلِّي فِي جَوْفِ اللَّيْلِ ، وَلِلرَّجُلِ يُقَاتِلُ ، أُرَاهُ قَالَ : خَلْفَ الْكَتِيبَةِ. [سنن ابن ماجة 200]

ژباړه: د ابوسعید خدري رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی، چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: الله پاک ودرو نفروته خاندي 1- هغه چاته چي د لمانځه لپاره په صف کي دریږي .2 – هغه چاته چي د شپې په مینځ کي لمونځ کوي، 3 – د هغه چالپاره چي جنګ (جهاد) کوي، او زه ګمان کوم چي ویل یې د صف شاته.

توضیح: دلته د خندا څخه مراد ډیر رحمت کول دي، لکه چي په جامع الصغیر کي یې ددې حدیث وروسته داسي لیکلي: والضحک هنا کنایة عن إدرار الرحمة رضا عنهم.[جامع الصغیر 1797]

یعني خندا دلته کنایه د تویولو څخه د رحمت ده، پخاطر د خوشحالۍ د الله پاک ددوی څخه. الله پاک دي مو ددغه درو ډلو څخه وګرځوي، چي هم مسجد ته د لمانځه لپاره ولاړسو، او په جماعت کي د مسلمانانو سره صفونو کي ودریږو چي الله پاک راباندي ورحمیږي، او د شپې هم تهجد وکړو چي د الله د رحمت مستحق وګرځو، او د الله په لاره کي جهاد هم وکړو چي الله پاک راباندي خپل ځانګړي اوخاص رحمتونه وکړي..

## نوي کالي، ښه ژوند، مرګ د شهادت:

عَن ابنِ عُمَرَ ، أنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وسَلَّمَ : رَأى عَلَى عُمَرَ قَميصًا أَبيَضَ فَقَالَ : ثَوبُكَ هَذَا غَسِيلٌ أَمْ جَدِيدٌ ؟ قَالَ : لاَ ، بَلْ غَسِيلٌ . قَالَ : الْبَسْ جَدِيدًا ، وَعِشْ حَمِيدًا ، وَمُتْ شَهِيدًا.[سنن ابن ماجة3558]

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله تعالي عنهما څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم حضرت عمر رضي الله تعالي عنه وليدی چي سپين قميص يې اغوستی وو، نويې ورته وويل: دا کالي دي پرېولي اوکه نوي دي؟ ،ده ورته وويل: پرېولي دي. رسول اکرم صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل: نوي کالي واغونده، ښه ژوند وکړه، او په شهادت باندي مړشه.

توضيح: دلته پدغه درو جملوکي امر راغلی دی، خو مراد ورڅخه دعا ده يعني الله دي تاته نوي کالي درکړي او تاته دي الله ښه ژوند درکړي او الله دي شهادت ستا په برخه کړي. الله پاک دي زموږ په حق کي هم دغه دعا قبوله کړي.

## د جهاد د پرېښودلو عذاب:

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وسَلَّمَ قَالَ : مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ ، أَصَابَهُ اللَّهُ سُبْحَانَهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ.[سنن إبن ماجه2762]

ژباړه: دابي امامة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي خپله جهاد ونکړي او يا مجاهد سمبال نکړي ، او ياخپل په کورنۍ کي په اخلاص باندي مجاهد پرې نږدي، نو الله پاک به ورباندي مخکي تر ورځي د قيامت لويه بلا نازله کړي.

توضيح: يعني چي څوک په خپل ژوندي کي، خپله جهاد ونکړي، او نه هم بل مجاهد ته دجهاد إمکانات برابر کړي، او نه هم په خپلو اولادونو کي په إخلاص باندي مجاهد ورروزي، نو الله پاک به مخکي تر ورځي د قيامت ورباندي لويه بلا او آفت نازل کړي.

نکته: ملاعلي قاري رحمه الله په مرقات کي ويلي دي: ولي يې په دوو وروستنيو جملو کي د " لم " لفظ تکرار نکړی ؟ پخاطر ددې چي دېته اشاره وسي چي د مجاهد سمبالول او په خپلو اولادونو کي مجاهد روزل داسي ندي لکه پخپله جهاد کول، يعني د پخپله جهاد کولو ثواب او مرتبه ډېره او لوړه ده.

## د ژبي ساتل، دخښم کنترول کول او الله پاک ته عذر کول:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِکٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ خَزَنَ لِسَانَهُ سَتَرَ اللهُ عَوْرَتَهُ ، وَمَنْ كَفَّ غَضَبَهُ كَفَّ اللهُ عَنْهُ عَذَابَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَنِ اعْتَذَرَ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ قَبِلَ عُذْرَهُ ". [ شعب الايمان 7958]

ژباړه: د حضرت انس رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي خپله ژبه وساتي الله پاک به يې عورت پټ کړي، او څوک چي خپل خښم بند کړي، الله پاک به د قيامت په ورځ خپل عذاب ورڅخه بند کړي، او څوک چي الله پاک ته عذر وکړي نو الله پاک به يې عذر قبول کړي.

## مسلمانه!!! خپل قدر اومرتبه وپيژنه!

عَنْ أَبِي مُوسَى ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ جِيءَ بِالْيَهُودِ وَالنَّصَارَى ، فَقِيلَ : هَذَا فِدَاؤُكَ مِنَ النَّارِ يَا مُسْلِمُ ، يَعْنِي يَدْفَعُ إِلَى كُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ رَجُلاً مِنْهُمْ.[مسندالبزار 3198]

ژباړه: د ابوموسي رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کله چي ورځ د قيامت سي، نو يهود او نصاري را وغوښتل سي، ورته وويل سي دغه ستا فديه ده د اور څخه أی مسلمانه! يعني هرمسلمان ته يو کافر ورکوي چي د هغه د ځايه يې و دوږخ ته ور واچوي.

M.N. Mazharee

توضیح: الله پاک مسلمان ته پرکافر باندي دومره فضیلت ورکړی دی چي په آخرت کي یې کافر د مسلمان لپاره فدیه ګرځولیده، إمام نووي رحمه الله فرمايي: الله پاک و هر چاته په جنت او دوږخ کي ځای ټاکلی دی ، نوکله چي مسلمان جنت یوسي ددې په مقابل کي کافر بیا و دوږخ ته ځي، نو داسي کیږي لکه کافر چي ددغه مسلمان قرباني اوفدیه سوه.[شرح سنن ابن ماجة].

نو د هرمسلمان لپاره لازمه ده چي خپل کرامت او شرافت وپیژني، د ځان او کافر تر مینځ په توپیر باندي خپل سرخلاص کړي، کافر ته په دنیا کي په درنه او لوړه سترګه و نه ګوري، هغه د ځان لپاره مشر او مشاور جوړ نکړي، د هغه سره د شرعي حدودو څخه بهر دوستي ونکړي، د هغه سره د مسلمانانو پرضد تړون او پیمان لاسلیک نکړي، هغه د ځان دښمن وبولي او په عمل کي یې هم باید ثابته کړي.

## د خپل قوم سره محبت قوم پرستي نده!

عَنْ عَبَّاد بْنِ كَثِيرٍ الشَّامِيِّ ، عَنِ امْرَأَةٍ مِنْهُمْ يُقَالُ لَهَا فُسَيْلَةُ ، قَالَتْ : سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ ، سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ، أَمِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يُحِبَّ الرَّجُلُ قَوْمَهُ ؟ قَالَ : لاَ ، وَلَكِنْ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يُعِينَ الرَّجُلُ قَوْمَهُ عَلَى الظُّلْمِ.[سن إبن ماجة 3949]

ژباړه: عباد بن کثیر شامي د یوې ښځي څخه چي په فسیلة باندي یادېدل روایت کوي چي دا وایي: ما د خپل پلار څخه واوریدل چي ویل یې: ما د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم څخه وپوښتل چي آیا دا قوم پرستي ده چي یوڅوک د خپل قوم سره محبت لري ؟ ده وفرمایل: نه.... بلکي قوم پرستي داده چي څوک د خپل قوم سره پر ظلم باندي مرسته وکړي.

توضیح: یعني د خپل قوم سره محبت او دوستي کول قوم پرستي نده، کومه چي رسول اکرم صلي الله وعلیه یې منع کړېده، بلکي قوم پرستي داده چي څوک د خپل قوم سره پر ناحقه او ظلم باندي مرسته کوي، هغوی چي کوم کارونه د ظلم کوي دی یې ورسره تأییدوي، نو دغه قوم پرستي ده او حرامه ده کومه چي رسول صلي الله علیه وسلم یې په هکله فرمايي: لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا

إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ ».[سنن ابي داود باب في العصبية حديث 5123]

يعني :زموږڅخه ندی هغه څوک چي خلګ قوم پالني ته راوبولي. او زموږڅخه ندی هغه څوک چي پر قوم پالني باندي جنګ وکړي. او زموږ څخه ندی هغه څوک چي پر قوم پالني باندي مړسي.

## د فاسقانو فسق مه پټوی!

عن بهز بن حكيم عن ابيه عن جده قال خطبهم رسول الله صلى الله عليه و سلم فقال حتى متى ترعون عن ذكر الفاسق هتكوه حتى يحذره الناس.[المعجم الاوسط 4372]

ژباړه: بهز بن حکیم د خپل پلار څخه روایت کوي چي دده نیکه ورته وویل: رسول اکرم صلي الله علیه وسلم دوی ته خطبه وویل نو يې وفرمایل: ترڅه وخته به تاسو د فاسق د یادولو څخه ډډه کوی؟ رسوا يې کړی ترڅو چي خلګ ورڅخه ځان وساتي.

توضیح: یعني کله چي په تاسو کي فاسق سړی پیدا کیږي، نو د هغه فسق د خلګو څخه مه پټوی، بلکي خلګ يې په فسق باندي خبرکړی ترڅو چي خلګ ورڅخه ځان وژغوري.

## فاسق حرمت نلري:

عَنِ الْحَسَنِ قَالَ : لَيْسَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْفَاسِقِ حُرْمَةٌ.[الادب المفرد 1018للبخاري]

ژباړه: حسن رضي الله فرمايي: ستا او فاسق تر مينځ هيڅ حرمت وجود نلري.

توضیح: دلته هدف دادی چي فاسق باید دده د فسق له وجهي خلګوته رسوا کړې ترڅو چي خلګ دده څخه ځان وساتي داسي مکوه چي تاته يې فسق معلوم وي خو ته يې د خلګو څخه پټوې او یاهم سره ددې چي ته يې په فسق باندي خبريې دده صفت او مدحه کوې.

M.N.Mazharee

## فاسق عالم:

عَنْ هَرِمِ بْنِ حَيَّانَ أَنَّهُ قَالَ : إِيَّاكُمْ وَالْعَالِمَ الْفَاسِقَ فَبَلَغَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ، رَضِيَ الله عَنْهُ فَكَتَبَ إِلَيْهِ وَأَشْفَقَ مِنْهَا مَا الْعَالِمُ الْفَاسِقُ قَالَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ هَرِمٌ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ وَاللَّهِ مَا أَرَدْتُ بِهِ إِلاَّ الْخَيْرَ يَكُونُ إِمَامٌ يَتَكَلَّمُ بِالْعِلْمِ وَيَعْمَلُ بِالْفِسْقِ فَيُشَبِّهُ عَلَى النَّاسِ فَيَضِلُّوا..[سنن دارمي 300]

ژباړه: هرم بن حيان وويل: اى خلګو ځانونه د فاسق عالم څخه وساتى! دده دغه خبره حضرت عمررضي الله عنه ته ورسيدل هغه ددې خبري څخه وويريدى وهرم بن حيان ته يې وليکل: فاسق عالم کوم يو دى؟ هرم ورته وليکل: اى اميرالمؤمنينه! زما دي په الله باندي قسم وي چي ما ددې خبري څخه د خير اراده درلودله، فاسق عالم هغه څوک دى چي خلګوته د علم خبري کوي خو خپله د فسق کارونه کوي نو د خلګو څخه لاره ورکوي ترڅوچي هغوى ګمراهان کيږي.

توضيح: هدف د اعتراض د حضرت عمررضي الله به شايد لدې وجهي وي چي ته څنګه عالم به فسق باندي متصف کوې؟ پداسي حال کي چي پداسي کار کي د عالم توهين دى او توهين د عالم حرام دى. د هرم بن حيان هدف دادى چي زما هدف ورڅخه د علم او عالم توهين ندى بلکي زما هدف هغه څوک دى چي خلګو ته د علم او ښې خبري کوي خو خپله فسق کوي، چي کله خلګ دده وينا او عمل سره په ټکر کي ويني په نتيجه کي لاره ورڅخه ورکيږي او ګمراهان کيږي.

## که د خپل دين عزت غواړې نو....

عَنْ عَبْدِ الله بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : مَنْ أَرَادَ أَنْ يُكْرِمَ دِينَهُ فَلاَ يَدْخُلُ عَلَى السُّلْطَانِ ، وَلاَ يَخْلُوَنَّ بِالنِّسْوَانِ ، وَلاَ يُخَاصِمَنَّ أَصْحَابَ الأَهْوَاءِ.[مسند دارمي 309]

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چي هرڅوک غواړي د خپل دين عزت وکړي نو د پاچا څخه دي نه ځي، د بيګانه ښځو سره دي خلوت نکوي او د اهل هواء خلګو سره دي جرو بحث نکوي.

توضیح: هدف ددې خبري څخه چي د پاچا څخه دي نه ځي دادی: چي کوم پاچاهان چي ظالمان او فاسقان وي او ته پدې باندي پوهیږي چي ستا په ورتللو دی ددې پر ځاي چي ستاڅخه متأثر سي تا ترخپل تأثیر لاندي راوړي او ستا د حضور څخه ناوړه او خپل په ګټه استفاده کوي نو ددغه ډول باچاهانو څخه باید سړی ځان وساتي کنه نو دین به یې په خطر کي ولویږي.
همدا راز د نامحرم او بیګانه ښځو سره دي خلوت نکوي او کوم خلګ چي بي بندوباره او فاسق خلګ دي د هغوی سره دي په خبرو کي جروبحث نکوي.

## نن همداسي وخت دی:

عن عبد الله بن عمرو عن النبي صلى الله عليه و سلم قال : إِذَا رَأَيتَ أُمَّتِي لا يَقُولُونَ لِلظَّالِمِ مِنهُم أَنتَ الظَّالِمُ فَقَد تُوُدِّعَ مِنهُم.[مسند احمد بن حنبل 6776]
ژباړه: د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: کله چي دي زما امت ولیدی چي خپل ظالم ته یې ظالم نه ویل نور دي ددوی سره خدای په امانی وسي (ددوی څخه دي لاس ووینځل سي).
توضیح: یعني کله چي زما پر امت باندي داسي حالت راغی چي په دوی ظالمان پیدا سوه خو دوی خپل ظالم ته ظالم نه ویل او هغه یې ظالم نه بلی او یایې هم د هغه په ظلم باندي اقرار نکوی او یایې هم د هغه د ظلم مخه نه نیول نو پدې وخت کي زما امت هیڅ پکار ندی ددوی څخه دي سړی لاس ووینځي ځکه چي پدې وخت کي ددوی وجود او عدم یو ډول دی، لکه په عدم چي یې کومه وراني نه راځي په وجود یې کومه وداني نه ر اځي.
او دوی ځانونه په خپل لاس باندي ددې مستحق ګرځولیدي چي الله پاک ورته عذاب ورکړي.

## د باچا په اصلاح کي د وزیر رول:

عَنْ عَايِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِالأَمِيرِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ صِدْقٍ إِنْ نَسِىَ ذَكَّرَهُ وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهِ غَيْرَ ذَلِكَ جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ سُوءٍ إِنْ نَسِىَ لَمْ يُذَكِّرْهُ وَإِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ »[سنن ابي داود2934]

ژباړه: د حضرت عایشې رضي الله تعالي عنها څخه روایت دی، چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: کله چي الله پاک د یو امیر لپاره خیر غواړي، د هغه لپاره یو صادق وزیر په نصیب کړي، که د هغه یوشی هیرسي نودی یې ور پیاده وي، اوکه یې په یاد وي نویې مرسته کوي، او چي کله الله ورته د خیر څخه ماسوا بل شی ورته اراده وکړي، نو د هغه لپاره بد وزیر په برخه کړي، کچیري د هغه یوشی هیرسي دی یې نه ور په یاد وي، او که یې یاد وي نو مرسته یې نکوي.

توضیح: ددې حدیث څخه له ورایه داسي ښکاري چي د امیر او مشر په اصلاح او د هغه د کار په سمون کي یو مشاور ډیر رول لري، نو باید هر هغه څوک چي ویو مشرتوب ته رسیږي د ځان لپاره مصلح او ښکلی مشاور غوره کړي نه یو فاسق او دیموکرات إنسان.

خو له بده مرغه چي اوس زموږ د زمانې پاچاهان او وولس مشران خپله سم خلګ ندي مرستیالان او مشاروین خو یې لا هلته پریږده.

## صدقه د مسلمان لپاره د قیامت ورځ کي سایه ده:

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ظِلُّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ ". [شرح مشكل الآثار للطحاوي3836]

ژباړه: عقبه بن عامر جهني وايي: رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل:د مسلمان لپاره سایه د قیامت په ورځ کي دده صدقه ده.

توضیح: یعني څوک چي په دنیا کي صدقه ورکړي او د خلګو سره احسان وکړي نو د قیامت په ورځ کي به دغه دده صدقه دده لپاره سایه سي پداسي حال کي چي پدې ورځ کي إنسان سایې ته ډیره احتیاجي لري ځکه پدې ورځ کي ډیره سخته ګرمي وي.

دا چي صدقه به يې ښنګه سايه وي؟ پدې هکله ملا علي قاري رحمه الله په خپل کتاب "مرقات" کي :ليکلي: الله پاک به يې د صدقې ثواب ورته سايه کړي او يا به يې صدقه خپله سايه کړي، او کله کله ورڅخه مراد هغه صدقه کيږي چي په دنيا کي حقيقي سايه ولري لکه خيمه او داسي نور...

## بد ترينه د خلګو:

عن سَعِيدٍ الْخُدْرِىَّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ الرَّجُلَ يُفْضِى إِلَى امْرَأَتِهِ وَتُفْضِى إِلَيْهِ ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا ».[صحيح مسلم 3615]

ژباړه: سعيد خدري رضي الله تعالي عنه فرمايي: رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: په يقين باندي بد ترينه او شريرترينه د خلګو د الله په نزد د قيامت په ورځ کي هغه سړی دی، چي خپلي ښځي ته دې کيږي، اوربنځه يې وردته دې کيږي، وروسته يې بيا راز په خلګوکي خپروي.

توضيح: يعني کوم انسان چي د ځان او د خپلي ښځي تر مابين اسرار او پټ رازونه په خلګو کي بيانوي اوخپروي يې، هغه بد ترينه د ټولو خلګو دی.

## په روژې کي به نفل په فرضو او يوفرض په اويا 70 فرضو حسابل کيږي:

عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ، قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ فَقَالَ: " يا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْأَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ، شَهْرٌ مُبَارَكٌ، شَهْرٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، جَعَلَ اللهُ صِيَامَهُ فَرِيضَةً، وَقِيَامَ لَيْلِه تَطَوُّعًا، مَنْ تَقَرَّبَ فِيهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيهِ كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ، وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ، وَشَهْرُ الْمُوَاسَاةِ، وَشَهْرٌ يُزَادُ فِي رِزْقِ الْمُؤْمِنِ، مَنْ فَطَّرَ فِيهِ صَايِمًا كَانَ لَهُ مَغْفِرَةً لِذُنُوبِهِ، وَعِتْقَ رَقَبَته مِنَ النَّارِ، وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِه مِنْ غَيْرِ أَنْ يُنْقَصَ مِنْ أَجْرِه شَيْءٌ " قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، لَيْسَ كُلُّنَا يَجِدُ مَا يُفْطِرُ الصَّايِمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُعْطِي اللهُ هَذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَايِمًا عَلَى

مَذْقَة لَبَنٍ أَوْ تَمْرَةٍ أَوْ شَرْبَةِ مِنْ مَاءٍ، وَمَنْ أَشْبَعَ صَايِمًا سَقَاهُ اللهُ مِنْ حَوْضِي شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتَّى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ، وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوكِهِ فِيهِ غَفَرَ اللهُ لَهُ وَأَعْتَقَهُ مِنَ النَّارِ " زَادَ هَمَّامٌ فِي رِوَايَتِهِ: " فَاسْتَكْثِرُوا فِيهِ مِنْ أَرْبَعِ خِصَالٍ، خَصْلَتَانِ تُرْضُونَ بِهَا رَبَّكُمْ، وَخَصْلَتَانِ لَا غِنَى لَكُمْ عَنْهُمَا، فَأَمَّا الْخَصْلَتَانِ اللَّتَانِ تُرْضُونَ بِهَا رَبَّكُمْ: فَشَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَتَسْتَغْفِرُونَهُ، وَأَمَّا اللَّتَانِ لَا غِنَى لَكُمْ عَنْهُمَا فَتَسْأَلُونَ اللهَ الْجَنَّةَ، وَتَعُوذُونَ بِهِ مِنَ النَّارِ .[شعب الايمان 224]

ژباړه: د سلمان فارسي رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم موږ ته په آخرنۍ ورځي کي د شعبان خطبه وویل، او و یې فرمایل: ای خلګو! خدای پاک پر تاسو باندي ډېره لویه میاشته سایه کړېده، ډېره مبارکه میاشت، هغه میاشت چي په هغې کي یوه شپه ده چي تر زرو میاشتو بهتره ده(شپه د قدر) روژه یې الله پاک پر تاسو باندي فرض کړېده او د شپې ولاړه یې نفل کرځولېده، څوک چي پدې میاشتي کي په یوه خصلت د خیر ځان دې کړي، نو داسي دی لکه هغه څوک چي په نورو میاشتو کي یې فرض أداء کړی وي او چي څوک پدې میاشتي کي فرض آداء کړي نو داسي دی لکه په نورو میاشتو کي چي اویا 70 فرضه آداء کړي، دا میاشت د صبر ده او د صبر ثواب جنت دی، او دا میاشت د مشارکت اووسعت د رزق ده، پدې میاشتي کي د مؤمن روزي ډېرېږي، څوک چي پدې میاشتي کي روژه نیوونکي ته روژه مات ورکړي نو دا به دده د ګناهونو لپاره بخښنه وي او دده لپاره به د اور څخه آزادي وي او دده لپاره به د هغه (روژه نیوونکي) په څیر مزدوري وي بیله دې چي د هغه د مزدورۍ څخه دي کوم شی لږشي. نو موږ وویل: یارسول الله! زموږ هریو خو داسي شی نسي موندلی چي د روژه نیوونکي روژه پرې ماته کړي، نو رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: الله پاک دغه ثواب هر هغه چاته ورکوي چي روژه نیوونکي ته روژه ماتی په یو غړپ شیدو باندي او یا په یوې دانې خرما باندي او یا په یوغړپ اوبو باندي برابر کړي، او چي څوک روژه نیوونکی موړ کړي، نو الله پاک به دی زما د حوض په داسي اوبو باندي اوبه کړي چي بیا ګرسره تږی نسي ترڅو چي و جنت ته داخلیږي، او دا داسي میاشت ده چي اوله یې رحمت دی

مابين يې بخښنه ده، او آخره يې د اورڅخه آزادي ده، څوک چي د خپل مريي څخه پدې مياشت کي کار سپک کړي نو الله پاک به ورته بخښنه وکړي او د اور څخه به يې آزاد کړي.
همام په روايت کي دا هم ورسره اضافه کړيدي: چي تاسو پدې مياشتي کي څلور خصلتونه ډير وکړی، دوه هغه خصلتونه دي چي تاسو الله پاک پرې خوشحاله کوی، او دوه داسي خصلتونه دي چي تاسو د هغو څخه چاره نلری، هغه دوه خلصتونه چي تاسو وربا‌ندي الله پاک خوشحاله کوی پدې باندي شاهدي ده چي الله پاک يو دی او شريک نلري او بل د الله پاک څخه طلب د بخښني دی، او هغه دوه خصلتونه چي تاسو د هغو څخه چاره نلری، هغه دادي چي د الله پاک څخه غوښتنه د جنت وکړی او د اور څخه د ځان لپاره نجات وغواړی.

## د نفسي غوښتنو پسې تلل رسوايي لري:

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ : إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَتخَوَّفُ عَلَيْكُمُ اثْنَتَانِ : طُولُ الأَمَلِ ، وَاتِّبَاعُ الْهَوَى ، فَأَمَّا طُولُ الأَمَلِ فَيُنْسِي الآخِرَةَ ، وَأَمَّا اتِّبَاعُ الْهَوَى فَيَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ.فضايل الصحابة لأحمدبن حنبل 881]
حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: هغه شيان چي زه يې په هکله ستاسو په باره کي ډير ويريږم دوه شيان دي: اوږد اميد او د نفسي غوښتنو متابعت، اوږد اميد أخرت هيروي او د نفسي غوښتنو متابعت إنسان د حق څخه منع کوي.
خلاصة دا چي دوه شيان سبب د هلاکت دانسان ګرځي.
لومړی اوږد اميد او دويم د نفس د غوښتنو پسې تلل. نن موږ ګورو چي ټول هغه انسانان چي د نفس د غوښتنو پر بنياد يې خپل کارونه شروع کړيوي الله پاک يې په آخرکي رسوايي په برخه کړيوي .
يا الله نجات راکړي!

## د روژې په نيولو باندي ګناهونه بخښل کيږي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ.[صحيح البخاري 38]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي په إيمانداری او د پاره د طلب د ثواب د روژې د مياشتي روژه ونيسي، نو ټول مخکني ګناهونه به يې ورته وبخښل شي.

توضيح: يعني چي څوک د روژې د مياشتي روژه ونيسي ددې لپاره چي دا د الله لخوا پر ماباندي فرض ده او پرماباندي لازمه ده چي پدې کښي د الله پاک اطاعت وکړم، نيت يې هم تنها دا وي چي الله پاک زما څخه خوشاله سي او ماته ثواب راکړي، يعني د ويري او شرم پخاطراو د ريا لپاره يې روژه نوي، نو الله پاک به ورته هغه ټول ګناهونه وبخښي کوم چي ده ددې روژې نه مخکي کړيدي البته صغيره اوکوچني ګناهونه.

## د ظالم مرسته او سود خوړل:

عَن ابْنِ عَبَّاسٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : مَنْ أَعَانَ ظَالِمًا بِبَاطِلٍ لِيَدْحَضَ بِبَاطِله حَقًّا فَقَدْ بَرِئ مِنْ ذِمَّةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ، وَذِمَّةِ رَسُولِهِ صلى الله عليه وسلم ، وَمَنْ أَكَلَ دِرْهَمًا مِنْ رِبًا فَهُوَ مِثْلُ ثَلاثٍ وَثَلاثِينَ زَنْيَةً ، وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ.[المعجم الصغير 224]

ژباړه: عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي د ظالم سره په باطل کي مرسته وکړي ددې لپاره چي دده د باطل سره حق ګډ کړي نودغه سړی د الله عزوجل او رسول صلي الله عليه وسلم د ذمې څخه خلاص دی، او څوک چي يو درهم د سود وخوري هغه داسي دی لکه چي 33 ځلي يې زنا کړېوي او څوک چي غوښه يې په حرام باندي لويه سي نو د هغه سره اور ډير مناسب دی.

توضيح: يعني څوک چي د يوه ظالم مرسته کوي ترڅو چي دده پرظلم باندي پوښ کښيږدي او دده د باطل کارسره حق ګډ کړي يعني دده د باطل لپاره توجيهات جوړوي ترڅو دده باطل نورو خلګو ته د حق په بڼه ښکاره کړي نو دغه إنسان د الله پاک او رسول الله صلي الله عليه وسلم د

تعهد او تړون ښخه وتلی دی یعني دی نور ځان د الله او رسول الله صلي الله علیه وسلم په تړون او ارتباط باندي ځان نسي خلاصولای.
او څوک چي یو درهم د سود او ربا د مال ښخه وخوري داسي مثال لري لکه چي درو دیرش واره یې زنا کړیوي او څوک چي په حرام باندي لوي او غټ سي دده بدن به ارومرو په اور باندي سوځي.

## د هرمسلمان لپاره نبوي پیغام

عن بن عباس قال : لعن رسول الله صلى الله عليه و سلم المخنثين من الرجال والمترجلات من النساء..[مسند احمد بن حنبل 2291]
ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ښخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم لعنت ویلی دی پر هغه نارینه وو چي ځانونه د ښځو سره مشابه کوي او پر هغه ښځو چي ځانونه د نارینه وو سره مشابه کوي.
نو په همدغه حکم کي هغه نارینه او ښځي هم داخل دي چي په فیسبوک، تلګرام، واټساپ او نورو ټولنیزو شبکوکي ځانونه ښځي معرفي کوي او یا ښځي ځانونه نارینه معرفي کوي.
البته که کومه مسلمان ښځه پدې نیت چي که ځان ښځه معرفي کړي ددې إمکان سته چي نا اهله ځوانان به یې په عذاب کړي او دا هم ددې لاري ښخه ټولني ته ښه خدمت کولای سي نو بیا إن شاء الله کوم مشکل نشته، کولای سي ځانته د نارینه په نامه آیډي جوړه کړي، خو بیاهم ددې لپاره چي هم وکولای سي خدمت وکړي او هم درواغ ورڅخه ونه ویل سي نو ډیره ښه خبره داده چي د خپل ورور او یا زوی په نامه آیډي جوړه کړي خوخدمت دا پکښې وکړي.

## په مسلمان کي باید دغه صفات نوي:

عَنْ عَبْدِ اللَّه ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلاَ اللِّعَانِ وَلاَ الْفَاحِشِ وَلاَ الْبَذِي.[مسندالبزار3207]

ژباړه: حضرت عبدالله رضي الله عنه د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم څخه روایت کوي چي ده وفرمایل: مسلمان باید عیب لټوونکی، لعنت ویونکی، ښکنځل کوونکی، بدکار کوونکی او بد ویونکی نه وسي.

توضیح: یعني د مسلمان سره پورته صفات نه ښایي، څوک چي مسلمان وي هغه باید په نورو خلکو کي عیب ونه لټوي او د هغوی په نسب او ابرو باندي ملنډي ونه وهي، همدا راز پر نورو باندي د لعنت ویلو څخه په کلکه ډډه وکړي، همدا راز د ښکنځلو څخه ځان په کلکه وژغوري کڅه هم په مسخرو او بې غرضه وي، ځکه ښکنځل، بدي او ردي کول د مسلمان د شانه سره مناسب ندي هر ډول چي وي باید په خپلو خبرو کي د بد ویلو څخه پرهیز وکړي.

خدایه ریښتیني او حقیقي مسلمانان راڅخه جوړ کړې!

## د خپل مسلمان ورور ابرو وساتی!

مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ رَدَّ اللهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ".[شعب الإيمان 7229]

ژباړه: څوک چي د خپل ورور د آبرو څخه دفاع وکړي الله پاک به يې د قیامت په ورځ مخ د اور څخه وژغوري.

## لویه ربا او سود:

هیله ده چي ټوله پدې حدیث باندي عمل وکړو او څوک چي پوره يې نه پيژنو د هغه په هکله د ځانه د خبرو کولوڅخه په کلکه ډډه وکړو:

عَن ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ : يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم قَالَ : إنَّ من أَرْبَى الرِّبَا تَفَضُّلُ الرَّجُلِ فِي عَرْضِ أَخِيهِ بِالشَّتْمِ.[مصنف إبن أبي شيبة27108]



M.N.Mazharee

ژباړه: ابن ابي نجيح د خپل پلار څخه روايت کوي چي ده وويل: ماته د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه داسي را رسيدلي دي چي ده وفرمايل: لويه ربا(لوی سود) دادی چي سړی په ښکنځلو باندي د خپل ورور پر ابرو تيری وکړي.

توضيح: يعني د سود غوندي ډېر حرام او ناروا کار دادی چي څوک د خپل ورور پر ابرو باندي تيری کوي، او هغه ته ښکنځل کوي، ځکه چي په ښکنځلو باندي د هغه ابرو ته ضرر رسيږي.

نو هر هغه څوک چي بل مسلمانته ښکنځل کوي او يا يې په عکسونو باندي ملنډې وهي تردې حديث لاندي داخل دي چي دوی مرتکب د حرام اوناروا کاردي ګويا د سود په معاملې باندي بوخت دي.

## دوه د کفر عادتونه:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « اثْنَتَانِ فِى النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ الطَّعْنُ فِى النَّسَبِ وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ ».[صحيح مسلم 236]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: دوه شيان دي په خلګو کي چه د عاداتو څخه د کفردي ، 1 – طعن په نسب کي ، 2 – پر مړي باندي په چيغو ژړاکول.

توضيح: يعني دغه دوه عادتونه، د عاداتو څخه دکفر دي، او د مسلمان لپاره جايز ندي، لومړی د بل انسان په نسب(قومې) کي طعن او بد ويل، او د هغه نسب ته توهين او سپکاوی کول، او دويم پرمړي باندي په لوړ آواز ژړا کول، چي بايد مسلمان په کامله توګه ځان د هغه څخه وساتي.

## په اخرت کي شفاعت کوونکي:

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : يَشْفَعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلاَثَةٌ : الأَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الْعُلَمَاءُ ، ثُمَّ الشُّهَدَاءُ.[سنن ابن ماجة4313].

ژباړه: د حضرت عثمان بن عفان رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی، چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ درې ډوله خلګ شفاعت کوي، 1. انبياء . 2 علماء . 3 شهداء.

## د مال په پيدا کولوکي د بې باکۍ څخه ډډه کول:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : "ليأتين زمان لا يبالي المرء بما أخذ المال: بحلال أو حرام".[صحيح ابن حبان 6726]

ژباړه: د ابو هريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: داسي زمانه به راسي چي سړی هيڅ پاک نکوي په هغه مال سره چي پيداکړی يې دی، چي هغه په حلال باندي دی اوکه په حرام باندي.

توضيح: يعني داسي زمانه به راسي چي خلګ به پيسې پيداکوي، خو دېته به نه ګوري چي د کومي لاري څخه لاس ته راځي، چي آيا دغه لاره حلاله ده اوکه حرامه ده؟، يعني د حرام او حلال فرق به نکوي.

الله پاک دي مو دداسي خلګوڅخه نه ګرځوي.

## په دوو شيانو کي خبري مکوی:

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "لا يزال أمر هذه الأمة موايما أو مقاربا ما لم يتكلموا في الولدان والقدر".[صحيح ابن حبان 6724]

ژباړه: رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: تل به ددې أمت کار ثابت او ټينګ وي تر څو چي دوی په باره کي د (مشرکانو) د ماشومانو، او قدر خبري ونکړي.



M.N.Mazharee

توضیح: یعني ددې امت کار به ټینک او په اتفاق او خیر باندي وي، تر څو چي دوی پدغه دوو شیانو کي خبري کوي، چي یو یې د مشرکینو د اولاونو په هکله خبري دي، چي آیا دوی دوږخ ته ځي اوکه جنت ته؟، او بل په باره کي د قدر چي د قدر په مسیله کي ډیري بیځایه خبري او پوښتني کوي.

## د رسول الله صلي الله علیه وسلم سره محبت:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم : لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ. [صحیح البخاري 15]

ژباړه: د حضرت انس رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: هیڅوک ستاسو تر هغه وخته پوري مسلمان کیدلای نسي ترڅو چي زه ورته تر پلار، زوی او ټولو خلکو ګران نه وسم.

توضیح: یعني معیار د ایمان داری د مسلمان، محبت د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم سره دی، داسي محبت چي نسبت و بل هر چاته دده سره یې محبت ډیر وي، او محبت د مسلمان د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم سره هغه وخت پابتیږي چي مسلمان دده په سنت طریقه باندي عمل وکړي او د هغه سنت پرخپل ځان او ژوند باندي تطبیق کړي.

## په درو شیانو باندي د ایمان خوند لاسته راوړلای سو:

عَنْ أَنَسٍ ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ : ثَلاَثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلاَوَةَ الإِيمَانِ أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا ، وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لاَ يُحِبُّهُ إِلاَّ لِلَّهِ ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ. [صحیح البخاري 16]

ژباړه: د حضرت انس رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: درې عادته دي چي په کوم چاکښي وي نو هغه به خوند او لذت د ایمان وموmي:1-

M.N.Mazharee

الله او د الله رسول تر بل هر چاورباندي ګران وي، 2 – او د چاسره چي محبت کوي ،محبت يې د هيڅ شي لپاره نوي بلکي تنها د الله لپاره وي (دنيوي غرض پکښې نلري) 3 – او وکفر ته د راګرځيدلو څخه يې داسي بد کيږي لکه په اورکي د غورځولو څخه چي يې بدکيږي.

توضيح: د ايمان په خوند او لذت هغه څوک پوهيږي چي لاندي درې دانې عادات پکښې موجود وي.

1. الله او د هغه رسول بل ترهرچاورباندي ګران اومحبوب وي.
2. د نورو انسانانوسره يې محبت تنها د الله لپاره وي.
3. د کفر څخه يې ډير بد کيږي.

## روژه او قران د انسان لپاره شفاعت کوي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو , عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , قَالَ : الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ , يَقُولُ الصِّيَامُ : أَيْ رَبِّ , إِنِّي مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ , وَيَقُولُ الْقُرْآنُ : رَبِّ , إِنِّي مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ , فَيُشَفَّعَانِ .[مسند عبدالله بن مبارک96]

ژباړه: د عبدالله بن عمرو څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: روژه او قرآن د بنده لپاره شفاعت کوي، روژه وايي: أی ربه! مادی د خوړلو او شهواتوڅخه د ورځي منعه کړی وو، نو ماته دده لپاره د شفاعت کولو اجازه راکړه، او قرآن وايي: أی ربه! ما دی د شپي د ويده کيدلو څخه منعه کړی وو نو ماته دده لپاره د شفاعت کولو اجازه راکړه، نو دواړو ته د شفاعت کولو اجازه ورکول کيږي.

يا الله د قرآن اوروژې شفاعت مو د ټولو مسلمانانو سره په برخه کړې!

## د شوال شپږ روژې هيري نکړی:

M.N.Mazharee

عَنْ أَبِى أَيُّوبَ صَاحِبِ النَّبِىِّ –صلى الله عليه وسلم– عَنِ النَّبِىِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ بِسِتٍّ مِنْ شَوَّالٍ فَكَأَنَّمَا صَامَ الدَّهْرَ ».[سنن ابي داود2435]

ژباړه: ابوأيوب رضي الله تعالي عنه د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه روايت کوي چي ده و فرمايل: څوک چي د روژې د مياشتي روژه ونيسي او بيا د هغې پسې شپږ روژې د شوال (کوچني اختر مياشتي) ونيسي، نو داسي کيږي (په ثواب کي) لکه ده چي د ټوله کال روژه نيولې وي.

توضيح: علماو ددې حديث په تفصيل کي ليکلي دي: چي خداى پاک د مسلمان هره نيکي يو په لس باندي حسابي، نو چي کله څوک روژه د مياشتي د روژې او شپږ ورځي د شوال د مياشتي ونيسي، نو دا ځکه لکه روژې د کال کيږي چي دا کله کله 36 ورځي کيږي، او36 چي په لس 10 کي ضرب کړې 360 کيږي چي هغه ورځي د سپوږميز کال دي، نو هره ورځ يي يو په لس ورته حسابيږي.

يادونه: دغه روژې که د اختر د لومړنۍ ورځي وروسته شروع سي ډېر ښه دى خو که څو ورځى وروسته شروع سى هم پروا نلرى، همدا راز که پرله پسې وي او که پرله پسې نه وي.

## د قيامت نښه او علامه:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ : لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ.[صحيح البخاري 7115]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دى چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: ترهغه وخته به قيامت رانسي ترڅوچي سړى به پر قبر باندي تيريږي نو وايي به: کاشکي زه دده پرځاى باندي واى.

توضيح : يعني په آخره زمانه کي به داسي عذابونه او سختۍ ډيري سي چي إنسان به د ځان لپاره تر ژوند مرګ خوښوي او چي کله پر هديره باندي تيريږي نو وايي به کاشکي زه هم ددغه سړي غوندي مړ واى چي ددغه مصيبتونو څخه مي نجات موندلى واى.

## د روژې میاشته د توبې لپاره ښکلی وخت:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَىَّ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ أَدْرَكَ عِنْدَهُ أَبَوَاهُ الْكِبَرَ فَلَمْ يُدْخِلاَهُ الْجَنَّةَ ».[سنن ترمذي 3890]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: په خارو دي سي پزه د هغه سړي چي زما نوم یې مخي ته واخيستل سي خو پر ما باندي درود ونه وايي، او په خاورو دي سي پزه د هغه إنسان چي مياشت د روژې ورباندي راسي او بيا بيرته ځيني ولاړه سي مخکي تردې چي ده ته بخښنه وسي، او په خاور دي سي پزه د هغه إنسان چي مور او پلار يې دده سره سپين ږيرتوب ته ورسيږي، خو دی جنت داخل نکړي.

توضيح: د " پزي په خاور کيدل " کنايه ده د خوارۍ او ذلت څخه، نو دغه خبره د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم يا إخبار دی او يا هم ښيرا ده، يعني: ذليل اوخوار دی. او يا ذليل اوخوار دي سي هغه څوک چي کله يې زما نوم مخي ته اخيستل کيږي خو پر ما باندي درود نه وايي، يعني زما تعظيم نکوي.

او ذليل او خوار دی او يا ذليل اوخوار دي سي هغه څوک چي مياشته د روژې ورباندي راسي خو دی پکښې توبه ونه باسي او د الله لخوا بخښنه ترلاسه نکړي.

او ذليل اوخوار دی. او يا ذليل اوخوار دي سي هغه څوک چي مور او پلار يې په لوی والي او سپين ږيرتوب کي ورسره وي خو دی يې پخاطر جنت ته داخل نسي، يعني د خپل مور او پلار خدمت نکوي بلکي هغوی زوروي او دا حديث د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم دی چي فرمايي: رضا الرب في رضا الوالد. يعني د الله خوشالي په خوشحالۍ کي د پلار ده، همدا راز حديث دی چي فرمايي: الجنة تحت أقدام الأمهات. يعني جنت د ميندو تر پښنو لاندي دی.

## ډيره مهمه دعا:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنَ الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِکَ مِنَ الْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِکَ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِکَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ.

عن مصعب بن سعد و عمرو بن ميمون قال : كان سعد يعلم بينه هؤلاء الكلمات كما يعلم المكتب الغلمان ويقول إن رسول الله صلى الله عليه و سلم كان يتعوذ بهن دبر الصلاة اللهم إني أعوذ بک من الجبن وأعوذ بک من البخل وأعوذ بک من أرذل العمر وأعوذ بک من فتنة الدنيا وعذاب القبر.[سنن ترمذي3567]

ژباړه: عمرو بن ميمون وايي: سعد ر ضي الله عنه خپلو اولادونو ته دغه کلمات ښودل لکه ښوونکی چي ماشومانوته درس ښيي، او ويل يې: رسول اکرم صلي الله عليه وسلم به د لمانځه وروسته په دغه کلماتو باندي پناه غوښتل: أي الله په تا باندي پناه غواړم د بې غيرتۍ څخه، او په تا باندي پناه غواړم د بخالت څخه اوپه تا باندي پناه غواړم د ډير سپين ږيرتوب څخه، او په تا باندي پناه غواړم د فتني څخه ددنيا او د عذاب څخه د قبر.

توضيح: په مرقات کي يې ددې حديث په شرح کي راوړي چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم دغه دعاګاني ددې لپاره کولې چي خپل امت ته تعليم ورکړي چي دوی هم دغه دعاګاني وکړي او ددغه شيانو څخه په الله باندي پناه وغواړي، همدا راز يې الله پاک ته د عاجزۍ پخاطر دغه دعاګاني کولې.

"جبن"، يعني په نفس کي بخالت کول چي سړی نه غواړي خپل بدن او توان د بل مسلمان سره په کمک کي مصرف کړي يعني په خپل بدن باندي بل مسلمان ته ګټه ورسوي. او " جبن " يعني پرطاعت باندي جرأت نه درلودل. پدې معني چي أي الله ماته ددې څخه نجات راکړې چي پر طاعت باندي به زما جرأت کميږي.

او بخل دېته وايي چي سړی مال او يا په بل شي باندي بل چاته نفع رسيدل نه غواړي . هغه چي موږ يې بخالت بولو.

او د ډېر سپين ږير توب څخه ځکه پناه غواړي چي په داسي حالت کي د إنسان عقل زايليږي، فيزيکي قوت يې ختميږي چي په نتيجه کي د الله پاک په نعمتونوکي فکر نسي کولای او د هغو د شکر څخه عاجز پاتيږي، همدا راز نور خلګ ورسره په عذابيږي.

او د فتنې څخه ددنيا ځکه پناه غواړي چي ددنيا فتنه د إنسان ټوله مثبت اړخونه له مينځه وړي او د إنسان څخه مرګ،آخرت او هرنيک عمل هيروي.(الله پاک دي موځيني وساتي!)

او د عذاب څخه د قبر ځکه پناه غواړي چي قبر لومړنی کور دی د کورونو څخه د آخرت څوک چي په قبر کي په عذاب وي نو په آخرت کي به هم په عذاب وي او چي څوک د قبر د عذاب څخه نجات ومومي نو د آخرت د عذاب څخه به هم نجات ومومي.

## د يوې ډلي سره د دريدلو حکم:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِک قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ سَوَّدَ مَعَ قَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ، وَمَنْ رَوَّعَ مُسْلِمًا بِرِضَاءِ سُلْطَانٍ جِيءَ بِهِ مَعَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.[السنة لابن ابي عاصم]

ژباړه: انس بن مالک رضي الله عنه روايت کوي چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هرڅوک چي د يو قوم ډله ډيره کړي نو هغه سړی د هماغه قوم څخه دی. او هر څوک چي يو مسلمان د باچا په خوښه وويروي، نو د قيامت په ورځ به دی د باچا سره حاضر کړل سي.

توضيح: يعني څوک چي د يوقوم سره وديږي داسي چي دده په دريدلوسره د هغوی ټولنه او ډله ډيريږي، نو دغه سړی د هماغه ډلي څخه حکمًا حسابل کيږي.

مثلا چي يوڅوک د کافرانو سره د مسلمانانو پر ضد ودريږي نو دغه سړی حکمًا د هماغه کافرانو دډلي څخه شميرل کيږي.

همدا راز که يوڅوک د باچا په خوښه او يا د باچا د خوښي لپاره يو مسلمان وويروي نو الله پاک به په ورځ کي د قيامت دغه سړی د هماغه باچاسره يوځای حساب اوکتاب ته حاضر کړي.

## دوه مخی سیاست:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم تَجِدُ مِنْ شَرِّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللهِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلاَءِ بِوَجْهٍ وَهَؤُلاَءِ بِوَجْهٍ.[صحيح البخاري 6058]

ژباړه: د ابوهریرة رضي الله عنه روایت دی چې رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: بدترینه د خلګو د الله په نزد د قیامت په ورځ دوه مخی إنسان دی هغه چې دغه خلګوته په یو مخ باندي راځي او هغه نورو ته په بل مخ.

یعني چې دوه مخیزه سیاست لوبوي ځینو ته ځان په یوه بڼه ښکاره کوي اوځینو نورو ته بیا ځان په بله بڼه.

او دا خبره عامه ده که په اجتماعي سیاست کي وي او که په انډیوالی، ملګریتوب او یا د ژوند په نورو برخو کي.

## د نفس سره محاسبه وکړی!

عن میمون بن مهران قال: لایکون الرجل تقیا حتي یکون لنفسه أشد محاسبة من الشریک لشریکه.[محاسبة النفس]

ژباړه: میمون بن مهران وایي: تر هغه وخته پوري سړی پرهیزګاره اوپاک نسي کیدلای ترڅو چي یې د خپل نفس سره داسي سخته محاسبه نوي کړې لکه شریک چي یې د خپل شریک سره کوي.

## په اور باندي د مرتد سړي سوځول:

عن أبي موسى الأشعري، أن النبي صلى الله عليه وسلم بعثه و معاذ بن جبل إلى اليمن، فأمرهما أن يعلما الناس القرآن، فجاء معاذ إلى أبي موسى يزوره، إذا عنده رجل موثق بالحديد، فقال: يا أخي، أبعثنا نعذب الناس، أم بعثنا نعلمهم ونأمرهم بما ينفعهم؟ فقال له: أسلم، ثم كفر، فقال:

M.N.Mazharee

والذي بعث محمدًا بالحق، لا أبرح حتى أحرقه بالنار، فقال أبو موسى: إن لنا عنده بقية، قال معاذ: والله لا أبرح أبدًا، قال: فأُتي بحطب، فألهبت فيه النار، وطرحه". [المعجم الكبيرللطبراني 16496] قال الهيثمي في المجمع (6/399): رجاله رجال الصحيح.

ژباره: د ابوسي اشعري رضي الله عنه څخه روايت چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم دی او معاذ رضي الله تعالي عنهما ويمن ته واستول، او دوی يې امر کړل چي خلګوته قرآن ورزده کړي.

معاذ رضي الله عنه د ابوموسي رضي الله عنه ملاقات ته راغی که ګوري دده سره يو سړی دی چي په وسپنو باندي تړلی دی، نو معاذ رضي الله عنه ورته وويل: اي وروره! آيا موږ خلګو ته د عذاب ورکولو لپاره را استول سوي يو او که ددې لپاره چي دوی ته تعليم ورکړو او هغه شيان ورته زده کړو چي دوی ته ګټه کوي، ابوموسي رضي الله عنه ورته ويل: دې سړي يوځل ايمان راوړی بيرته کافر سوی، نوحضرت معاذ رضي الله عنه وويل : زما دي په هغه ذات باندي قسم وي چي حضرت محمد صلي الله عليه وسلم يې په حقه باندي را ليږلی دی، تر هغه وخته به ولاړ نسم ترڅو چي مي دی په اور باندي نوي سوځولی، حضرت ابوموسي رضي الله عنه ويل: زموږ دده سره نور هم سته. حضرت معاذ رضي الله عنه وويل: زما دي په الله باندي قسم وي چي ترڅو مي دی نوي سوځولی ولاړ به نسم، بوتي يې راوړل اور يې بل کړ او دی يې ور وغورځوی.

توضيح: ددې اثر څخه له ورايه ښکاري چي مرتد ته په اورباندي سزا ورکول او د هغه سوځول جايز دي کنه نو معاذ او ابوموسي رضي الله عنهما به ولي دغه مرتد سوځوی؟.

## د مال بيځايه مصرف مکوی!

عَن أبي هُرَيرة ، قال : قال رَسُول اللهِ صَلَّى الله عَلَيه وَسَلَّم : لا يحب الله إضاعة المال.[ مسندالبزار8463]

ژباړه: ابوهريرة رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د مال بيځايه مصرف د الله پاک نه خوښيږي.

پدې هیله چي د حجاجو د راتګ په وخت کي زموږ ورونه د بیځایه مصارفو څخه ځان وساتي.

## د کفارو د دوستۍ او ملګریتوب څخه لاس واخلئ!

عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم كُلُّ نَفْسٍ تُحْشَرُ عَلَى هَوَاهَا فَمَنْ هَوِيَ الْكَفَرَةَ فَهُوَ مَعَ الْكَفَرَةِ وَلاَ يَنْفَعُهُ عَمَلُهُ شَيْئاً .[ المعجم الأوسط 8978]

ژباړه: د حضرت جابر رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم و فرمایل: هرڅوک پرخپلي خوښي باندي را حشرکیږي، نو د چا چي کافران خوښ وي هغه د کافرانو سره راحشر کیږي، او عمل یې هیڅ ګټه نه ورته کوي.

توضیح: یعني په دنیاکي چي څوک دکوم چا سره محبت او ارتباط لري، نو په آخرت کي به هم د هغه چا سره را حشر کیږي، نو څوک چي پدې دنیا کي دکفارو سره ارتباط ددوستۍ لري، هغوی یې خوښ وي او د هغوی سره محبت کوي، معاهدې او تړونونه ورسره إمضاء کوي، الله پاک یې په ورځ کي د قیامت د همدغه کفارو سره را حشر کوي، کوم عمل چي یې په دنیا کي کړی وي هیڅ ګټه نه ورته کوي.

لکه څنګه چي په بل حدیث کي راځي: الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ.[صحیح البخاري 6168] یعني په آخرت کي به انسان د هغه چاسره وي چي په دنیا کي ورسره محبت لري. نوڅوک چي دکفارو سره محبت لري ، په آخرت کي به اورمرو دکفارو سره وي.

الله پاک دي ر اته نجات راکړي.

## د کافرانو او ظالمان څخه لیري ګرځئ!

عَن أَوْسَ بْنَ شُرَحْبِيلَ – أَحَدَ بَنِي الْمَجْمَعِ – حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ مَشَى مَعَ ظَالِمٍ يُقَوِّيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ ظَالِمْ فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْإِسْلَامِ".[شعب الإيمان 7269]

ژباړه: اوس بن شرحبيل وايي ما د رسول اكرم صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې: څوک چي د ظالم سره تګ وکړي ددې لپاره چي هغه قوي کړي، او دی پدې باندي خبر وي چي هغه ظالم دی نو د إسلام څخه ووتی.

توضيح: ځيني علماء ددې حديث په توضيح کي وايي: چي دلته د ظالم څخه مراد کافر دی ، يعني چي څوک د کافر سره ددې لپاره روان سي چي د هغه سره کمک وکړي، او دی پدې باندي هم خبر وي چي هغه کافر دی، نو هغه سړی د اسلام څخه ووتی. او ځينو نورو بيا ويلي دي: چي دلته مراد د ظالم څخه هغه څوک دی چي د خلګو سره ظلم کوي.

خو پر هرحالت که څوک دکافر اوظالم سره د إسلام او يا مجاهد پرضد مرسته کوي، او هغه ځانته روا بولي نو دا سړی په اتفاق د امت کافر دی او د اسلامي امت څخه وتلی دی، اوکه يې ځانته حلال نه بولي نو بيا فاسق دی، علماء يې په هکله ليکي چي دا سړی د کامل ايمان څخه وتلی يعني پوره ايمان نلري، او يا د حقيقت څخه د اسلام وتلی ځکه چي ريښتيني اسلام خو چاته ددې اجازه نه ورکوي چي پر چا باندي دي ظلم وسي.

## دکافر د وژلو فضيلت:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « لاَ يَجْتَمِعُ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ فِى النَّارِ أَبَدًا ».[صحيح مسلم 5003]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اكرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کافر او د هغه قاتل په اور کي هيڅ وخت نه سره يوځای کيږي.

توضيح: ددې حديث په توضيح کي علماؤ ډير اقوال ليکلي دي خو ملا علي قاري رحمه الله د طيبي په حواله وايي :ددې حديث هغه قوي معني داده چي هر مجاهد چي په جهاد کي کافر مړکړي نو هغه ته به الله ګرسره په جهنم کي عذاب ور نکړي، او دده ټوله ګناهونه به ورته و بخښي.

بيايې ددې خبري په تأييد کي لاندي حديث راوړی دی:



M.N.Mazharee

وَلَا يَجْتَمِعُ عَلَى عَبْدٍ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ. يعني پربنده باندي د الله په لاره كي خاوره او د جهنم دود نه راجمع كيږي.[مرقات المفاتيح]

يعني څوک چي د الله په لاره كي په خاورو سي نو هغه ته به الله پاک د جهنم د دود څخه نجات وركوي.

## د فاسق د صفت كولو او تقديرولو گناه:

عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا مُدِحَ الْفَاسِقُ غَضِبَ الرَّبُّ، وَاهْتَزَّ لَهُ الْعَرْشُ.[شعب الإيمان4544]

ژباړه: د حضرت انس رضي الله تعالي عنه څخه روايت دى چي رسول اكرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: كله چي د فاسق سړي تعريف وسي نو الله په خبنم سي او له وجهي يې عرش په لړزه باندي راسي.

توضيح : يعني كله چي يوڅوک د يوفاسق سړي صفت كوي نو پدې كار باندي الله ورته په خبنم كيږي، ځكه الله پاک مسلمان پدې باندي مأمور كړى دى چي د فاسق څخه ځان وساتي او د هغه وكار ته نور خلک تشويق نكړي نوكله چي يې دى تعريف كوي پدې باندي د الله د غوښتني مخالفت كيږي، نوځكه الله پاک ورته په خبنم كيږي، او ددغي مدحي له وجهي عرش په لړزه باندي راځي.

## د هرظالم مخه بايد ونيول سي:

عَنْ خَالِد وَإِنَّا سَمِعْنَا النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ : إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ.[سنن ابي داود4340]

M.N.Mazharee

ژباړه: خالد روایت کوي چي موږ د رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه واوریدل چي ویې فرمایل: کله چي خلګ ظالم وویني نو یې ترلاس ونه نیسي(پداسي حال کي چي که یې وغواړي نوترلاس یې نیولای سي) نو ډیر ژر به الله پاک ټولو ته په عامه توګه عذاب ورکړي.
نظر و پورته حدیث ته د ټولو هغه انسانانو غاړي بندي دي چي په خپل قوم او یا خپلي قبیلي کي یې واک ظالمانوته ورکړی وي، محاسبه نه ورسره کوي او د ظلم مخه یې نه نیسي.

## د ګناه د نه بندولو عذاب:

عَنْ هُشَيْمٍ وَإِنِّى سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِى ثُمَّ يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا ثُمَّ لاَ يُغَيِّرُوا إِلاَّ يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ مِنْهُ بِعِقَابٍ ».[سنن ابي داود4340]
ژباړه: هشیم وایي: ما د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم څخه واوریدل چي ویل یې: هر قوم چي ګناهونه پکښې کیږي بیا دوی یې د تغییر توان هم ولري خو تغییر نه ورکوي نو ډیر ژر به الله پاک ورباندي عمومي عذاب راولي.
هرڅوک چي په خپلي ټولني کي یو جرم او یا شرعي تخلف ته تغییر ورکولای سي خو نه یې ورکوي ، په خپلي ټولني کي مجرم اوګناهکار ګیرولای سي خو نه یې ګیروي، د غله، انسان تښتوونکي، زناکاره او نورو مجرمینو مخه نیولای سي خو نه یې نیسي، نو الله پاک به ورباندي عمومي عذاب راولي.

## د ظالمانو د بقاء لپاره دعا مکوی!

يُونُسَ بْنَ عُبَيْدٍ , يَقُولُ: سَمِعْتُ الْحَسَنَ , يَقُولُ:" مَنْ دَعَا لِظَالِمٍ بِالْبَقَاءِ فَقَدْ أَحَبَّ أَنْ يُعْصَى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ".[شعب الايمان 8986].

ژباړه: يونس بن عبيد وايي ما د حسن رضي الله تعالي عنه څخه واوريدل چي ويل يې: څوک چي د ظالم د بقاء اوپاته کيدلو لپاره دعا وکړي، نو يقينا چي دده زړه دا غواړي چي د الله نافرماني دي وسي.

توضيح: يعني څوک چي د يوظالم لپاره که هغه باچا وي،که امير وي، که والي وي،که قومندان وي اوکه يو عادي سړی وي ددې دعا وکړي چي الله دي باقي او ژوندی پريږدي، مثلا و يوظالم انسان ته داسي دعا کوي چي الله پاک دي ژوندی لري، يا دي الله پاک زمونږ له سره نه کموي، نو يقينا چي ددغه سړي(دعاکوونکي) دغه زړه غواړي چي په مځکه کي دي د الله نافرماني او ګناه وسي، ولي که يې زړه نه غوښتلی نو دغه ظالم ته به يې دغسي دعا نکولای؟.

نوکوم خلګ چي دا د اوس ظالمو حاکمانوته دعاګاني کوي او يايې د حکومت د بقاء آرزوګاني لري ددې حديث ترحکم لاندي دي.

## د شيطانانوڅخه زده کوونکي:

وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ.[الأنعام121]

ژباړه: د هغه شي څخه خوراک مکوی چي پر هغه باندي د الله نوم نوي اخيستل سوی او دا (دداسي شي خوړل) فسق دی (د الله پاک د اطاعت څخه وتل دي) او شيطانان خپلو ملګرو ته وسوسې ور اچوي ترڅو ستاسوسره شخړه وکړي، اوکچيري تاسو ددوی اطاعت وکړی نو يقينا تاسو مشرکان ياست.

توضيح: د پورته آيت څخه له ورايه ښکاري: هغه خلګ چي پرخپلو باطلو دعواګانو باندي دلايل وايي، په اسلام کي شبهات پيداکوي، د فرض، واجب اوسنت په مقابل کي بهانې لټوي په اسلام کي د صريحي محرماتو د تحليل لپاره توجيهات کوي او پر اسلامي اساساتو باندي د خلګو د

باور د کمولو لپاره هڅي کوي دوی د شیطانانو دوستان دي او د هغوی څخه د خپلو دلایلو په ویلو کي تأثري زدکړي کوي.

## د هغي ښځي عذاب چي د میړه څخه طلاق غواړي:

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلاَقًا فِي غَيْرِ مَا بَأْسٍ ، فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ.[سنن ابي داود2226]

ژباړه: هره ښځه چي د خپل خاوند څخه بېله (شرعي) ضرورته د طلاق غوښتنه وکړي نو پر هغې باندي د جنت بوی حرام دی.

## د خندا او ټوکو لپاره خلګ پر ځان باندي مه ټولوی!

حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ قَالَ حَدَّثَنِى أَبِى عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « وَيْلٌ لِلَّذِى يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ ».[سنن ابي داود4992]

ژباړه: رسول اکرم صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: افسوس(هلاکت) دي وي د هغه چا لپاره چي خبري کوي نو دروا غ وایي ددې لپاره چي خلګ ورباندي وخاندي، افسوس دي وي دده لپاره افسوس دي وي دده لپاره.

توضیح: یعني څوک چي خلګ پرځان باندي را ټول کړي، نو ددوی د خندولو لپاره دورا غ وایي، فرق نکوي که دروا غ قصدا او د قیصې په ډول وي اوکه د ټوکو او مسخرو په ډول وي، ددې انسان لپاره دي افسوس او هلاکت وي.

نو بناءً ددې حدیث په حکم کي هغه رادیوګاني او تلویزونونه داخل دي چي د خلګو د خندولو لپاره یې مختلف د بې حیایۍ او غیر انساني پروګرامونه پیل کړي او پرمخ یې بیایي.



M.J.Mazharee

## د خپل علم په اهمیت باندي پوه سی!

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِك عَنْ أَبِيْه : قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ أَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ أَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوهَ النَّاسِ إِلَيْهِ أَدْخَلَهُ اللهُ النَّارَ.[سنن ابن ماجة 253]

ژباړه: څوک چي طلب د علم وکړی ددې لپاره چي په هغه باندي ځان د علماؤ سره په لانجه کي واچوي او یاپه هغه باندي دکم عقلانو سره مقابله وکړي او یا په هغه باندي ځان ته د خلکو مخونه را واړوي، نو الله پاک به هغه سړی اور ته داخل کړي.

توضیح: یعني څوک چي تحصیل د علم کوي خو د الله د رضا لپاره نه بلکي ددې لپاره چي په هغه باندي د نورو علماؤ سره ځان په جنګجال کي واچوي او د هغوی سره مناظره وکړي او یا په خپل علم باندي وغواړي د کم عقلانو انسانو سره مقابله وکړي، البته د هغوی د اصلاح لپاره نه بلکي ددې لپاره چي ځان په هغوی کي مطرح کړي او یاهم ددوی سره داسي بحثونه کوي چي نه تنها هغوی ورباندي اصلاح کیږي نه بلکي په پوهیږي نه چي په نتیجه کي هغوی نور هم د اصلاح کیدلو څخه لیري کیږي، او یاهم تحصیل د علم ددې لپاره کوي چي ځان په خلکو کي مطرح کړي، شهرت وګټي پدې باندي ځیني دنیوي امتیازات او لوړ نوم وګټي، نو دغسي إنسان به اور ته داخلیږي.

یا الله دداسي خلکو څخه مو مه ګرځوې!

## د بل چالیکنه او تصنیف په خپل نامه باندي نشرکول:

ځیني خلک داسي عادت لري چي د نورو خلکو لیکني اویا د هغوی تصنیفونه په خپل نامه خپروي او یا یې هم د لیکونکي او مصنف نوم حذف کوي خپل نوم یې پر ځای باندي لیکي، دا کار هم د نقل له نظره او هم د عقل له نظره ناروا دی د عقل له نظره یې دلیل دادی چي دغه

M.N.Mazharee

اصلي ليكونكي او يا مصنف يې په ليكلوكي زحمت ايستلى وي، د هغه په ترتيب، ټولولو، مدلل ګرځولو کي يې زيار ايستلى وي، همدا راز هره ليکنه چي يوڅوک په يوې موضوع کي لومړی ليکي وروسته تر ليکلوېې څوځلي مطالعه کوي ترڅو چي وخپرولو ته يې آماده کړي، نو بيا چي يې بل څوک کاپي کړي او هغه په خپل نامه باندي خپره کړي نو دا يوقسم غلا او د هغه ليکونکي د استعداد تر پښو لاندي کول دي، نو هر يو بايد دداسي کار دکولو څخه په کلکه ځان وژغوري که چاته د يو ليکونکي ليکنه خوند ورکوي نو د هغه په نامه دي خپره کړي که يې د ځينو شرعي مصلحتونو پر بنياد د هغه په نامه نسي خپرولای نو بيادي د ليکونکي څخه اوكوم چا چي لومړی دغه ليکنه خپره کړي وي اجازه واخلي.

پاته سو ددې کار ناروا والی په نقل باندي ،نو بايد وويل سي چي دې کارته په شرعي او عربي اصطلاح کي " انتحال " وايي يعني د بل چاليکنه اويا تصنيف وځانته نسبت ورکول ، په لاندي حديث راځي:

عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَذَرِىِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– :« يَرِثُ هَذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُولُهُ يَنْفُونَ عَنْهُ تَأْوِيلَ الْجَاهِلِينَ وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِينَ وَتَحْرِيفَ الْغَالِينَ ».[سنن الكبري للبيهقي21439].

يعني دغه علم به د هري وروستنۍ ډلي څخه وعادلانو اوبا انصافو خلګوته پاتيږي چي دوی به ورڅخه تأويل د ناپوهانو خلګو ليري کوي همدا راز به انتحال د باطل کوونکو ورڅخه ليري کوي همدا راز به تحريف د تجاوز کوونکو ورڅخه ليري کوي.

په مرقات کي يې د" إنتحال " د تعريف په هکله ليکلي دي:

(وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِينَ) الِانْتِحَالُ: ادِّعَاءُ قَوْلٍ أَوْ شِعْرٍ، وَيَكُونُ قَايِلُهُ غَيْرَهُ بِانْتِسَابِهِ إِلَى نَفْسِهِ.[مرقات المفاتيح شرح مشكوة المصابيح248]

يعني انتحال: د بل چاپه قول او شعر باندي دعوه کول او وځانته يې نسبت کول دي.

همدا راز علامه مولانا عبدالحي لکنوي رحمه الله په حاشيه کي د شرح الوقاية فرمايي:

فقد تطلق السرقة على استراق السمع وقد تطلق على السرقة في الصلاة، وهي أن يؤديها ناقصة، وقد تطلق على الانتحال في التصانيف، وقد تطلق على قطع الطريق.[عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية كتاب السرقة]

يعني د غلا اطلاق كله كله په غلاكولو د خبرو كيږي او كله يې اطلاق د لمانځه پر غلا باندي كيږي او هغه داسي چي لمونځ نيمګړی وكړي، اوكله كله يې اطلاق پر غلاكولو د تصانيفو كيږي اوكله كله يې اطلاق پر نيولو دلاري كيږي.

همدا راز امام نووي رحمه الله په بستان العارفين كي فرمايي:

الدين النصيحة: ومن النصيحة أن تضاف الفايدة التي تستغرب إلى قايلها فمن فعل ذلک بورک له في علمه وحاله ومن أوهم ذلک وأوهم فيما يأخذه من كلام غيره أنه له فهو جدير أن لا ينتفع بعلمه ولا يبارک له في حال. ولم يزل أهل العلم والفضل على إضافة الفوايد إلى قايلها نسأل الله تعالى التوفيق لذلک دايما. [ بستان العارفين للنووي ]

ژباړه: دين نصيحت دی او د جملې څخه د نصيحت دادی چي يوناشنا فايده بايد د هغه ويونكي ته منسوبه كړل سي، نو چي څوک دغسي وكړي الله پاک به يې په علم او حالت كښې بركت كښيږدی، او كه څوک د بل چا خبره داسي بيان كړي چي ګويا هغه دده ده نو هغه سړی ددې لايق دی چي د خپل علم څخه دي ګټه پورته نكړي او نه دي دده په حال كښې بركت كښيښنودل شي.

## په يوي روژې باندي د 70 كاله سفر مسافت په اندازه د اورڅخه انسان ليري كيږي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ : مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ بَعَّدَ اللَّهُ وَجْهَهُ ، عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا.[صحيح البخاري 2840]

ژباړه: د ابوسعيد رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي ما د رسول اكرم صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې: څوک چي يوه ورځ د الله په لاره كي روژه ونيسي نو الله پاک به يې مخ اويا 70 كاله سفر مسافت په اندازه د اور څخه ليري كړي.

توضیح: خریف فصل ته د مني وايي خو دلته ورڅخه مراد کال دی، یعني خدای پاک به يې مخ اویا کاله د اور څخه لیري کړي، دلته ذکر دی مخ خو مراد ورڅخه ټول بدن دی یعني الله پاک به يې ټول بدن د اور څخه لیري کړي.

## د اختري وجوب:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ قَالَ : مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ ، وَلَمْ يُضَحِّ ، فَلاَ يَقْرَبَنَّ مُصَلاَّنَا.[سنن ابن ماجة 3123]

د حضرت ابوهریرة رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: هرڅوک چي مالي توان ولري خو بیاهم اختری ونکړي زموږ عیدګاه ته دي نه راځي.

توضیح: رسول اکرم صلي الله علیه وسلم د هغه چا لپاره وعید بیان کړی چي پرهغه باندي اختری کیږي، خو بیا يې هم نکوي، چي شرعا اختری پر هغه چا باندي کیږي، چي مسلمان وي، مقیم وي، حر وي، عاقل وي، بالغ وي او خاوند د نصاب وي.

## د الله د ذکر نه بغیر ډیري خبري مکوی:

عن ابن عمر قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم لا تكثروا الكلام بغير ذكر الله فإن كثرة الكلام بغير ذكر الله قسوة للقلب وإن أبعد الناس من الله القلب القاسي.[سنن ترمذي2411]

ژباړه: د ابن عمر رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: د الله د ذکر نه بغیر ډیري خبري مکوی ځکه د الله د ذکر نه بغیر ډیري خبري د زړه لپاره کلکوالی دی، او تر ټولو خلګو د الله څخه ډیرلیري هغه زړه دی چي کلک وي.

توضیح: کوم زړه چي کلک سي نو د حق خبره نه اوري، که يې واوري د ځانه سره يې ساتلی نسي، تل يې د هر ډول خلګو سره ناستي او ولاړي ته شوق کیږي چي په نتیجه کي د هغوی

ځخه متأثر کیږي، د الله څخه يې په زړه کي ويره لرېږي، د الله پاک څخه يې د ويري ژړا هيريږي، غفلت او ناپوهي ورباندي غلبه کوي.

## ډيره خندا مکوی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : لاَ تُكْثِرُوا الضَّحِکَ ، فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِکِ تُمِيتُ الْقَلْبَ.[سنن ابن ماجه 4193]

ژباړه: د حضرت ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: ډيره خندا مکوی ځکه چي ډيره خندا زړه وژني.

## د الله او مومنانو د دښمنانو سره دوستي مکوی!

يأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُواْ بِمَا جَاءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ[سورة الممتحنة 1]

ژباړه: اي مؤمنانو! تاسو زما او د ځان دښمنان دوستان مه نيسی، تاسي دوی ته د دوستۍ وړانديزکوی، پداسي حال کي چي دوی کافران سوي دي په هغه شي باندي چي تاسوته راغلی دي( قرآن) د حقه څخه.

پدې آيت کي الله پاک په ډير وضاحت سره مومنان د هغه چا د دوستۍ څخه منع کوي چي هغه د الله او د مومنانو دښمن وي.

دښمن د الله او د مومنانو همدغه يهود اونصاري او نور کافران دي همدا راز هغه خلک چي د دوی سره د اسلام پرضد ولاړدي.

نو باید مسلمان دکافر اود هغه د ملګري د دوستۍ څخه لاس په سر سي او هیڅ وخت ورسره د دوستۍ تړون امضاء نکړي.

## د روژاتي مزدوري اومسۍولیت:

عَنْ أَبِى صَالِحٍ الزَّيَّاتِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ – رضى الله عنه – يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلاَّ الصِّيَامَ فَإِنَّهُ لِى وَأَنَا أَجْزِى بِهِ وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ يَوْمَئِذٍ وَلاَ يَسْخَبْ فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّى امْرُؤٌ صَائِمٌ. وَالَّذِى نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ وَلِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ بِفِطْرِهِ وَإِذَا لَقِىَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ ».

ژباړه: ابوصالح زیات وایي: ما د ابوهریرة رضي الله تعالي عنه څخه واوریدل چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: الله پاک وفرمایل: د بني آدم هر کار دده لپاره دی مګر روژه، ځکه هغه زما لپاره ده او زه یې جزا ورکوم، او روژه سپر دی کله چي د چا روژه وي نو بدي خبري دي نکوي او ندي هم چیغي وهي(جنګجال دي نکوي) کچیري چا ورته ښکنځل وکړل او یایې ورسره جنګ کوی نو دی دي ورته ووایي: زما روژه ده.

زما دي قسم په هغه ذات وي چي نفس د محمدصلي الله علیه وسلم یې په قدرت کي دی چي بوی د خولي د روژاتي الله پاک ته خوښ دی په ورځ کي د قیامت تر بوی د مشکو، او د روژاتي لپاره دوې خوشحالۍ دي کله چي روژه ماته کړي، نو په ماتولو یې خوشاله سي، او کله چي د خپل ربه سره ملاقات وکړي، نو په خپلي روژې باندي به خوشاله سي. فلایرفت یومیذ ولایسخب. یعني پدې ورځ دي بدي خبري هم نکوي لکه ښکنځل، غیبت، درواغ او مسخرې کول او ندي هم پدې ورځ کي د چاسره د جنګجال او منازعې په خاطر ږغ پورته کوي یعني د چاسره دي داوې نه وهي.

توضیح: الصیام جنة. یعني روژه سپر(ډال) دی لکه إنسان چي په سپر باندي ځان د غشو او مرمیو څخه ساتي همدا راز په روژه باندي إنسان د ګناهونو او اور څخه ساتل کیږي

## د مجاهد فضیلت:

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال :مثل المجاهد في سبيل الله كمثل الصايم القايم الدايم الذي لا يفتر من صلاة ولا صيام حتى يرجع.[موطأ إمام مالک رحمه الله 956]

ژباړه: د حضرت ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی، چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د الله په لاري کي د مجاهد مثال داسي دی لکه د هغه چا چي تل يې د ورځي روژه وي او د شپې عبادت کوي، هغه چي نه د لمانځه څخه سستي کوي اونه هم د روژې څخه، تر څو چي خپل ځای ته راګرځي.

توضيح: يعني څوک چي د الله په لاره کي جهاد کوي، داسي ورته ډيرثواب لري لکه دده چي ټوله عمر د ورځي روژه وي او د شپې عبادت کوي، او دا ثواب به ترهغه وخته د مجاهد په برخه وي ترڅو چي بيرته خپل کورته راګرځي.

## جنګ پردوه ډوله دی:

حدثني عن مالک عن يحيى بن سعيد عن معاذ بن جبل انه قال :الغزو غزوان فغزو تنفق فيه الكريمة ويياسر فيه الشريک ويطاع فيه ذو الأمر ويجتنب فيه الفساد فذلک الغزو خير كله وغزو لا تنفق فيه الكريمة ولا يياسر فيه الشريک ولا يطاع فيه ذو الأمر ولا يجتنب فيه الفساد فذلک الغزو لا يرجع صاحبه كفافا.[ موطأ إمام مالک 998]

ژباړه: معاذ بن جبل رضي الله تعالي عنه فرمايي: جنګ پردوه ډوله دي، يو هغه جنګ دی چي سړی پکښې خپل دخوښي مال مصروفوي، د خپل ملګري سره آساني کوي، د خپل امير اطاعت کوي او د فساد څخه ځان ساتي، نو دغه جنګ ټوله خيردی، او بل هغه جنګ دی چي په هغه کي انسان خپل د خوښي مال نه مصرفوي اونه هم پکښې د خپل ملګري سره آساني کوي، او نه

هم پکښې د خپل امير اطاعت کوي، او نه هم پکښې د فساد څخه ځان ساتي، نو دغه جنګ خپل خاوند ته هيڅ قسم خير او ښيګڼي نه راوړي.

## د مجاهد مرتبه:

قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: إنَّ فِي الْجَنَّةِ مِيَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللَّهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ الله مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ أُرَاهُ فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ. [صحيح البخاري 2790]

ژباړه: رسول اکرم صلي الله عليه وسلم فرمايلي: يقينا په جنت کي سل درجې دي چي الله پاک د مجاهدينو لپاره اماده کړيدي چي په مابين کي د هرو دوو درجو د آسمان او مځکي په اندازه واټن دی، نو چي کله تاسو د الله څخه د جنت سوال کوی، نو د فردوس جنت سوال وکړی، ځکه هغه مينځنی د جنتونو دی، او لوړ پرجنتونو باندي عرش د الله پاک دی، چي د هغه څخه د جنتونو ويالی را بهيږي.

## وختي لمانځه او بازار ته تلل:

عَنْ سَلْمَانَ ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : مَنْ غَدَا إِلَى صَلاَةِ الصُّبْحِ غَدَا بِرَايَةِ الإِيمَانِ ، وَمَنْ غَدَا إِلَى السُّوقِ غَدَا بِرَايَةِ إِبْلِيسَ.

سنن ابن ماجة 2234

د سلمان رضي الله عنه څخه روايت دی، چي ما د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې: هرڅوک چي سحار وختي مسجد ته ولاړی نو د ايمان د بيرغ سره ولاړی اوکه څوک سهار وختي بازار ته ولاړی نو د شيطان د بيرغ سره ولاړی.

M.N.Mazhar

توضیح :یعني څوک چې د خپل سهار لومړنی تګ په مسجد باندي شروع کړي، او ولاړسي په مسجد کي جماعت وکړي، نو د هغه سړي سره بیرغ د ایمان دی، او دی خپله پوره مؤمن دی، خو کوم څوک چې د خپل سهار لومړنی تګ د مسجد تر مخه بازار ته شروع کړي، او په مسجدکي جماعت ونکړي، نو د هغه سړي ایمان ناقص دی، او دی وړونکی د بیرغ د شیطان دی.

## هغه خلګ چې تر ټولو بد به يي واکمن وي:

عَنْ مُجَاهِد ، عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : سَيَجِيءُ أَقْوَامٌ فِي آخِرِ الزَّمَنِ وُجُوهُهُمْ وُجُوهُ الآدَمِيِّينَ ، وَقُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الشَّيَاطِينِ ، أَمْثَالُ الذِّيَابِ الضَّوَارِي ، لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ شَيْءٌ مِنَ الرَّحْمَةِ ، سَفَّاكُونَ الدِّمَاءَ ، لا يَرْعَوُونَ عَنْ قَبِيحٍ ، إِنْ بَايَعْتَهُمْ وَارَبُوكَ ، وَإِنْ تَوَارَيْتَ عَنْهُمُ اغْتَابُوكَ ، وَإِنْ حَدَّثُوكَ كَذَبُوكَ ، وَإِنِ ائْتَمَنْتَهُمْ خَانُوكَ ، صَبِيُّهُمْ عَارِمٌ ، وَشَابُّهُمْ شَاطِرٌ ، وَشَيْخُهُمْ لا يَأْمُرُ بِمَعْرُوفٍ وَلاَ يَنْهَى عَنْ مُنْكَرٍ ، الاعْتِزَازُ بِهِمْ ذُلٌّ ، وَطَلَبُ مَا فِي أَيْدِيهِمْ فَقْرٌ ، الْحَلِيمُ فِيهِمْ غَاوٍ ، وَالآمِرُ فِيهِمْ بِالْمَعْرُوفِ مُتَّهَمٌ ، وَالْمُؤْمِنُ فِيهِمْ مُسْتَضْعَفٌ ، وَالْفَاسِقُ فِيهِمْ مُشَرَّفٌ السُّنَّةُ فِيهِمْ بِدْعَةٌ ، وَالْبِدْعَةُ فِيهِمْ سُنَّةٌ ، فَعِنْدَ ذَلِكَ يُسَلِّطُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ شِرَارَهُمْ ، فَيَدْعُو خِيَارُهُمْ فَلا يُسْتَجَابُ لَهُمْ. [ المعجم الصغير 869]

ژباړه: مجاهد د عبدالله بن عباس رضي الله څخه روايت کوي، چې رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: ژر دی چې په آخره زمانه کي به داسي خلګ راسي، چې مخان به يې د انسانانو وي، خو زړونه به يې د شيطانانو وي، دوی به په شان د څيروونکو شرموښانو وي، او په زړونو کي به يې هيڅ شی د رحمت څخه نوي، تويوونکي به د وينو وي، د هيڅ بد کاره څخه به ځان نه منع کوي، کچيري ته د دوی پسې ولاړ سې، نو خطاباسي دي(فاسد کوي دي) اوکه ځيني پټ سي غيبت دي کوي، او چې کله خبري درسره کوي، درواغ درته وايي، اوکه امانت ورته پريږدې نوخيانت پکښې کوي، کوچنی به يې بد اخلاقه وي، اوځوان به يې خبيث وي، او سپين ږيري به يې امر بالمعروف او نهي عن المنکر نکوي، پدوی باندي عزت غوښتل ذلت دی، او د

M.N.Mazharee

دوی څخه مطالبه کول د هغه شیانو چي د دوی څخه دي فقردی، حلیم انسان به په دوی کي ګنهکاروي، او د ښه کار امرکوونکی به په دوی کي متهم وي، مؤمن به په دوی کي ضعیف وي، فاسق به په دوی کي مشرف وي، سنت به په دوی کي بدعت وي، او بدعت به په دوي کي سنت وي، نو پدې وخت کي الله پاک پر دوی باندي د دوی شریرترینه مسلط کوي، نو هغه ښه خلګ به یې دعاکوي، خو دعابه یې نه قبلیږي.

ډیری انسانان اوس همداسي دي په خاصه توګه کوم خلګ چي اوس یې د نړۍ سیاسي واک په ګوتوکي دی.

یعني په آخره زمانه کي به داسي خلګ راسي چي:

1 – مخونه به یې د انسانانو وي خو زړونه به یې د شیطانانو وي.

2 – داسي وحشیان به وي لکه څیرونکي شرموښان، په زړونو کي به یې هیڅ رحمت نوي او پرناحقه به د خلګو ویني تویوي.

3 – د هیڅ بد کاره څخه به مخ نه اړوي.

4 – که ورسره ولاړ سي خطاباسي دي او که نه ورسره ځې غیبت دي کوي.

5 – په خبرو کي به دروا غ وایي.

6 – په امانت کي به خیانت کوي.

7 – ماشومان به یې بد اخلاقه وي.

8 – ځوانان به یې خبیثان وي.

9 – سپین ږیري به یې امر بالمعروف او نهي عن المنکر نکوي.

10 – په دوی باندي عزت غوښتل د سړي لپاره ذلت دی.

11 – د دوی څخه د شیانو غوښتل فقر دی.

12 – په دوی کي به حلیم انسان ته د ګنهکار په سترګه کتل کیږي.

13 – په ښه کار باندي امر کوونکی به په دوی کي متهم وي.

14 – مؤمن به په دوی کي ضعیف وي.

M.N.Mazharee

15 – فاسق به په دوی کي مشرف وي.

16 – سنت به په دوی کي بدعت وي.

17 – بدعت به په دوی کي سنت وي.

کله چي خلک داسي شیان سوه نو الله پاک به پر دوی باندي هغه د دوی بد خلک مسلط کړي وروسته به یې ښه خلک دعا کوي خو دعا به یې نه قبلیږي.

د همداسي خلګو پسې د تللو له کبله نن پر اسلامي نړۍ باندي داسي خلک واکمن دي چي شریر د ټولو مخلوقاتو دي او حامیان د کفر، فحشاء، دیموکراسۍ او خرافاتو دي.

## انسانانوته په ناحقه عذاب ورکول:

إن الله عز و جل يعذب يوم القيامة الذين يعذبون الناس في الدنيا.[مسندامام احمد 15884]

ژباړه: الله پاک په ورځ کي د قیامت هغه چاته عذاب ورکوي چي هغوی په دنیا کي خلګوته عذاب ورکوي.

توضیح: یعني کوم خلک چي بې ګناه انسانان ځوروي او هغوی ته عذاب ورکوي نو الله پاک به د قیامت په ورځ همدغه خلګوته عذاب ورکړي.

خو په حقه باندي که څوک وژل کیږي اویا ورته بند ورکول کیږي او یا شرعي حد درباندي جاري کیږي، او یا ظالمان قصاصا وژل کیږي، او یا مرتدین د ارتداد له وجهي وژل کیږي نو هغه په ظلم کي داخل ندی او ظلم نسي ورته ویل کیدلای بلکي ددې عکس د ظلم او ستم مخنیوی دی

## پر دم باندي مزدوري اخیستل:

عن أبي سعيد الخدري قال : بعثنا رسول الله صلى الله عليه و سلم في سرية ثلاثين راكبا قال فنزلنا بقوم من العرب قال فسألناهم أن يضيفونا فأبوا قال فلدغ سيدهم قال فأتونا فقالوا فيكم أحد يرقي



M.N.Mazharee

من العقرب قال فقلت نعم أنا ولكن لا أفعل حتى تعطونا شييا قالوا فانا نعطيكم ثلاثين شاة قال فقرأت عليها الحمد لله سبع مرات قال فبرأ قال فلما قبضنا الغنم قال عرض في أنفسنا منها قال فكففنا حتى أتينا النبي صلى الله عليه و سلم قال فذكرنا ذلک له قال فقال أما علمت انها رقية اقسموها واضربوا لي معكم بسهم. [مسنداحمدبن حنبل 11085]

ژباړه: د ابي سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی، چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم موږ په يو وړوکي لښکر کي چي ديرش سواره وو، يو ځای ته واستولو، نو موږ پر يوقوم د عربو تيريدلو، د هغوی څخه مو وغوښتل چي موږ ميلمانه کړي(ډوډۍ راکړي) خو هغوی ډډه وکړه، وروسته د هغوی مشر لړم وداړی، دوی موږ ته راغله او ويل يې: آيا په تاسوکي څوک سته چي زموږ پر مشرباندي د لړم د خوړلو دم وکړي؟ ما ويل هو، زه يم. خو تر هغه وخته زه دم نه پرکوم ترڅو چي تاسو موږ ته يوشی رانکړی، دوی وويل چي موږ تاسوته ديرش پسونه درکوو، نو ماورباندي الحمدلله 7 واره وويل ، هغه سړی جوړسو، نو چي کله موږ هغه پسونه واخيستل، په زړونو کي مو يوڅه وسوسه وه،( چي دا به حلال وي اوکه به نوي حلال ؟) نو پسونو ته مو لاس ورنه وړ ترڅو چي و رسول اکرم صلي الله عليه وسلم ته ر اغلو، او دا قيصه موورته وکړه، رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وويل: ته څه وپوهيدلې چي دغه (الحمدلله) دم دی؟ پسونه سره وويشی او ماته هم پکښې برخه معلومه کړي.

## ټول يي بايد وګورو او عمل ورباندي وکړو.

حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عُمَرَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : إِذَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِقَوْمٍ عَذَابًا أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ ثُمَّ بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ. [صحيح البخاري 7108]

ژباړه: حمزه بن عبدالله بن عمر فرمايي: ماد ابن عمررضي الله عنه څخه واوريدل چي ويل يې: رسول اکرم صلي الله عليه وسلم و فرمايل: کله چي الله پاک پر يو قوم باندي عذاب نازل کړي، نو ټوله پرې ګرفتاره کيږي، وروسته بيا دوی پرخپلو اعمالو باندي را حشر کيږي.

توضیح: یعني کله چي د الله پاک عذاب راسي، نوګناه کاره او بې ګناه دواړه په اخته کیږي، خوکله چي يې خدای پاک بیا په قیامت کي را حشرکړي، د هریوه سره د هغه د اعمالو موافق محاسبه کوي، یعني که يې ښه کارونه کړیوه، او الله يې د ځانه څخه خوشاله کړی وو، الله ورته عفو کوي او جنت ورکوي، او که يې بد کارونه کړیوه، او الله يې ځانته په قهرکړی وو، الله ورته عذاب او جهنم ورکوي.

## په دنیوي مصیبتونوباندي مه خوابدي کیږی:

عن أنس قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا أراد الله بعبده الخير عجل له العقوبة في الدنيا وإذا أراد الله بعبده الشر أمسك عنه بذنبه حتى يوافي به يوم القيامة. [ سنن ترمذي 2396]

ژباړه: د حضرت انس رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: کله چي الله پاک د خپل بنده لپاره خیر وغواړي نو هغه ته په دنیا کي عذاب ورکوي(یعني په دنیا کي يې پر ګناه باندي مواخذه کوي او آخرت ته يې ګناه نه پریږدي) اوچي د کوم بنده لپاره د شر اراده ولري، نوهغه دګناه سره وساتي ترڅو چي په قیامت کي بیا ورته پوره عذاب ورکړي.

## پر یو بل د کافر او یا مرتد بې تحقیقه ټاپې مه لګوی!

عَن ابنِ عُمَرَ ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم – : أَيُّمَا امرِئٍ قَالَ لأَخِيهِ كَافِرٌ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا ، إِنْ كَانَ كَمَا قَالَ ، وَإِلا رَجَعَتْ عَلَيْهِ .

[مستخرج ابي عوانه 41]

ژباړه: د عبدالله ابن عمر رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: هر سړی چي خپل ورور ته کافر ووايي، نو په یوه باندي ددوی دغه خبره

M.N.Mazharee

لګیږي، کچیري هغه سړی داسي وو لکه ده چي ویلي وه ( یعني کافر وو) نو صحیح ده، او که هغه سړی داسي نه وو(یعني کافرنه وو) نو خبره بیرته وده ته را ګرځي (یعني دی خپله کافر کیږي).

یادونه: له بده مرغه چي اوس ډیری خلګ په داسي خبرو باندي اخته دي چي یو بل ته: کافر، مرتد، فاسق او یا هم داسي نور الفاظ کاروي.

خو مسلمان باید دداسي الفاظو په کارولو کي دډیر دقت څخه کار واخلي د تعصب له وجهي او یا هم د ځان څخه د مخالفت له وجهي سړی هیڅاته باید داسي الفاظ ونه کاروي، کنه نو تاوان به یې خپل وځانته رسیږي.

## د اخري زماني د باچاهانو او خلګو په اړه د رسول الله وړاندوینه:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : يَا كَعْبُ بْنَ عُجْرَةَ ، أُعِيذُكَ بِاللَّهِ مِنْ إِمَارَةِ السُّفَهَاءِ ، إِنَّهَا سَتَكُونُ أُمَرَاءُ ، مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِمْ فَأَعَانَهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ وَصَدَّقَهُمْ بِكَذِبِهِمْ فَلَيْسَ مِنِّي ، وَلَسْتُ مِنْهُ ، وَلَنْ يَرِدَ عَلَيَّ الْحَوْضَ ، وَمَنْ لَمْ يَدْخُلْ عَلَيْهِمْ ، وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ ، وَلَمْ يُصَدِّقْهُمْ بِكَذِبِهِمْ ، فَهُوَ مِنِّي ، وَأَنَا مِنْهُ ، وَسَيَرِدُ عَلَيَّ الْحَوْضَ. يَا كَعْبُ بْنَ عُجْرَةَ ، الصَّلاَةُ قُرْبَانٌ ، وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِي الْخَطِيَّةَ كَمَا يُطْفِي الْمَاءُ النَّارَ ، وَالنَّاسُ غَادِيَانِ ، فَمُبْتَاعٌ نَفْسَهُ ، فَمُعْتِقٌ رَقَبَتَهُ ، وَمُوبِقُهَا. يَا كَعْبُ بْنَ عُجْرَةَ ، إِنَّهُ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ.[صحيح ابن حبان1723]

ژباړه: جابررضي الله عنه روایت کوي چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وکعب بن عجزه ته وفرمایل: اي کعب بن عجره! زه ستا لپاره پناه غواړم د پاچاهۍ څخه د بې عقلانو خلګو چي هغه به زما وروسته راځي هرڅوک چي پر دوی باندي داخل سي او پر ظلم باندي ددوی سره مرسته وکړي، ددوی د درواغو تصدیق وکړي، هغه سړی زما څخه ندی، اونه هم زه د هغه څخه یم، او هیڅ وخت به هغه سړی زما حوض(حوض کوثر) ته را نسي.

او هر څوک چي پر دوی باندي داخل نسي او پرظلم کولو ددوی سره مرسته ونکړي، ددوی د درواغو تصدیق ونکړي، نو هغه زما څخه دی او زه د هغه څخه یم او هغه به زما حوض ته راسي.
اي کعب بن عجزه! لمونځ الله پاک ته نیژدي کیدل دي او روژه سپردی اوصدقه ګناه وژني لکه اوبه چي اور وژني، او خلګ دوه ډوله دي: دوی سهار کوي پداسي حال کي چي ځینو ځانونه پلورلي وي، او ځینو نورو ځانونه آزاد کړي وي، اي کعب بن عجزه! هره غوښه چي په حرام باندي لویه سي نو هغه به جنت ته داخله نسي.
توضیح: دا د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وړاند وینه ده چي د ظالمو اوګمراه امیرانو او پاچاهانو په باره کي یې کړېده، همدا راز په باره کي د هغو خلګو چي دداسي پاچاهانوسره کار کوي او د هغوی سره ارتباط ساتي عذاب بیان کړی دی چي هرڅوک دداسي پاچاهانو سره کارکوي، ددوی سره پرظلم باندي مرسته کوي او د هغوی د درواغو تصدیق کوي، نو هغه سړی زما څخه ندی او زه د هغه څخه نه یم.
همدا راز یې فضایل د ځینو عباداتو بیان کړیدي چي په لمانځه باندي سړی الله پاک ته نیژدې کیږي، روژه د ګناهونو مخ ته سپردی یعني د روژې په نیولو باندي انسان دډیرو ګناهونو څخه نجات پیدا کوي، او صدقه کول ګناه ختموي لکه اوبه چي اور ختموي.
او وروسته فرمایي: پرخلګو باندي سهار کیږي پداسي حال کي چي ځینو ځانونه خرڅ کړي او هلاک کړي وي او ځینو نورو بیا ځانونه د اور څخه آزاد کړي وي، یعني ځینو خلګو بد او ناروا کارونه کړي وي چي پدې باندي یې ځان مستحق د اور ګرځولی وي او ځینو نورو بیا ښه کارونه کړي وي چي پدې باندي یې ځان مستحق د جنت ګرځولی وي.
بیا وروسته فرمایي چي هر څوک په حرام مال باندي لوی سي نو د هغه سره اور مناسب دی او جنت ته به نه داخلیږي.
الله پاک دي مو د اوسنۍ ظالمو اوګمراهو پاچاهانو د ملګریتوب او ملتیاڅخه وساتي، او چي کوم خلګ ورسره کار کوي الله پاک دي ورته هدایت وکړي.

## پداسي حال کي مړکيدل چي نيت د جهاد ورسره نوي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ »[صحيح مسلم 5040]

ژباړه: د حضرت ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل:څوک مړسي او هغه جهاد نوي کړی او نه يې هم نيت د جهاد کړی وي، نو هغه سړی پر يوې شعبې د منافقت مړسو.

## په اسلام کي قوم پرستي نسته:

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ ».[سنن ابي داود باب في العصبية حديث 5123]

ترجمه: د حضرت جبيربن مطعم رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: زموږ څخه ندی هغه څوک چي خلګ قوم پالني ته را وبولي. او زموږ څخه ندی هغه څوک چي پرقوم پالني باندي جنګ وکړي. او زموږ څخه ندی هغه څوک چي پرقوم پالني باندي مړسي.

توضيح: يعني څوک چي په اسلام کي قوم پالنه ترويجوي، د قوميت او نسب پر بنياد تقسيم او جدايي مابين کي د خلګو راولي، لحاظ ته د قوميت تر لحاظ د شريعت ترجيح ورکوي ( مثلا دده خپل قوم شرعا ملامت وي خو د قومی په خاطر يې ملامت نه بولي او د قومی په خاطر يې مراعات کوي)، پر خپل قوم د خلګو سره جنګ کوي کڅه هم پر ناحقه وي، قومي معيار د شرافت او اصالت ګڼي، ځان په خاطر د قومی ترځيني نورو خلګو اصيل او بهتره ګڼي، يا پداسي حال کي مړسي چي د قوميت پورتنې مفکوره ورسره وي، نو ددغه سړي په حق کي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم فرمايي: "دی زموږڅخه ندی".

## تصوف څه شی دی؟:

أَخْبَرَنَا أَبُو زَكَرِيَّا بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: حَضَرْتُ مَجْلِسَ أَبِي الْحَسَنِ بْنِ سَمْعُونَ، فَسَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ التَّصَوُّفِ مَا هُوَ ؟ قَالَ: " إِنَّ لَهُ اسْمًا وَحَقِيقَةً، فَعَنْ أَيِّهِمَا تَسْأَلُ ؟ " فَقَالَ: عَنْهُمَا جَمِيعًا، فَقَالَ: " أَمَّا اسْمُهُ فَنِسْيَانُ الدُّنْيَا وَنِسْيَانُ أَهْلِهَا، وَأَمَّا حَقِيقَتُهُ فَالْمُدَارَاةُ مَعَ الْخُلُقِ وَاحْتِمَالُ الْأَذَى مِنْهُمْ مِنْ جِهَةِ الْحَقِّ ".[شعب الإيمان8142]

ژباړه: ابوزکریا وايي: زه مجلس ته د ابوالحسن بن سمعون حاضر سوم، په مجلس کي یو سړي پوښتنه ځیني وکړه چي تصوف څه شی دی؟ هغه ورته وویل: یو یې نوم دی او بل یې حقیقت، ته د کوم یوه په باره کي پوښتنه کوې؟ سړي ورته ویل: د دواړو په باره کي، ابوالحسن ورته وویل: نوم یې ددنیا او د هغه د اهل هیرول دي، او حقیقت یې د خلګوسره ډیره ښه ګزاره کول او په حق کي د دوی لخوا د آزار تحمل اوګالل دي.

یعني دا چي څوک د دنیا او اهل سره د دنیا محبت کم کړي او هغه خپل د ژوند یواځنی هدف ونه ګرځوي همدغه ته تصوف وايي، او حقیقت یې هم دادی چي إنسان باید داسي ښکلي او ښایسته اخلاق ولري چي په مټ یې په ټولنه کي ښکلی ښایسته او ټولنیز ژوند وکړي، د حق په لاره کي تکلیفونه اومشکلات و زغمي.

## ترباران لاندي دعا کول:

(ثنتان ما) في رواية لا (تردان الدعاء عند النداء) يعني الأذان للصلاة (وتحت المطر) أي دعاء من هو تحت المطر لا يرد أو قلما يرد فإنه وقت نزول الرحمة لا سيما أول قطر السنة والكلام في دعاء متوفر الشروط والأركان والآداب.[فيض القدير شرح جامع الصغير3566]

ژباړه: دوې دعا ګاني نه رديږي يوه دعا د آذان په وخت کي او بله دعا تر باران لاندي.

توضيح: يعني په دغه دوو وختونو کي چي څوک دعا وکړي، دعا يې قبليږي، خو البته هغه دعا چي شرايط يې برابر وي يعني په اخلاص او صداقت باندي وي د إنسان نس د حرام څخه خالي وي او مشروعه دعا وي.

## در زير باران دعا نمودن:

(ثنتان ما) في رواية لا (تردان الدعاء عند النداء) يعني الأذان للصلاة (وتحت المطر) أي دعاء من هو تحت المطر لا يرد أو قلما يرد فإنه وقت نزول الرحمة لا سيما أول قطر السنة والكلام في دعاء متوفر الشروط والأركان والآداب.[فيض القدير شرح جامع الصغير3566]

ترجمه: دو دانه دعا رد نمي شود، دعاييکه در وقت آذان باشد ودعاييکه زير باران باشد.

توضيح: يعني در اين دو وقت دعا قبول مي شود اول در وقت آذان دوم زير باران البته دعاييکه شرايطش برابر باشد يعني با اخلاص وصداقت باشد باشکم خالي از حرام باشد ودعاي مشروع باشد.

## د نسب تبديلول حرام دي:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ لَيْسَ مِنْ رَجُلٍ ادَّعَى لِغَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُهُ إِلاَّ كَفَرَ وَمَن ادَّعَى قَوْمًا لَيْسَ لَهُ فِيهِمْ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ.[صحيح البخاري 3508]

M.N.Mazharee

ژباړه: د ابوذر رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی، چي ده د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل، چي ويې فرمايل: ندی هغه څوک چي د خپل پلار څخه بغير د بل چا دعوه وکړي پداسي حال کي چيدی هم پوهيږي ،(چي پلار يې څوک دی) مګر دا چي دی پدې باندي کافر کيږي، او هر څوک چي د يوې قومی دعوه وکړي پداسي حال کي چي دی د هغې قومی څخه نوي، مګر دا چي ځانته دي ځای په اور کي وټاکي.

توضيح: يعني د خپل نسب بدلول او هغه ته تغيرورکول حرام دی، کوم څوک چي يې کوي يعني خپل نسب ته تغير ورکوي، او بيا هغه ځانته روا هم بولي نو دی کافر کيږي، او که يې روا نه بولي بيايې هم کوي، نو بيا کافرکيږي خونه ولي ډير سخت ګناهکار دی، ځکه چي د يوې خوا يې کفران د الله د نعمت کړی دی، او بل يې داسي کار کړی دی، چي هغه د کفر کار دی نه د اسلام، همدا راز چي څوک ځان په يوې قومی پوري تړي پداسي حال کي چي دی د هغې قوی څخه نوي، نو دغه سړی دي ځانته په جهنم او اورکي ځای وټاکي.

## پوره ايمان او انساني غوراوی:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَايِهِمْ خُلُقًا »[سنن ترمذي 1195]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کامل ترينه د مومنانو په ايمان کي هغه څوک دی چي ډير ښه اخلاق ولري، او غوره ترينه ستاسو هغه څوک دی چي د خپلو ميرمنوسره ښه اخلاق کوي.

توضيح: يعني په ښه اخلاقو او د خپلي ميرمني سره په ښه ژوند باندي کيدلای سي إنسان د پوره ايمان او انساني غوراوي خاوند سي.

الله پاک دي هرمسلمان ته ښه اخلاق ورکړي او الله دي هرمسلمان ته ددې توفيق ورکړي چي د خپلي ميرمني سره د شريعت په چوکاټ کي د ننه ښکلي او ښايسته اخلاق وکړي.

M.N.Mazharee

## په کوم شي باندي چي خبر نه يې تبصرې مه وربانديکوه!

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَکَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَيکَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا.[سورة الاسراء 36]

ژباړه: د هغه شي متابعت مکوه کوم چي ته وربانديعلم نلري، يقينا چي غوږونه او ستر ګي او زړه د هريوه په هکله د دوی څخه پوښتنه کيږي.

يعني په هغه شي پسې مځه کوم چي ته وربانديخبر نه يې، او هغه خبره مکوه کومه چي ته يې په ثبوت باندي يقين نلري.

قَالَ ابن وهب: وَأَخْبَرَنِي رَجُلٌ، مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، أَنَّ لُقْمَانَ، قَالَ لِابْنِهِ: يَا بُنَيَّ، كُنْ سَرِيعًا تَفَهُّمًا، بَطِيئا تَكَلُّمًا، وَمِنْ قَبْلِ أَنْ تَكَلَّمَ فَتُفْهِمَ. .[الجامع للحديث لإبن وهب339]

ژباړه: محمد بن عجلان وايي: لقمان حکيم خپل زوی ته وويل: اي زوی جانه! ډير تيز فهمه وسه او وروسته خبري کوونکی، او مخکي تر دې چي خبري شروع کړې ځان پوه کړه.

يعني په خبره باندي خپل سر ژر خلاصوه وروسته خبري کوه يعني کله چي دي په خبره باندي سر خلاص کی بيا نو په خبرو باندي شروع وکړه، مخکي د سرخلاصيدلو څخه خبري مکوه، او چي کله دي غوښتل په يوې موضوع کي خبري وکړې نو مخکي خپل سر وربانديخلاص کړه بيا وروسته وربانديوږغيږه.

## د هرچا سره په ساده او روانه ژبه خبري وکړی:

وَأَخْبَرَنِي اللَّيْثُ ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيد ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ ، أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ عَلَيْهِ السَّلامُ ، قَالَ : قُولُوا بِقَوْلِكُمْ ، وَلا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ ، فَإِنَّ تَشْقِيقَ الْكَلامِ مِنَ الشَّيْطَانِ.[الجامع للحديث لإبن وهب]

ژباړه: محمد بن يحيي وايي: ماته د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه دا خبره را رسيدلې ده چي ده وفرمايل: په خپله ژبه خبري وکړی، شيطان دي پرتاسو باندي نه غالبه کيږي يقينا چي ګډوډي (سختي) خبري د شيطان څخه دي.
توضيح: يعني کله چي د چاسره خبري کوی او ياهم يوځای تبليغ او بيان کوی نو په ساده او روانه ژبه خبري وکړی ترڅو هرڅوک ستاسو په خبرو باندي پوه سي، سختي د لغاتونو څخه ډکي خبري مکوی ځکه چي داسي خبري کول د شيطان له لوري وي.

## په ټوليزه توګه دعا کول:

عَنْ حَبِيبِ بْنِ مَسْلَمَةَ الْفِهْرِيِّ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَجْتَمِعُ مَلأ فَيَدْعُو بَعْضُهُمْ ، وَيُؤَمِّنُ الْبَعْضُ ، إلاَّ أَجَابَهُمُ اللَّهُ. [کنزالعمال 3367] . [المستدرک علي الصحيحين 5478] . [المعجم الکبير للطبراني 3456] .[دلايل النبوة ]
ژباړه: د حبيب بن مسلمة فهري رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي ما د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې: نه سره را ټوليږي يوه ټولۍ چي ځيني يې دعا کوي او ځيني نور يې آمين وايي مګر دا چي خدای پاک يې دعا قبلوي.
توضيح: يعني کله چي يوه ډله خلګ سره را ټول سي ځيني يې دعا کوي او ځيني نور يې آمين وايي نو خدای پاک ددوی دعا قبلوي.

## پنځه شيان په پنځوشيانو کي:

عَن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِي اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ:خَمْسٌ بِخَمْسٍ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّه وَمَا خَمْسٌ بِخَمْسٍ؟ قَالَ:مَا نَقَضَ قَوْمٌ الْعَهْدَ إِلا سُلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوُّهُمْ، وَمَا حَكَمُوا بِغَيْرِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلا فَشَا فِيهِمُ الْفَقْرُ، وَلا ظَهَرَتْ فِيهِمُ الْفَاحِشَةُ إِلا فَشَا فِيهِمُ الْمَوْتُ، وَلا

M.N. Mazharee

طفَّفُوا الْمِكْيَالَ إِلا مُنِعُوا النَّبَاتَ وَأُخِذُوا بِالسِّنِينَ، وَلا مَنَعُوا الزَّكَاةَ إِلا حُبِسَ عَنْهُمُ الْقَطْرُ.[المعجم الكبيرللطبراني 10830]

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: پنځه شيان په مقابل کي د پنځو شيانو دي. صحابه وو ورته وويل: يارسول الله کوم پنځه په مقابل کي د پنځه شيانو دي؟ رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هيڅ قوم خپل تعهد او وعده نه ماتوي مګر دا چي الله پاک به ورباندي د دوی دښمن مسلط کوي. او هيڅ قوم په غير د ما انزل الله حکم نکوي مګر دا چي په دوی کي به فقر او مسکنت ډيريږي.او په هيڅ قوم کي فحشاء نه ډيريږي مګر دا چي په دوی کي به مرګ عام کيږي. او هيڅ قوم پيمانه او ترازو نه کموي مګر دا چي د کښت څخه به منع کيږي او وچ کالي به باندي راځي. او هيڅ قوم زکات نه منع کوي مګر دا چي باران به ورباندي دريږي.

يعني:

1. کوم خلګ چي په وعده باندي وفا نکوي پر هغوی باندي به د دوی دښمن مسلط سي.
2. کوم خلګ چي د الله دکتاب نه بغير په بل شي باندي حکم کوي پر هغوی باندي به فقر او مسکنت غالب سي.
3. کوم خلګ چي په دوی کي فحشاء ډيره وي نو په دوی کي به مرګونه ډير سي.
4. کوم خلګ چي په ترازو او پيمانه کي خيانت کوي د هغوی د کښت او کرهني څخه به برکت ولاړ سي او وچکالي به ورباندي راسي.
5. اوکوم خلګ چي د زکات د ورکولو څخه ممانعت وکړي پر هغوی باندي به باران اوريدل و دريږي.

## پرهيزګاري او د هغې لوازم:

عن يونس بن عبيد: قال: غاية الورع الخروج من كل شبهة والمحاسبة عند كل طرفة.[محاسبة النفس]



M.N. Mazharee

ژباړه: یونس بن عبید وایي: انتهاء د پرهیزګارۍ د هري شبهې څخه وتل او د سترګو د هر رپیدل سره د ځان محاسبه کول دي.
توضیح: یعني څوک چي پرهیزګاري کوي غایه او انتهایې دغه ده چي ځان د شبهاتو څخه ساتي یعني هغه شیان چي په هغو کي د حرمت شبهه وي دی ورڅخه ځان ژغوري، همدا راز ځان د هر ځل سترګي رپیدلو سره (چي کنایه دډېر والي څخه ده) محاسبه کوي، پدې معني چي خپل اعمال څېړي چي تیر سوي اعمال مي څنګه کړي او کوم اعمال مي کړېدي او په را روان وخت که به کوم اعمال کوم اوڅنګه به یې کوم.

## د نیک عمل کول د کامیابۍ نښه ده:

عن أنس قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا أراد الله بعبد خيرا استعمله فقيل كيف يستعمله يا رسول الله ؟ قال يوفقه لعمل صالح قبل الموت .
[سنن ترمذي 2142]
ژباړه: د حضرت انس رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: کله چي الله پاک د یو بنده لپاره خیر وغواړي نو هغه استعمالوي، یو چا وویل : څنګه یې استعمالوي یارسول الله؟ رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: هغه ته د مرګ مخکي د نیک عمل توفیق ورکوي.
الله پاک دي راته د مرګ مخکي د نیکو اعمالو دکولو توفیق راکړي.

## د مسواک اهمیت:

عَنْ عَايِشَةَ دَخَلَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا مُسْنِدَتُهُ إِلَى صَدْرِي وَمَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ سِوَاكٌ رَطْبٌ يَسْتَنُّ بِهِ فَأَبَدَّهُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بَصَرَهُ فَأَخَذْتُ السِّوَاكَ فَقَصَمْتُهُ وَنَفَضْتُهُ وَطَيَّبْتُهُ ثُمَّ دَفَعْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَاسْتَنَّ بِهِ فَمَا رَأَيْتُ



M.N.Mazharee

رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم اسْتَنَّ اسْتِنَانًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ فَمَا عَدَا أَنْ فَرَغَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم رَفَعَ يَدَهُ ، أَوْ إِصْبَعَهُ ثُمَّ قَالَ فِي الرَّفِيقِ الأَعْلَى ثَلاَثًا ثُمَّ قَضَى وَكَانَتْ تَقُولُ مَاتَ بَيْنَ حَاقِنَتِي وَذَاقِنَتِي.

ژباړه:حضرت عايشه رضي الله تعالي عنها وايي: عبدالرحمن بن ابي بکر پر رسول اکرم صلي الله عليه وسلم داخل سو پداسي حال کي چي هغه ما خپل ځيګر ته تکيه کړی وو، او د عبدالرحمن سره لوند مسواک وو چي خپل پر غاښو يې تيروی، نو رسول اکرم صلي الله عليه وسلم خپلي سترګي ور واړولې او پسې کتل يې (يعني ډير يي ورته کتل) نو ما مسواک را واخيستی او ومي چيچی بيا مي هغه سر ځيني وغورځوی او ملايم (نرم ) مي کړی بيا مي و رسول اکرم صلي الله عليه وسلم ته ورکړ نو ده مسواک ووهی ، او ما تر اوسه رسول اکرم صلي الله عليه نه وو ليدلی چي داسي ښه مسواک يې وهلی وي (يعني مسواک يې ډير ووهی) کله چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم د مسواک وهلو څخه خلاص سو، نوخپل لاس او يا ګوته يې پورته کړه وروسته يې درې ځلي وويل: د لوړو ملګرو سره ( رفيق أعلي يعني لوړ ملګري مراد ورڅخه ټولی د أنبياؤ ده) وروسته يې روح قبض سوه، او حضرت عايشې رضي الله تعالي عنها به ويل: رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفات سو په مابين کي زما د غاړي او زني .

حاقنة د نس څخه لوړ ترغاړي پوري او ذاقنه و زني ته وايي.

## ايمان او د کفارو سره دوستي نه سره يو ځای کيږي:

وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَكِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ فَاسِقُونَ.[المايدة 81]

ژباړه: کچيري دوی پر الله او پيغمبر او پر هغه څه چي پر پيغمبر نازل سويدي إيمان درلودلای نو د کافرانو سره به يې دوستي نوای کړې، ولي ډيری د دوی د إيمان څخه وتلي دي.

M.N. Mazharee

توضیح: پدې آیت کې الله پاک د یهودو او منافقینو د نه إیمان لرو علامه دا ښودلې ده چې دوی د مشرکینو سره د مکې دوستي کوي، یعني کچیري دوی ایمان درلودلای نو هیڅ وخت به یې د هغوی سره دوستي نوای کړې.
نو د همدغه آیت څخه په استدلال داسي ویلای سو چې إیمان او دکفاروسره دوستي نسي سره یوځای کیدلای.

## امر بالمعروف او نهي عن المنکر مه پرېږدی!

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" لَا قُدِّسَتْ أُمَّةٌ لَا تَأْخُذُ لِضَعِيفِهَا حَقَّهُ مِنْ قَوِيِّهَا غَيْرَ مُتَعْتَعٍ "[شعب الإيمان 7143]
ژباړه: د جابر بن عبدالله رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی چې رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: ندي پاکیږي هغه امت چې د خپل ناتوانه حق د خپل قوي څخه نه اخلي پداسي حال کي چې هیڅ ضرر دي هم و ناتوان ته ونه رسیږي.
توضیح: یعني الله تعالي دي دګناه څخه نه پاک کوي هغه امت چې هغوی د خپل ضعیف او ناتوان سړي حق د خپل قوي او زورور څخه نه اخلي، پداسي حال کي چې هیڅ تاوان اوضرر دي هم و ناتوانه سړيته ونه رسیږي، یعني په خپل مینځ کي امر بالمعرف اونهي عن المنکر نکوي.
دا و داسي قوم ته د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم ښیرا او بدوا ده، ځکه پر پرېښودلو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر الله پاک ډېر سخت عذابونه مرتب کړیدي چې یو د هغو څخه دغه ښیرا ده چې رسول اکرم صلي الله علیه وسلم یې و دغسي خلګوته کوي.
چې زموږ زمانه د همدغه حدیث مصداق دی ځکه چې اوس خو د ضعیف او ناتوان د حق اخیستلو غم د هیچاسره نشته إلا ماشاء الله، اوکه یې بیا کوم څوک اخلي نو ارومرو ورسره ناتوان سړيته ضرر رسیږي.
الله پاک دي د امر بالمعروف مهمه فریضه بیرته په موږ کي را ژوندې کړي او الله پاک دي یو داسي إسلامي نظام راوړي چې د امر بالمعروف اونهي عن المنکر وجیبې ته ځانګړې او خاصه پاملرنه وکړي.

M.N.Mazhar

## دګمراه مشرانو او بخیل سرمایه دارانو پایلي:

الله پاک چي د یو قوم د هلاکت اراده وکړي نو مشرتوب یې د ګمراهانو په لاس ورکوي او سرمایه یې د بخیلانو په لاس ورکوي.

وقال محمد بن المنكدر كان يقال إذا أراد الله بقوم شراً أمر الله عليهم شرارهم وجعل أرزاقهم بأيدي بخلايهم.[إحياء علوم الدين – مساوي الاخلاق]

ژباړه: محمد بن المنكدر ويلي : داسي به ويل كيدل چي كله الله پاک د يو قوم لپاره شر وغواړي ، نو پر هغوی باندي د دوی شرير خلګ اميران جوړوي، او روزي يې د بخيلانو په لاس وركوي.

توضیح: یعني کله چي الله پاک د یوقوم د بدمرغۍ اراده وکړي، نو د هغه حکومت او سرپرستي د بدو او نا اهله خلګو په لاس ورکوي او دنیا او سرمایه یې د بخیلانو په لاس ورکوي.

یا الله دنا اهلو خلګو د تسلط، او بخیلانو ته د مجبوریت څخه مو وساتې!

## په جنت کي د روژاتیانو لپاره ځانګړې دروازه:

عن سهل بن سعد عن النبي صلى الله عليه و سلم : قال إن في الجنة لبابا يدعى الريان يدعى له الصايمون فمن كان من الصايمين دخله ومن دخله لم يظمأ أبدا.[سنن ترمذي 765]

د سهل بن سعد څخه روایت دی چي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: یقینا چي په جنت کي یوه دروازه ده چي " ریان " بلل کیږي د هغې څخه روژاتیان را غوښتل کیږي، نوچي څوک د روژاتیانو څخه وي هغه به ورڅخه داخل سي او چي څوک ورڅخه داخل سو نو د تل لپاره به تږی نسي.

یاالله ته مو د همدغي دروازې څخه ننوتل په برخه کړې!

## ذکرکوی خو په ټیټ اواز باندي:

1. عن عايشة ، قالت : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : « فضل الذكر الخفي على الذي تسمعه الملايكة كفضل الفريضة على التطوع »[الترغيب في فضايل الأعمال171]

ژباړه: د حضرت عايشې رضي الله تعالي عنها څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د كرار ذكر فضيلت پر هغه ذكر چي ملايكي يې اوري داسي دی لكه فضيلت د فرض لمانځه پر نفلي لمانځه باندي.

توضيح: مراد ددې څخه چي ملايكي يي اوري جهري ذكر دی، يعني خفيه اوكرار ذكر پر جهري ذكر باندي دومره فضيلت لري لكه فرض لمونځ يې چي پر نفلي لمانځه لري.

2. عن سعد بن أبي وقاص ، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : « خير الرزق ما يكفي ، وخير الذكر الخفي »[الترغيب في فضايل الأعمال 172]

ژباړه: د سعد بن ابي وقاص رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اكرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: بهترينه رزق هغه دی چي د إنسان كفايت وكړي او بهترينه ذكر هغه دی چي خفيه (په كراره باندي ) وي.

توضيح : په فيض القدير كي ددې حديث په توضيح كي ليكي: (خير الرزق ما يكفي) أي ما يقنع به ويرضى على الوجه المطلوب شرعا وإلا فلا يملأ عين ابن آدم إلا التراب.[فيض القدير ج 3 ص 629]

ژباړه: بهترينه رزق هغه دی چي د إنسان كفايت وكړي يعني هغه چي إنسان ورباندي قناعت وكړي او په سمه شرعي طريقه ورباندي خوشاله سي كننه نو د إنسان سترګي خو بيله خاورو په بل شي نه ډكيږي.

M.N.Mazharee

همدا راز پدې حديث کي د زړه د غذا او بدن د غذا يوقسم تعادل بيان سوی دی چي بايد د زړه غذا چي ذکر دی تر خفيه پورته نسي چي بيا امکان لري د إنسان څخه ريا اوتکبر وسي، همدا راز د بدن غذا بايد ترحد اضافه نسي چي بيا د إنسان څخه سرکښي ، تکبر او اسراف کيږي.[فيض القدير]

3. عَنْ ضَمْرَةَ بْنِ حَبِيبٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اذْكُرُوا اللَّهَ تَعَالَى ذِكْرًا خَامِلاً قَالَ : فَقِيلَ : وَمَا الذِّكْرُ الْخَامِلُ ؟ قَالَ : الذِّكْرُ الْخَفِيُّ .
[الزهد لإبن مبارک 155]
ژباړه:ضمرة بن حبيب فرمايي: چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د الله ذکر پداسي حالت کي وکړئ چي " خامل " وسي چا پوښتنه وکړه: ذکر خامل څشی دی؟ رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کرار ذکر دی.

4. عن عايشة ، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : « تفضل الصلاة التي يستاک لها على الصلاة التي لا يستاک لها سبعين ضعفا ، ويفضل الذكر الخفي على غيره من الذكر سبعين ضعفا »[الفوايد المنتقاة عن الشيوخ العوالي140]
ژباړه: د حضرت عايشې رضي الله تعالي عنها څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هغه لمونځ چي د هغه لپاره مسواک وهل سوی وي پر هغه لمانځه چي مسواک ورته نوي وهل سوی 70 ځلي فضيلت لري، او هغه ذکر چي هغه په کراره وويل شي پر بل ذکر(چي په زوره وويل سي) 70 ځلي فضيلت لري.
توضيح: پدې حديث کي د مسواک او خفيه ذکر فضيلت بيان سوی دی ، چي هغه لمونځ چي د هغه لپاره مسواک وهل سوی وي فضيلت يې تر هغه لمانځه چي مسواک ورته نوي وهل سوی اويا ځلي دی، او هغه ذکر چي خفيه وي يعني په کراره باندي وويل سي فضيلت يې ترهغه ذکر چي په زوره باندي وويل اويا70 ځلي دی.

فَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رَفْعُ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ بِدْعَةٌ وَيُخَالِفُ الْأَمْرَ مِنْ قَوْله تَعَالَى { وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنْ الْقَوْلِ } فَيَقْتَصِرُ عَلَى مَوْرِدِ الشَّرْعِ............. وَصَرَّحَ قَاضِي خَانْ فِي فَتَاوِيهِ بِكَرَاهَةِ الذِّكْرِ جَهْرًا وَتَبِعَهُ عَلَى ذَلِكَ صَاحِبُ الْمُسْتَصْفَى ، وَفِي الْفَتَاوَى الْعَلَّامِيَّةِ وَتُمْنَعُ الصُّوفِيَّةُ مِنْ رَفْعِ الصَّوْتِ وَالصَّفْقِ وَصَرَّحَ بِحُرْمَتِهِ الْعَيْنِيُّ فِي شَرْحِ التُّحْفَةِ وَشَنَّعَ عَلَى مَنْ يَفْعَلُهُ مُدَّعِيًا أَنَّهُ مِنْ الصُّوفِيَّةِ وَاسْتَثْنَى مِنْ ذَلِكَ فِي الْقُنْيَةِ مَا يَفْعَلُهُ الْأَئِمَّةُ فِي زَمَانِنَا فَقَالَ إمَامٌ يَعْتَادُ فِي كُلِّ غَدَاةٍ مَعَ جَمَاعَتِهِ قِرَاءَةَ آيَةِ الْكُرْسِيِّ وَآخِرِ الْبَقَرَةِ وَ { شَهِدَ اللَّهُ } وَنَحْوَهُ جَهْرًا لَا بَأْسَ بِهِ وَالْأَفْضَلُ الْإِخْفَاءُ.(بحرالرايق شرح كنزالدقايق)

ژباړه: امام ابوحنيفه رحمه الله وفرمايل: د ذکر سره د ږغ پورته کول بدعت دی او پدې قول کي د الله پاک د امر سره مخالفت دی { وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنْ الْقَوْلِ} نو په زوره باندي ذکر کول حصرکيږي په هغه ځايونو کي چي په هغو کي شريعت راغلی وي.(لکه جهري لمنځونه) او قاضي خان په خپلي فتاوي کي په صراحت سره د جهري ذکر په مکروه والي باندي قول کړی دی، او صاحب د مستصفی هم دده متابعت کړی دی.

په فتاوي علامية کي راځي: چي صوفيان بايد د ږغ د پورته کولو او چکه کولو څخه منع کړل سي.

عيني هم په شرح التحفة کي ددې په حرمت باندي تصريح کړېده او پر هغه خلکو يې ډير بد ويلي دي چي ځانونه صوفيان معرفي کوي خو داسي کارونه کوي.

په قنيه کي يې ددې څخه استثناء کړيدي هغه چي زموږ په زمانه کي يې ځيني ايمه کوي، نوموړی وايي: يو امام چي دا يي عادت کړی وي چي د سحار د لمانځه وروسته آية الكرسي او آخر آيتونه د سوره بقرې وايي او يا داسي نور آيتونه په زوره باندي وايي هيڅ پروا نلري، خو غوره خبره داده چي کرار کرار دي وويل سي.

## د علم افت او ضايع کيدل:

قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : آفَةُ الْعِلْمِ النِّسْيَانُ ، وَإِضَاعَتُهُ أَنْ تُحَدِّثَ بِهِ غَيْرَ أَهْلِهِ.[مصنف ابن أبي شيبة 26663]

ژباړه: رسول اکرم صلي الله عليه وسلم فرمايي: آفت د علم هيره ده، او ضايع کيدل يې دادی چي داسي چاته يې بيان کړې چي هغه اهل د علم نوي.

توضيح: يعني د علم لپاره لوی آفت دغه دی چي سړی يې هيرکړي، ځکه د علم په هيرولوسره کوم شيان چي إنسان زده کړيوي د لاسه ځي چي په رښتيا دغه لوی آفت دی.

او د علم ضايع کيدل دادي چي ته خپل علم او علمي بحثونه د هغه چاسره شريکوې چي هغه ورباندي نه عمل کوي او نه هم ستا خبري ته توجه کوي او نه هم ستا د علم قدر اواحترام کوي.

## عالم بايد د خپل علم په قدر باندي پوه سي:

عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ قَالَ: لاَ تُحَدِّث بِالْحِكْمَةِ عِندَالسُّفَهَاءِ فَيُكَذِّبُوكَ ،وَلاَ بِالبَاطِلِ عِندَ الحُكَمَاءِ فَيَمقُتُوكَ وَلاَ تَمْنَعِ الْعِلْمَ أَهْلَهُ فَتَأْثَمَ ، وَلاَ تَضَعْهُ فِي غَيْرِ أَهْلِهِ فَيحمقكَ , إِنَّ عَلَيْكَ فِي عِلْمِكَ حَقًّا كَمَا أَنَّ عَلَيْكَ فِي مَالِكَ حَقًّا.[فيض القدير شرح جامع الصغير]

ژباړه: ښه او د حکمت خبره د بې عقلانو مخته مکوه چي درواغجن دي بولي، او د اهل علم څخه علم مه منعه کوه چي ګناهکاره کيږي، او هغه چاته د علم بيان مکوه چي اهل د علم نوي چي بې عقل دي بولي، يقيني چي ستا علم پر تا باندي حق لري لکه ستا مال چي پر تا باندي حق لري.

## از بارگاه خداوند نا اميد نشويد!

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ , قَالَ: " مَنْ يُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ يُسْتَجَابُ لَهُ عِنْدَ الْبَلَاءِ , وَمَنْ يُكْثِرْ قَرْعَ الْبَابِ يُفْتَحْ لَهُ ". [ شعب الايمان 9530]

ترجمه: از ابودرداء رضي الله تعالي عنه روايت است كه: كسي كه در آساني زياد دعا ميكند، در سختي دعاي او قبول ميشود، وكسي كه هر دروازه را خيلي ميزند حتما برايش باز ميشود.

توضيح: يعني كسيكه در حالت آساني ورفاهي و دولت داري درحضور خداوند عزوجل زياد دعا ميكند، روزي كه باسختي و فقر ومسكنت روبرو ميشود، و براي خلاصي از مشكلات درحضور خداوند عزوجل دعا ميكند، خداوند دعايش را قبول ميكند، وكسيكه هميشه خداوند عزوجل را ذكر وياد ميكند، حتما يک روزي مورد رحمت خداوند عزوجل قرار ميگيرد. يعني خداوند عزوجل دعا و نيايش او را قبول ميكند.

## يهود او نصاري د جزيرة العرب څخه وباسی!

عن عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « لأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ حَتَّى لاَ أَدَعَ إِلاَّ مُسْلِمًا »[صحيح مسلم 4693]

ژباړه: د حضرت عمر بن خطاب رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي ده د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويې فرمايل: ارو مروبه يهود او نصاري د جزيرې څخه د عربو باسم تر دې چي بېله مسلمانه به بل هيڅوک نه پريږدم.

خو د پورته حديث پرخلاف د عربو حاکمان په ځانګړي توګه د سعودي آل سعود حاکمان نن و يهودو او نصاری ته ځای ورکوي.

د عربو حاکمان چي په نړۍ کي په فحاشۍ او عياشۍ کي ډير شهرت لري پداسي حال کي يې د غربيانو سره د مرستي ژمنه کړې، چي ددې مخکي يې هم په ډيرو پيښو کي د مسلمانانو پرضد د غربيانو په خاصه توګه د امريکايانو ننګه کړېده او د هغوی مالي لګښت يې په ډيرو مواردو کي ورکړی، سره ددې چي دوی ځانونه اهل حديث او د قرآن ريښتيني لارويان هم بولي، د ځان يې شا او خوا داسي درباري شيخان هم را ټول کړيدي چي د دوی هره درباري فتوی ته رسمي او ظاهرا شرعي بڼه ورکوي، فرق نلري که هغه په اصل کي د اسلامي اصولو سره سمون خوري اوکه يې نه خوري، د هر مسلمان دا اساسي وظيفه ده چي بايد دا خلګ ښه وپيژني د هغوی کار د ځان لپاره سمبول او نمونه ونه ګرځوي، او نه هم د دوی کار ته د يوې شرعي توجيه او ليد

لوري په سترګه وګوري، د دوی دغه کارونه د إسلام سره هيڅ تړاو نلري او نه هم دوی کولای سي د إسلام څخه نماينده ګي وکړي.

الله پاک دي مو هدايت کړي، داسي خلګ دي الله پاک هدايت کړي، اوکه يي هدايت مقدر نوي نو الله پاک دي تباه او برباد کړي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– أَوْصَى بِثَلاَثَةٍ فَقَالَ « أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مِمَّا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ »[سنن ابي داود3031]

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم د درو شيانو وصيت وکړ، نو ويي فرمايل: مشرکين د جزيرې څخه د عربو وباسی، او راتلونکي ډلو ته عطايا ورکړی لکه ماچي ورکول.

عن أبي عبيدة قال : آخر ما تكلم به النبي صلى الله عليه و سلم اخرجوا يهود أهل الحجاز وأهل نجران من جزيرة العرب واعلموا ان شرار الناس الذين اتخذوا قبور أنبيايهم مساجد .[مسند احمدبن حنبل1691]

ژباړه: د ابي عبيده رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي وروستنی خبره چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وکړه هغه دا وه چي: يهود د اهل حجاز او اهل د نجران د جزيري څخه د عربو وباسی، او پدې باندي پوه سی چي شرترينه د انسانانو هغه خلګ دی چي د خپلو انبياؤ قبرونه يې مساجد جوړ کړيوی.

## ابوذر ته د رسول الله صلي الله عليه وسلم لارښووني:

عن أبي ذر قال : أمرني خليلي صلى الله عليه و سلم بسبع أمرني بحب المساكين والدنو منهم وأمرني ان انظر إلى من هو دوني ولا أنظر إلى من هو فوقى وأمرني ان أصل الرحم وان أدبرت وأمرني ان لا أسأل أحدا شييا وأمرني أن أقول بالحق وان كان مرا وأمرني ان لا أخاف في الله لومه لايم وأمرني ان أكثر من قول لا حول ولاقوة الا بالله فإنهن من كنز تحت العرش.[مسنداحمدبن حنبل 21453]



M.N.Mazharee

ژباړه: ابوذر رضي الله عنه فرمايي: زما ګران ملګري صلي الله عليه وسلم زه په اوو شيانو باندي امر کړم: 1 – په محبت سره د مساکينو او دا چي بايد دوی ته ځان دې کړم. 2 – او پدې سره يې امرکړم چي زه بايد هغه چاته وګورم چي تر ما کښته وي نه و هغه چاته چي ترما لوړ وي. 3 – او پدې باندي يې امرکړم چي بايد صله رحمي وصل کړم کځه هم شاته وغورځول کړل سم. 4 – او پدې باندي يې امرکړم چي د هيچاڅخه د هيڅ شي سوال ونکړم. 5 – او پدې باندي يې امرکړم چي حق ووايم کځه هم تريخ وي. 6 – او پدې باندي يې امرکړم چي د الله په باره کي د هيچا د ملامتيا څخه ونه ويريږم. 7 – او پدې باندي يې امر کړم چي " لاحول ولاقوة إلا بالله " ډير ووايم ځکه چي دا ترعرش لاندي د خزانې څخه دي.

## بازار ته ناوخته ځه او ژر ځيني وځه:

عنْ سَلْمَانَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لاَ تَكُونَنَّ إِنِ اسْتَطَعْتَ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ السُّوقَ وَلاَ آخِرَ مَنْ يَخْرُجُ مِنْهَا فَإِنَّهَا مَعْرَكَةُ الشَّيْطَانِ وَبِهَا يَنْصِبُ رَايَتَهُ.[مسندالبزار 2541]

ژباړه: د سلمان رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی، چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: تر څو چي دي په طاقت وي هيڅ وخت لومړنی هغه څوک مه کيږه چي بازار ته ننوځي، او مه هم وروستنی هغه څوک کيږه چي د بازار څخه وځي، ځکه چي بازار ځای د جنګ د شيطان دی، او په هغه کي شيطان خپل بيرغ دروي.

توضيح: يعني سړی دي بازار ته ژر نه راځي، او نه دي هم بازار ته ډير راځي، او نه دي هم سړی په بازار کي ډير پاتيږي، بلکي چي کله خپل ضرورت د بازار څخه پوره کوي، نو هسي ژر دي ځيني وځي، ځکه چي بازار د شيطانانو مرکز دی، او د شيطانانو اصلي استوګنځای دی.

پدې خاطر په بل حديث کي راځي چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم فرمايي: احب البلاد إلي الله تعالي مساجدها ، وابغض البلاد إلي الله تعالي اسواقها.

M.N.Mazharee

يعني محبوب ترينه د ښارو الله پاک ته د هغو مساجد دي، او مبغوض ترينه د ښارو الله پاک ته د هغو بازارونه دي.

## د قيامت په ورځ قران د خپل لوستونکي شفاعت کوي:

عن زَيْدٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَلاَّمٍ يَقُولُ حَدَّثَنِى أَبُو أُمَامَةَ الْبَاهِلِىُّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِى يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لأَصْحَابِهِ. [صحيح مسلم 1910]

ژباړه: د زيد څخه روايت دی چي ده د اباسلام څخه واوريدل چي ويل يې: زه خبرکړم ابوامامه الباهلي چي ما د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې: قرآن ولولی ځکه چي هغه د قيامت په ورځ دخپلو ملګرو شفاعت کوي.

توضيح: کوم خلګ چي په دنياکي د قرآنه سره مينه ډيره لري، هغه لولي، تلاوت يې کوي ، او په هغه باندي عمل کوي، نوخدای پاک به په قيامت کي شفاعت د قرآن د هغه په نصيب کوي، داسي چي قرآن ورته مصور تمثيل کړل کيږي د نورو اعمالو په څير، کوم څوک چي مرتکب دګناه کبيره سوی وي، د هغه د معافۍ لپاره شفاعت کوي، اوکوم څوک چي مرتکب د غتي ګناه نوي سوی د هغه لپاره د درجې د لوړوالي شفاعت کوي. [مصابيح التنوير – المفهم لمااشکل من تلخيص کتاب مسلم]

## په اوداسه باندي ګناهونه د انسان د بدن څخه وځي:

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ ». [صحيح مسلم601]

M.N.Mazharee

ژباړه: د حضرت عثمان بن عفان رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي اودس وکړي او ښه اودس وکړي، نوګناهونه يې د بدن څخه وځي آن چي ګناهونه يې د نوکانو لاندي هم وځي.

توضيح: پدې خاطردی چي په اوداسه باندي الله پاک د انسان ګناهونه ريژوي علماؤفرمايلي دي: چي د هري ګناه وروسته اودس کول مستحب دی.

ويندب الوضوء عقب الخطايا والذنوب الصغاير لأنه يكفرها فعن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : ( من توضأ فأحسن الوضوء خرجت خطاياه من جسده حتى تخرج من تحت أظفاره ).[فقه العبادات 33/1]

## په لمونځونوباندي د انسان ګناهونه ورانيږي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقُولُ « الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ ».[صحيح مسلم574]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم به ويل: پنځه لمونځونه او يوه جمعه تربلي جمعې پوري، او د روژې مياشت تر بلي مياشتي د روژې پوري خرابوونکي دي د پاره د هغه ګناهونو چي د دوی په مابين کي سوي وي، خوچي د غټوګناهونو څخه ځان وژغوري.

## په مسواک باندي الله خوشاله کيږي او خولهورباندي پاکيږي:

عن عايشة قالت : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : السواک مطهرة للفم مرضاة للرب.[صحيح ابن خزيمة135]

ژباړه: د حضرت عايشې رضي الله تعالي عنها څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: مسواک د خولې پاکوونکی دی، او د الله خوشالوونکی دی.



M.N.Mazharee

د مسواک په وهلو باندي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم ډیر ټینګار کړی دی، په بل حدیث کي راځي: لولا أن أشق علی أمتي لأمرتهم بالسواک عند کل صلاة.[صحیح ترمذي 23] یعني که زما پر امت باندي سخته نه تمامیدلای نو ما به دوی امرکړیوای چي د هرلمانځه سره یې مسواک وهلی وای.

داغسي نورډیر احادیث په فضیلت کي د مسواک وهلو راغلي دي.

او دا چي په حدیث کي راغلي: مسواک د خولې پاکوونکی دی دا ځکه چي یو خو مسواک د انسان د خولې بدبوۍ ایسته کوي، او د بلي خوا مسواک د انسان خوله د ډیرو ناوړو ناروغیو څخه ساتي.لکه چي په ردالمحتار کي یې په څو دانو تصریح کړې:

1. خوله پاکه وي.
2. الله پاک خوشحاله کوي.
3. ملایکي خوشحاله کوي.
4. سترګي روښانه کوي اودید یې ډیروي.
5. د خولې بد بوۍ، او د غاښونو کنډي رنډي ورکوي.
6. غاښونه سپینه وي.
7. اوبرۍ ټینګه وي.
8. ډوډې هضموي.
9. بلغم پرېکوي.
10. د لمانځه ثواب څوچنده کوي.
11. د قرآن لاره (ستونی) پاکوي.
12. فصاحت ډیروي.
13. معده قوي کوي.
14. شیطان په خښم کوي.
15. نیکۍ ډیره وي.



M.N.Mazhar

16. ژړی ورکوي.
17. د سر رګونه آراموي.
18. د غاښودرد آراموي.
19. خوله خوشبويه کوي.
20. د ځکندن په وقت کې د روح وتل آسانه کوي.

## روژه د مخکنیو ګناهونو ورانوونکې ده:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ.[صحيح البخاري38]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چې رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې د روژې د مياشتي روژه په ايمانداری او ثواب باندي ونيسي دده ټوله مخکني ګناهونه به ورته وبخښل سي.

## د مجاهد بدن اور نه مسه کوي:

عن أَبُو عَبْسٍ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جَبْرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ : مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ.[صحيح البخاري 2811]

ژباړه: د ابوعبيس څخه چي هغه عبدالرحمن بن جبيردی، روايت دی چې رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: داسي نده چي د چا پښې دي د الله په لاره کي په ګرځو ولړل سي نو هغه دي اور مسه کړي (يعني اوريې نه مسه کوي).

يعني هغه پښې په اور باندي د دوږخ نه سوځل کيږي کومي چي په دنيا کي د الله پاک په لاره کي په ګرځو او خاورو باندي لړل سويدي.

## د يوه انسان د هدايت ثواب:

M.N.Mazhar

عَنْ سَهْلٍ – يَعْنِى ابْنَ سَعْد – عَنِ النَّبِىِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « وَاللَّهِ لأَنْ يُهْدَى بِهُدَاكَ رَجُلٌ وَاحِدٌ خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ ».[سنن ابي داود3663]

ژباړه: دسهل – يعني ابن سعد – څخه روايت دی چي رسول اكرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: زما دي قسم په الله وي چي يو سړی ستا په لارښووني باندي هدايت سي تاته بهتره ده تر سرو اوښانو.

## هر كار بايد د الله پاک په حمد باندي پيل سي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لاَ يُبْدَأُ فِيهِ بِحَمْدِ اللَّهِ ، فَهُوَ أَقْطَعُ.[صحيح ابن حبان1]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اكرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هر ښه كار چي شروع يې د الله په حمد ونه سي نو هغه نيمګړی دی.

## د درود ويلو فضيلت:

عن عبد الله بن مسعود : أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال أولى الناس بي يوم القيامة أكثرهم علي صلاة.[سنن ترمذي 484]

ژباړه: د عبدالله ابن مسعود رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اكرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: غوره ترينه د خلكو ماته په ورځ كي د قيامت ستاسو څخه هغه څوک دی چي پر ماباندي ډير درود وايي.

## د ذكر او تعليم د حلقاتو فضيلت:

M.N.Mazharee

عن أَبِى هُرَيْرَةَ وَأَبِى سَعِيد الْخُدْرِىِّ أَنَّهُمَا شَهِدَا عَلَى النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ « لاَ يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُونَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ حَفَّتْهُمُ الْمَلاَئِكَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ ».[صحيح مسلم7030]

ژباړه: د ابوهريرة او ابوسيعد رضي الله تعالي عنهما څخه روايت دی چي دوی وايي: مونږ د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم په حضور کي حاضر سو، ده وويل: نه کښيني يو قوم چي د الله جل جلاله ذکرکوي مګر دا چي ملايکه ورباندي احاطه کوي او رحمت يې پټوي او پر دوی باندي آرامش نازليږي، او الله پاک يې يادونه کوي د هغه چاسره چي دده سره سته.

## د يوه مسلمان حق پر بل مسلمان باندي:

عَنِ الأَوْزَاعِيِّ قَالَ : أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ قَالَ : أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه وسلم يَقُولُ : حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلاَمِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ.[صحيح البخاري 1240]

ژباړه: اوزاعي د ابن شهابه څخه روايت کوي چي سعيد بن المسيب ماته خبر راکړ چي ابوهريرة رضي الله تعالي عنه وويل: ما د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې: مسلمان پرمسلمان باندي پنځه حقوق لري: ❶ځواب ورکول د سلام دي❷ پرمريض باندي پوښتنه کول دي❸ دجنازې پسې تلل دي❹ ددعوت قبلول دي❺ او د مږونکي ځواب ورکول دي.(يعني يرحمک الله ورته ويل دي).

## د مسلمان په جنازې کي دګډون ثواب:



M.N.Mazharee

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ : مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا ، وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا ، فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ ، وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ ، فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ.[صحيح البخاري 47]

ژباړه: د حضرت ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي د مسلمان د جنازې سره په ايمانداری او نيت د ثواب ولاړ سي، او د هغه سره وي، تر څو چي لمونځ ورباندي کوي، او د ښخولو څخه يې فارغ کيږي، نو دی د دوه قيراطه مزدوری (ثواب) سره مراجعه کوي، هر قيراط لکه د احد غر دی، او هر څوک چي لمونځ ورباندي وکړي، خو د ښخولو مخکي يې راسي، نو دی به د يوه قيراط مزدوري سره مراجعه وکړي.

**برکتناکه ښځه**:

عَنْ عَايِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : أَعْظَمُ النِّسَاءِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُنَّ صَدَاقًا.[المستدرک2732]

ژباړه: د حضرت عايشې رضي الله تعالي عنها څخه روايت دی، چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: لوی ترينه ښځه په برکت کي هغه ده چي مهر يې آسانه (لږ) وي.

**د حياء اهميت**:

عَنْ قَتَادَةَ ، عَنْ أَبِي السَّوَّارِ الْعَدَوِيِّ قَالَ : سَمِعْتُ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْحَيَاءُ لاَ يَأْتِي إِلاَّ بِخَيْرٍ. صحيح البخاري 6117]

ژباړه: قتاده د ابي السوار العدوي څخه روايت کوي چي ما د عمران بن حصين څخه واوريدل چي ويل يې: رسول اکرم صلي الله عليه وسلم و فرمايل: حياء د ځانه سره نه راوړي مګر خير راوړي.

## د مسجد سره مينه د ايمانداری نښه ده:

عن أبي الهيثم عن أبي سعيد قال:قال رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا رأيتم الرجل يتعاهد المسجد فاشهدوا له بالإيمان فإن الله تعالى يقول { إنما يعمر مساجد الله } الزكاة الآية.[سنن ترمذي 2617]

ژباړه: ابي الهيثم د ابي سعيد څخه روايت کوي چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کله چي تاسو څوک وليدی چي د مسجد غم خوردګي يې کول، نو تاسو شاهدي آداء کړی چي دی مسلمان دی، ځکه الله پاک فرمايي: مسجدونه هغه څوک جوړوي چي په الله او په ورځي د آخرت ايمان ولري الخ.

## د مسلمان سره د غم شريکی ثواب:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِى الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ فِى الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللَّهُ فِى عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِى عَوْنِ أَخِيهِ وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِى بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلاَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلاَئِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ ».[صحيح مسلم7028]

M.N.Mazharee

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی، چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي د مسلمان څخه يو مشکل د مشکلاتو څخه د دنيا ليري کړي، خدای پاک به دده يو مشکل د مشکلاتو څخه د آخرت ليري کړي، او څوک چي پر تنګ لاسي باندي آساني وکړي، خدای پاک به پرده باندي په دنيا او آخرت کي آساني وکړي، او څوک چي مسلمان پټ کړي، الله به دی په دنيا او آخرت کي پټ کړي، او الله په کومک کولوکي د خپل بنده دی ترڅو چي بنده په کومک کولوکي د خپل ورور وي، او څوک چي يوه لاره پسې واخلي چي په هغې کي طلب د علم کوي، نو الله پاک به په مقابل کي د ته لاره د جنت آواره کړي، او نه را ټوليږي يو ټولی خلګ په يوکورکي دکورونو څخه د الله چي دوی کتاب د الله لولي اوخپل مينځ کي يې درسوي، مګر دا چي پر دوی باندي آرامش نازليږي، او رحمت يې پټوي، او ملايکي ورباندي را احاطه کيږي، او الله پاک د دوی يادونه د هغه چا سره کوي کوم چي د الله پاک سره سته، او څوک چي عمل يې شاته وغورځوی، نسب يې پرمخ نسي بيولای.

## د طالب العلم مرتبه:

عن صفوان بن عسال ان النبي صلى الله عليه و سلم قال : ان الملايكة لتضع أجنحتها لطالب العلم رضا بما يطلب([2]).[مسند امام احمد18123]

ژباړه: د صفوان بن عسال څخه روايت دی چي رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: يقينا ملايکي خپل وزرونه د طالب العلم مخي ته ايږدي پخاطر د خوشحالی په هغه څه باندي چي طالب العلم يې طلب کوي.

([2])شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن

M.N.Mazharee

## ايمان او په دين كي استقامت:

**عن عبد الله بن سفيان عن أبيه قال يا رسول الله : أخبرني أمرا في الإسلام لا أسأل عنه أحدا بعدك قال قل آمنت بالله ثم استقم قال يا رسول الله فأي شيء أتقي قال فأشار بيده إلى لسانه([3]). [مسند امام احمد15455]**

**ژباړه: عبدالله بن سفيان د خپل پلاره څخه روايت كوي، چي ده ورسول اكرم صلي الله عليه وسلم ته وويل: يا رسول الله! ماپه اسلام كي په هغه څه باندي خبركړه چي ستا وروسته يې بيا زه د هيچاڅخه پوښتنه ونكړم، نو ده مبارك ورته وويل: ووايه پر الله مي ايمان دى، بيا وروسته ورباندي ټينګ سه، نو بيا ده ورته وويل: يا رسول الله! دكوم شي څخه ځان ډير وساتم؟ نو ده په خپل مبارك لاس و ژبي ته اشاره وكړه.**

## ددين په لاره كي د شهادت فضيلت:

**عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ أُحُدٍ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا قَالَ فِي الْجَنَّةِ فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ فِي يَدِهِ ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ.[صحيح بخاري 4046]**

**ژباړه: د عمرو څخه روايت دى چي ده د جابر بن عبدالله رضي الله تعالي عنهما څخه واورېدل چي يوسړي د احد په ورځ و رسول اكرم صلي الله عليه وسلم ته وويل: ستا څه ګمان دى كچيري زه مړسم نو زه به چيري يم؟ رسول اكرم صلي الله عليه وسلم ورته وويل: په جنت كي، نو ده په خپل لاس كي څو داني خورماوي وغورځولې او جنګ يې شروع كړ ترڅو چي شهيد سو.**

## د پټي صدقې ثواب:

([3])شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح رجاله ثقات رجال الصحيح غير عبد الله بن سفيان فقد أخرج له النسايي وهو ثقة .

وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا صَنَعَتْ يَمِينُهُ.

[صحيح البخاري 14 باب صدقة السر]

ژباړه: ابوهريرة رضي الله تعالي عنه د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه روايت کوي، چي ده مبارک وفرمايل: همدا راز به هغه سړی د قيامت په ورځ د عرش ترسايې لاندي وي، چي داسي په پټه صدقه ورکړي چي چپه لاس يې نه پوهيږي چي دده راسته لاس څه وکړل؟.

## د الله پاک د رحمت وړ کسان:

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – " «لَا يَرْحَمُ اللَّهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ» " [مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ]

ژباړه: جرير رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: الله پاک پر هغه چا باندي رحم نکوي چي هغه پرخلګو باندي رحم نکوي.

يعني څوک چي د الله پاک پر مخلوق باندي رحم ونکړي الله پاک به پر هغه باندي رحم ونکړي.

## د چا د زړه څخه رحمت ايستل کيږي؟

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " «لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلَّا مِنْ شَقِيٍّ» ". [أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ]

ژباړه: ابوهريره رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: رحمت نه ايسته کيږي مګر د بد بخت انسان څخه.

يعني د رحمت او شفقت درلودلو څخه به هغه څوک محروم وي چي هغه بد سړی وي.

ددې حديث څخه له ورايه ښکاري چي د رحم او شفقت درلودل نښه او علامه د ښه توب ده او نه درلودل يې علامه د بد توب ده.

## د الله پاک پرمخلوق باندي رحم وکړی:

وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ، ارْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ» ".[ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ]

ژباړه: عبدالله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: پر رحم کوونکو باندي الله پاک رحم کوي، د مځکي پر او سيدونکو رحم وکړی ترڅو هغه ذات پرتاسو رحم وکړي چي په آسمان کي دی يعني الله پاک.

يعني تاسو د الله پاک پرمخلوقاتو باندي چي په مځکه کي اوسيږي رحم وکړی نو الله پاک به پرتاسو باندي رحم وکړي.

## دغه درې کسان به جنت ته ځي:

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «مَنْ آوَى يَتِيمًا إِلَى طَعَامِهِ وَشَرَابِهِ أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ الْجَنَّةَ أَلْبَتَّةَ، إِلَّا أَنْ يَعْمَلَ ذَنْبًا لَا يُغْفَرُ. وَمَنْ عَالَ ثَلَاثَ بَنَاتٍ أَوْ مِثْلَهُنَّ مِنَ الْأَخَوَاتِ فَأَدَّبَهُنَّ وَرَحِمَهُنَّ حَتَّى يُغْنِيَهُنَّ اللَّهُ أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ الْجَنَّةَ ". فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَاثْنَتَيْنِ؟ قَالَ: " أَوِ اثْنَتَيْنِ " حَتَّى لَوْ قَالُوا: أَوْ وَاحِدَةً؟ لَقَالَ: وَاحِدَةً " وَمَنْ أَذْهَبَ اللَّهُ بِكَرِيمَتَيْهِ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ ". قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَمَا كَرِيمَتَاهُ؟ قَالَ: " عَيْنَاهُ» ".[مشكاة المصابيح]

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي يتيم خپل خوراک اوڅښاک ته وغواړي نو حتما دده لپاره جنت واجب سو مګر دا چي ده داسي ګناه کړيوي چي نه بخښل کيږي(لکه شرک) او هرڅوک چي درې لوڼي وساتي او ياهم د هغوی په څېر درې خويندي وساتي، ښه ادب ورکړي او پيرزوينه ورباندي وکړي ترڅو چي الله پاک يې پوره کوي( په مال او ياهم په نکاح کولو باندي) نو دده لپاره به الله

پاک جنت واجب کړي. چا وویل: یا رسول الله که دوې دانې وساتي؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: که دوې دانې وساتي هم به یې الله پاک د هغوی په ذریعه جنت ته داخلوي. — راوي وايي — که صحابه وو ویلي وای آیا د یوې انجلۍ په پاللو یې هم جنت ته وړي؟ نو رسول الله صلي الله علیه وسلم به ویلي وای هو. او هرڅوک چي دده دوې ګراني الله پاک ورځخه واخلي نو د هغه لپاره به جنت واجب کړي. چا وویل: دوې ګراني یې څشی دي؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: سترګي.

(یعني څوک چي الله پاک ورځخه دوې سترګي واخلي نو په مقابل کي به ورته جنت ورکړي).

پدې حدیث کي درې شیان ذکر سویدي:

١ – څوک په خپل کورکي یتیم وساتي الله پاک په مقابل کي ورته جنت ورکړي.

٢ – څوک خپلي لوڼي او یا خویندي وساتي او سمي یې تربیه کړي الله پاک ورته جنت ورکړي.

٣ – څوک چي د خپلو سترګو پرړندیدلو باندي صبر وکړي الله پاک به ورته جنت ورکړي.

## اولاد ته د پلار بهترینه ډالۍ او سوغات:

وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " «مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدَهُ مِنْ نُحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ " وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا عِنْدِي حَدِيثٌ مُرْسَلٌ.

ژباړه: رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: د پلار لخوا وخپل اولاد ته تر ښه ادب بله هیڅه ښکلي ډالۍ نسته.

یعني که پلار خپل اولاد ته غواړي ډالۍ ورکړي نو تر ټولو بهترینه ډالۍ ښه ادب دی لومړی دي ښه ادب ورکړي بیادي ورته نور مادي ډالۍ ورکړي.

## د لور د ساتلو فضیلت:

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «مَنْ كَانَتْ لَهُ أُنْثَى فَلَمْ يَئِدْهَا وَلَمْ يُهِنْهَا، وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ عَلَيْهَا – يَعْنِي الذُّكُورَ – أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ» ". [ أَبُو دَاوُدَ]

ژباړه: عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هرڅوک چي لور ولري نو هغه ژوندۍ ترخاورو لاندي نکړي، سپکاوی يې ونکړي او نارينه اولاد ته پر هغې باندي ترجيح ورنکړي نو الله پاک به دی وجنت داخل کړي.

پدې حديث کي رسول الله صلي الله عليه وسلم د لور پلار ته د جنت زيری ورکړی دی خو مشروط په درو شرطونو.

۱ – خپله لور مړه يعني هلاک نکړي.

۲ – د خپلي لور سپکاوی او اهانت ونکړي.

۳ – پرلور باندي زوی ته ترجيح ورنکړي يعني زوی ترلور ډير ونه غواړي، مثلا په روزلو، ډالی ورکولو او نازولو کي د لور سره تبعيض ونکړي.

## خپل مخته د مسلمان د غيبت کولو اجازه مه ورکوه!

وَعَنْ أَنَسٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " «مَنِ اغْتِيبَ عِنْدَهُ أَخُوهُ الْمُسْلِمُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ فَنَصَرَهُ، نَصَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. فَإِنْ لَمْ يَنْصُرْهُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ ; أَدْرَكَهُ اللَّهُ بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ» ". [مشكاة المصابيح]

ژباړه: د انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل:څوک چي مخ ته يې دده د مسلمان ورور غيبت وسي او دی ددې توان لري چي د خپل ورور کومک وکړي نوکومک يې وکړي الله پاک به په دنيا او آخرت کي دده کومک وکړي، که يې کومک ونکړ پداسي حال کي چي کومک يې هم کولای سو نو الله پاک به يې په دنيا او آخرت کي ددې په ګناه باندي ونيسي.



M. N. Mazharee

يعني كه ستا مخي ته ستا د بل مسلمان ورور غيبت كيدى او تا كولاى سوه د هغه دفاع وكړې نو كه دي دفاع وكړه الله پاک به ستا دفاع او مرسته وكړي او كه دي دفاع ونكړه نو لدې كبله به الله پاک په دنيا اوآخرت كي عذاب دركړي.

## د همسايه خيال بايد وساتې:

وَعَن ابْن عَبَّاسٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا – قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّه – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – يَقُولُ: «لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِي يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَايِعٌ إِلَى جَنْبِهِ» ". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ".

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هغه څوک پوره مسلمان ندى چي ځان مړوي خو څنګ ته يې ګاونډى وږى وي.

يعني تل بايد دګاونډي په حال باندي سړى ځان خبر كړي كه هغه وږى وو مرسته ورسره وكړي تر څو داسي پيښه نسي چي هغه وږى وي خو تا ځان موړ كړى وي كه څوک داسي كوي نو هغه انسان كامله مسلمان ندى.

## څوک دي بايد ملګرى وي اوچاته بايد ډوډې وركړې؟

وَعَنْ أَبِي سَعِيد – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – يَقُولُ: " «لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ» ". [رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ]

ژباړه: ابوسعيد رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د هيچاسره ملګرتيا مكوه مګر د مسلمان سره او خپله ډوډۍ مه وركوه مګر پرهيزګاره او ښه سړيته.

يعني كه د ځان لپاره ملګري اودوستان لټوې او غواړي د خلګو سره ملګرتيا وكړې نو د مسلمان سره ملګرتيا وكړه دكافر سره يې مكوه او كه غواړې خپله ډوډې پر نورو باندي مصرف كړې نو پرښه سړي باندي يې مصرف كړه پر بد سړي باندي يې مه مصرفوه.

## د الله د رحمت څخه محروم خلګ:

عن عبدالله بن ابي اوفي قال سمعت رسول الله صلي الله عليه وسلم يقول لاتنزل الرحمة علي قوم فيهم قاطع رحم.[شعب الايمان]

ژباړه: عبدالله بن ابي اوفي وايي: ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه واوریدل چي ویل یې پر هغه قوم باندي رحمت نه نازلیږي چي پدوی کي د صله رحمي پریکوونکی وي.

یعني په کوم قوم کي چي داسي خلګ وي چي صله رحمي قطعه کوي پر هغه قوم باندي د الله پاک رحمت نه نازلیږي.

## پر باطل باندي د خپل قوم سره مرسته مکوی!

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: مَنْ نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الْحَقِّ فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي رَدَى، فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ. [أَبُو دَاوُدَ 5119.]

ژباړه: د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي پرباطل باندي د خپل قوم مرسته وکړي هغه داسي دی لکه هغه اوښ چي کندي ته لویدلی وي نو په لکۍ باندي را پورته کړل کیږي.

توضیح: یعني دغه سړي چي پر باطل باندي یې د خپل قوم سره مرسته کړېده ځان یې و هلاکت او بربادۍ ته ور اچولی دی ځکه ده کوښښ کړی دی چي خپل قوم پدغه باطل کومک او مرستي باندي لوړ کړي خو خپل ځان یې د هلاکت کندي ته ور اچولی دی نو لکه اوښ چي په کنده کي مړسي خلګ یې تر لکۍ نیسي را پورته کوي یې اوښ ته هیڅ ګټه نلري همدا راز دغه انسان ته هم دغه کار هیڅ ګټه نلري.

ځینو علماء کرامو بیا ویلي دي چي دلته دده قوم د مړه سوي اوښ سره مشابه سوی دی ځکه څوک چي پر ناحقه وي هغه لک مړ داسي دی. او ددغه قوم مرسته کوونکی یې د اوښ د لکۍ

سره مشابه کړی دی نو لکه هلاک سوي اوښ ته چي په لکۍ باندي پورته کیدل ګټه نکوي همدا راز و دغه هلاک سوي قوم ته هم دده مرسته او کومک کومه ګټه نکوي.

## په عاجزۍ باندي فخر او ظلم ورکیږي:

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :إِنَّ اللّٰهَ أَوْحَي إِلَيَّ أَنْ تَوَاضَعُوْا حَتّٰى لَايَفْخَرَ أَحَدٌ عَلٰى أَحَدٍ وَلَايَبْغِيْ أَحَدٌ عَلٰى أَحَدٍ.[صحیح مسلم]

ژباړه: رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله پاک ماته وحي کړیدي چي تاسو عاجزي وکړی ترڅو چي هیڅوک پر بل چا باندي فخر ونکړي او هیڅوک پر بل چا باندي ظلم ونکړي.

توضیح: یعني دا د الله پاک غوښتنه ده چي تر خپل مینځ د یو بل په مقابل کي تواضع او عاجزي وکړی تر څو ستاسو له مینځه دغه دوه کرغیړن عمله ورک سي چي هغه فخر اوظلم دی.

## هر خبري کوونکي ته:

هیڅ وخت پر داسي خبري تبصرې او تحلیلونه مکوه چي ویونکي یې نامعلوم خلګ وي. او هیڅ وخت پرهغي خبري باور مکوه چي ویونکی یې وایې: خلګ وایې او یا خلګو ویل.

ځکه د " خلګ وایې" او یا " خلګو ویل " په عبارت باندي هیڅ وخت د کوم شي ثبوت نه راځي او نه هم د شرعي پلوه دلیل ورته ویل کیدلای سي.

په خاصه توګه د هغه چا په اړه چي ظاهراً او په ښکاره په یوه ښه ددین خدمت کوي دداسي ضعیف او بیکاره سند په حواله هیڅه منفي خبره مه منه.

## ددین د خادمانو لپاره!

دا چي تاسو د الله ددین خدمت کوی ستاسو لپاره د ویاړ او افتخار ځای دی او د اوس په وخت کي لوی ابتکار او لاسته راوړنه ده.

خو لدې کبله چې ددين کار زور غواړي نو ستاسو مخې ته ارومرو ستونزې، لوړې او تندې راځي بايد تحمل يې کړی ځکه چې پداسې حالت کې د ستونزو ګالل خپله خدمت دی، چې څومره د خدمت کول درته خوندور وي همداسې د خدمت له امله د ستونزو د راتګ څخه هم خوند واخلی.

او د الله لپاره ستاسو د خدمت کول په همداسې وخت کې ثابتيږي ځکه داسې حالات يو امتحان او آزمون دی الله پاک خپل بندګان ددې لپاره آزمويي چې نورو خلګوته د دوی تحمل او صبر ښکاره کړي او ښه د بد څخه جدا کړي.

## دګناهکاره انسانانو پسې مځی!

وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ (151) الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ (152)[سورة الشعراء]

ژباړه: د اسراف کوونکو د خبرې پيروي مکوی، هغه چې په مځکه کې فساد کوي او نه اصلاح کيږي.

توضيح: پدې آيت کې هغه خبره را نقل سوېده چې صالح عليه السلام يې وخپل قوم ته کوې هغه داده چې تاسو د هغو خلګو متابعت مکوی او په هغوی پسې مځی کوم چې د ګناه په کولو يې پرځان اسراف کړی دی يعني دوی قصدا ګناهونه کوي او دغه هغه خلګ دي چې په مځکه کې دګناه په کولو سره فساد کوي او دوی نه سميږي.

کځه هم دلته خبره په قيصه کې د ثموديانو راغلې ده خو حکم يې عام دی په هر وخت کې إنسان پدې باندي مکلف دی چې د ګناهکار شخص پسې ولاړ نسي او هغه د ځان لپاره مقتدا او مشر جوړ نکړي.

## مخکي تر دغو حالتونو د الله پاک عبادت وکړی!

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"مَا يَنْتَظِرُ أَحَدُكُمْ إِلا غِنًى مُطْغِيًا، أَوْ فَقْرًا مُنْسِيًا، أَوْ مَرَضًا مُفْسِدًا، أَوْ هَرَمًا مُفَنِّدًا، أَوْ مَوْتًا مُجْهِزًا، أَوِ الدَّجَّالُ , وَالدَّجَّالُ شَرُّ غَايِبٍ يُنْتَظَرُ، أَوِ السَّاعَةُ، وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ".[سنن ترمذي 2306]

ژباړه: انتظار نه باسي يو ستاسو څخه مګر د سرکښئ بډايئ، او هيرونکي فقر، او فاسدوونکي ناورغئ، او د خبرو ګډوډوونکي بوډاتوب، او د ناڅاپه مړيني، او د دجال. خو دجال بدترينه غايب دی چي راتلو ته يې انتظار ايستل کيږي، او د قيامت ورځ. د قيامت ورځ ډيره ويرونکې او ترخه ورځ ده.

توضيح: يعني مخکي تر دې چي تاسو ته دغه حالتونه او وختونه راسي د الله پاک عبادت وکړی ځکه د داسي حالتونو د راتللو وروسته بيا تاسو د الله پاک عبادت نسی کولای.

ځکه يا به داسي سرمايه دار سی چي د سرمايې او پيسو له وجهي مو بيخي خدای پاک هير وي او سرکښئ به در څخه کيږي، يا به هم داسي مسکينان سی چي د ډير مسکنت او مجبوريت له وجهي مو عقل د سر څخه ولاړ سي د الله پاک طاعت او عبادت او د هغه د امر منل به مو بيخي هيرسي، او يا به هم پداسي ناروغئ باندي اخته سی چي بدن به مو در فاسد کړي او ټول ظاهري او باطني قوت به موختم سي بيا به هيڅ مثبت کار نسی کولای، او يا به هم داسي سپين ږيرتوب او بوډايي توب درته راسي چي فکر او ذهن به مو کار پسې پريږدي ګډوډې او مخلوطي خبري به درڅخه کيږي، او يا به هم داسي ناڅاپه مرګ درته راسي چي نه به توبې ته ورسيږی او نه به هم پښيمانئ ته خلاص سی بلکي د ګناه او سرکښئ څخه به ډک ددې دنيا څخه ولاړ سی، او يا به هم پر تاسو باندي د دجال زمانه راسي چي ټوله د فتنو او آزموينوڅخه ډکه ده او په ډير بدحالت کي به إنسانان واقع وي، او يا به هم د قيامت ورځ دربانديراسي چي هغه ډيره ويرونکې او ترخه ورځ ده.

نو مخکي تردې چي د داسي حالتونو او وختونو سره مخامخ سی اوس د الله پاک عبادت او طاعت وکړی.



M.N.Mazharee

## ابوهريره رضي الله عنه ته د رسول الله صلي الله عليه وسلم سپارښتني:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ : قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : يَا أَبَا هُرَيْرَةَ كُنْ وَرِعًا ، تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ ، وَكُنْ قَنِعًا ، تَكُنْ أَشْكَرَ النَّاسِ ، وَأَحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِکَ ، تَکُنْ مُؤْمِنًا ، وَأَحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَکَ ، تَكُنْ مُسْلِمًا ، وَأَقِلَّ الضَّحِکَ ، فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِکِ تُمِيتُ الْقَلْبَ.[ سنن ابن ماجه 4217]

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: ای ابوهريره! پرهيزګاره وسه نو ته به عابدترينه د انسانانو سې، په لږ څه باندي قناعت وکړه نو ته به شکر کوونکی د انسانانو سې، د خلګو لپاره هغه شی غواړه چي د ځان لپاره يې غواړې نو ته به مؤمن سې، او د هغه چا سره ښه وکړه چي ستا ګاونډی سي نو ته به مسلمان سې او لږ خانده ځکه چي ډېره خندا زړه وژني.

توضيح: يعني دغه پنځه کارونه د پنځو شيانو ښکارندويي کوي او پنځه شيان ورباندي ثابتيدلای سي:

١ – که ته تقوی او پرهيزګاري وکړې نو د ځان څخه به تر ټولو خلګو عابد انسان جوړ کړې.

٢ – که ته ( په لږ څه باندي ) قناعت وکړې نو ته به شکر کوونکی تر ټولو انسانانو سې.

٣ – که ته د خلګو لپاره هغه شيان وغواړې چي د ځان لپاره يې غواړې نو ته به ريښتينی مؤمن سې.

۴ – که ته دخپل ګاونډي سره ښه ژوند او اخلاق وکړې نو ته به ريښتينی مسلمان سې.

۵ – که ته لږ وخاندې نو زړه به دي نه مړ کيږي ځکه ډېره خندا د انسان زړه وژني.

## انسان به کله هلاکيږي؟

عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ ، عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ الطَّائِيِّ ، قَالَ : أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : لَنْ يَهْلِکَ النَّاسُ حَتَّى يُعْذِرُوا مِنْ أَنْفُسِهِمْ. [ مسند احمد 18289]

M.N.Mazharee

ژباړه: عمرو بن مره د ابي البختري الطايي څخه روايت کوي چي هغه وايي:زه خبرکړم هغه چا چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه يې اوريدلي وه چي هغه وفرمايل: خلګ تر هغه وخته پوري نه هلاکيږي تر څو چي د خپلو ځانونو څخه او په خپلولاسونو باندي عذرونه پيدا نکړي.
يعني ډير ګناهونه کوي ترڅو د عذاب وړ وګرځي او دوی ته عذاب ورکوونکی معذور وشميرل سي او د دوی د عذابولو لپاره دليل او توجيه پيدا سي.
او ياهم هدف ورڅخه داسي دی چي دوی ګناهونه کوي او د خپلو ګناهونو لپاره فاسد دلايل وايي او د ځانه څخه توجيهات ورته جوړوي ترڅو معذور وشميرل سي او خلګ يې ملامت نکړي.

## د بل چا د مال لپاره خپل اخرت مه خرابوه!

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، قَالَ : مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، عَبْدٌ أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْيَا غَيْرِهِ.[سنن ابن ماجه3966]
ژباړه: د ابوامامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: بد ترينه د خلګو د الله په نزد د قيامت په ورځ هغه بنده دی چي خپل آخرت د بل چا په دنيا باندي ورانوي.
توضيح: يعني بدترينه د إنسانانو د قيامت په ورځ د الله پاک په نزد هغه انسان دی چي د نورو خلګو د دنيا لپاره خپل آخرت خرابوي داسي چي د بل چا د دنيا لپاره درواغ وايي او يا ظلم کوي، مثلا بل څوک سودا کوي ياهم دده سره يې پيسې وي ددې لپاره چي د هغه سړي سودا وسي ياهم د هغه سړي پيسې ګټه وکړي دی يې پخاطر درواغ وايي، او ياهم داسي وي چي باچا او واکمن ته د پيسه داره او بډا سړي صفت کوي ددې لپاره چي د هغه څخه د پيسو امتياز ترلاسه کړي، همدا راز هغه څوک هم ددې حديث په حکم کي داخل دی چي د پيسو لپاره د مجرم شفاعت کوي او ددې لپاره يې د قانون څخه خلاصوي چي ګوندي يو څه مالي امتياز ورڅخه ترلاسه کړي.

M.N.Mazharee

## د ځانه څخه بې عزم او بې ارادې انسانان مه جوړوی!

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ تَكُونُوا إِمَّعَةً تَقُولُونَ إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَحْسَنَّا وَإِنْ ظَلَمُوا ظَلَمْنَا وَلَكِنْ وَطِّنُوا أَنْفُسَكُمْ إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَنْ تُحْسِنُوا وَإِنْ أَسَاءُوا فَلاَ تَظْلِمُوا ».[سنن ترمذي2138]

ژباړه: د حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د ځانه څخه بې موقفه ( بې ارادې ) مه جوړوی چي تاسو واياست: كه خلكو ښه كول موږ هم ښه كوو او كه خلكو ظلم كوی موږ هم ظلم كوو، بلكي د عزم او ارادې خاوندان وسی كه خلكو ښه كول تاسو هم بايد ښه وكړی او كه خلكو بد كول تاسو نو بيا ظلم مكوی.

توضيح: يعني د ځانه څخه داسي بې موقفه، بې عزمه او بې ارادې خلک مه جوړوی چي په هرشي كي ښېله دې چي د ځانه سره فكر وكړی او مثبت لوری په نظر كي ونيسی نورو خلكو ته ګوری او ځانونه تل د نورو خلكو لارويان او مقلدين بولی او ځانونه داسي بولی چي كه خلكو ښه كول موږ هم ښه كوو او كه خلكو بد كول موږ هم بد كوو. بلكي ځانونه د عزم، موقف او ارادې خاوندان وبولی د سالم عقل څخه په استفاده پرځان باندي باور ولری او ځانونه داسي جوړ كړی چي كه خلكو ښه كارونه كول تاسو هم ښه كارونه وكړی او كه خلكو بد كارونه كول تاسو نو بيا بد كارونه او ظلم مكوی.

ددې حديث څخه له ورايه ښكاري چي إنسان بايد هيڅ وخت په بدكار كي د نورو خلكو پسې ولاړ نسي، او هيڅ وخت د بدكار په كولو كي د نورو خلكو كړه وړه د ځان لپاره دليل ونه ګرځوي بلكي په ښه كارونو كي دي د خلكو پسې ځي خو په بدو كارونو كي دي د نورو خلكو پسې نه ځي.

## درې نجات وركوونكي او درې هلاكوونكي شيان:



M.N.Mazhar.ee

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثٌ مُنْجِيَاتٌ، وَثَلَاثٌ مُهْلِكَاتٌ، فَأَمَّا الْمُنْجِيَاتُ: فَتَقْوَى اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ، وَالْقَوْلُ بِالْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالسُّخْطِ، وَالْقَصْدُ فِي الْغِنَى وَالْفَقْرِ، وَأَمَّا الْمُهْلِكَاتِ: فَهَوًى مُتَّبِعٌ، وَشُحٌّ مُطَاعٌ، وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ، وَهِيَ أَشَدُّهُنَّ ". [شعب الايمان6865]

ژباړه: د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: درې شيان نجات ورکوونکي دي او درې شيان هلاکوونکي دي.

هغه درې شيان چي نجات ورکوونکي دي: تقوي ده په ښکاره اوپه پټه کي، د حق خبره کول دي په خوښۍ او په خپګان کي او اعتدال دی په سرمايه دارۍ او فقر کي. او هغه شيان چي هلاکوونکي دي: هغه نفسي غوښتني چي إنسان پسې ځي، هغه بخالت چي إنسان يې اطاعت کوي او په خپل ځان باندي د إنسان تکبر او دغه تر ټولو په بدۍ کي سخت دی.

يعني ۱ – په پټه اوښکاره کي تقوي. ۲ – په خوشالۍ اوپه خپګان کي حقه خبره. ۳ – په غنی او په فقرکي اعتدال او ميانه روي إنسان ته نجات ورکوي.

او ۱ – د نفسي غوښتنو پسې تلل. ۲ – بخالت کول. ۳ – په ځان باندي مغروره کيدل إنسان بربادوي او هلاکت ته يې رسوي.

## د عاجزۍ ګټه او د تکبر تاوان:

قَالَ عُمَرُ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ: أَيُّهَا النَّاسُ، تَوَاضَعُوا فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:مَنْ تَوَاضَعَ لِلَّهِ رَفَعَهُ اللهُ، فَهُوَ فِي نَفْسِهِ صَغِيرٌ، وَفِي أَعْيُنِ النَّاسِ عَظِيمٌ، وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ، فَهُوَ فِي أَعْيُنِ النَّاسِ صَغِيرٌ، وَفِي نَفْسِهِ كَبِيرٌ، حَتَّى لَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ كَلْبٍ أَوْ خِنْزِيرٍ.[شعب الايمان 7790]

ژباړه: عمررضي الله عنه پداسي حال کي چي پرمنبر باندي ولاړوو وفرمايل: اي خلګو عاجزي وکړئ! ځکه ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چي ويل يې: هرڅوک چي د الله لپاره عاجزي وکړي الله پاک به يې لوړ کړي، نو د ته ځان کوچنی ښکاري خو د خلګو په

M.N.Mazharee

سترګو کي لوی ښکاري. او هرڅوک چي تکبر وکړي الله پاک به يې بې اعتباره کړي، نو دی خلګوته کوچنی (سپک) ښکاري خو ځان ورته لوی ښکاري، آن تردې چي خلګو ته تر سپي او سرکوزي هم بې اعتباره وي.
يعني چي څوک د الله لپاره عاجزي وکړي داسي چي پر نورو انسانانو باندي ځان لوړ ونه بولي، د الله پاک اطاعت او بنده ګي وکړي او د تکبر څخه ځان وساتي نو الله پاک به ودې انسان ته دومره عزت او اعتبار ورکړي چي د خلګو په سترګو کي به يې لوړ او عزتمند کړي او د الله پاک په نزد به هم معتبر اوعزتمند وي.
او څوک چي تکبر او غرور کوي الله پاک به يې دومره بې اعتباره کړي چي خلګ به يې تر سپي اوسرکوزي هم سپک ګڼي کڅه هم د ته خپل ځان لوی او معتبر ښکاري.

## د قهر اوغضب تاوان:

عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الْغَضَبَ لَيُفْسِدُ الْإِيمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصَّبْرُ الْعَسَلَ.[شعب الايمان 7941]
ژباړه:بهزبن حکيم د خپل پلاره څخه هغه دده د نيکه څخه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: غضب د إنسان إيمان داسي فاسدوي لکه د صبر بوټی چي شات فاسدوي.
يعني د غضب دومره ډير تاوان دی چي له کبله يې د إنسان ايمان هم زيانمند کيږي، کمال او رڼايې ځيني ځي اوکله ناکله نعوذ بالله د ايمان د زوال او بطلان لامل هم جوړيږي.

## نه نفره بد انسانان:

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ الْخَثْعَمِيَّةِ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَخَيَّلَ وَاخْتَالَ وَنَسِىَ الْكَبِيرَ الْمُتَعَالِ بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَجَبَّرَ وَاعْتَدَى وَنَسِىَ الْجَبَّارَ الأَعْلَى بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ سَهَا وَلَهَا وَنَسِىَ الْمَقَابِرَ وَالْبِلَى بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ عَتَا وَطَغَى وَنَسِىَ الْمُبْتَدَا وَالْمُنْتَهَى



M.N Mazharee

بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدُّنْيَا بِالدِّينِ بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدِّينَ بِالشُّبُهَاتِ بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ طَمَعٌ يَقُودُهُ بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ هَوًى يُضِلُّهُ بِيسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ رَغَبٌ يُذِلُّهُ ».[سنن ترمذي 2636]

ژباړه: أسماء بنت عميس الخثعمية وايي: ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې:هغه بنده بد سړی دی چي تکبر او فخر وکړي او متعال خدای هیرکړي، هغه بنده بد سړی دی چي ظلم او تجاوز وکړي او لوړ غیښتلی ذات هیرکړي، هغه بنده بد سړی دی چي عبث او بې فایدې کارونه وکړي او قبرونه او زږیدل هیرکړي، هغه بنده بد سړی دی چي سرغړونه او سرکښي وکړي او خپله إبتداء او إنتهاء هیره کړي، هغه بنده بد سړی دی چي دنیا په دین پیدا کوي، هغه بنده بد سړی دی چي دین په شبهاتو باندي ورانوي، هغه بنده بد سړی دی چي طمع یې کشوي، هغه بنده بد سړی دی چي نفسي غوښتني یې ګمراه کوي، هغه بنده بد سړی دی چي هیلي یې خواروي.

یعني ددغو صفاتو درلودونکي بد خلګ دي:

١ – څوک چي تکبر او فخر وکړي او لوی الله پاک هیرکړي.

٢ – څوک چي ترشرعي حدودو تجاوز او ظلم وکړي او قوي خدای پاک هیرکړي.

٣ – څوک چي عبث او بې فایدې کارونه کوي او قبرونه او په قبرکي د خپل بدن زږیدل او ورستیدل هیرکړي.

۴ – څوک چي د الله پاک د اوامرو څخه سرغړونه او سرکښي کوي او خپل پیل او خاتمه یې هیر کړې وي.

۵ – څوک چي دنیا په دین باندي پیدا کوي یعني دین د دنیا پیدا کولو لپاره کاروي.

٦ – څوک چي دین په شبهاتو باندي فاسدوي یعني په شبهاتو پسې ګرځي او په دین کي شبهات پیدا کوي.

٧ – څوک چي ځان د طمع او آرزو تابع کړي هر چاته طمع او امید لري.

٨ – څوک چي نفسي غوښتني یې ګمراه کړي یعني ځان د نفسي غوښتنو تابع کړي چي بالآخره ګمراه سي.

M.N.Mazharee

۹ – ځوک د مال ډير حرص لري او اوږدې هيلي لري ترڅو چي خوار يې کړي.

## د خښم درملنه:

عن عَطِيَّةَ السَّعْدِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: الْغَضَبُ مِنَ الشَّيْطَانِ، وَالشَّيْطَانُ خُلِقَ مِنَ النَّارِ، وَالنَّارُ تُطْفَأُ بِالْمَاءِ، فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ.[شعب الايمان 7938]

ژباړه: عطية سعدي وايي: ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې: خښم د شيطان له لوري دی، شيطان د اور څخه پيدا سوی دی او اور په اوبو باندي مړ کيږي نو کله چي ستاسو څخه يوچا ته خښم ورسي نو اودس دي وکړي.

يعني د خپل خښم اور دي د اوداسه په کولو باندي مړ کړي.

## حياء او ايمان سره مښتي دي:

عَن ابنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ الْحَيَاءَ وَالْإِيمَانَ قُرِنَا جَمِيعًا، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ ".[شعب الايمان 7331]

ژباړه: د عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: حياء او ايمان دواړه سره مښتي دي چي يو پورته سو هغه بل هم ورسره پورته کيږي.

يعني حياء او ايمان سره ملګري  او متصل دي چي هر يو د إنسان څخه پورته سو هغه بل هم ورسره پورته کيږي، که د چاڅخه ايمان ولاړی حياء هم ورڅخه ځي او که د چا څخه حياء ولاړه إيمان هم ورڅخه ځي.

## د دنيا او اخرت سره د محبت پايله:

وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «مَنْ أَحَبَّ دُنْيَاهُ أَضَرَّ بِآخِرَتِهِ، وَمَنْ أَحَبَّ آخِرَتَهُ أَضَرَّ بِدُنْيَاهُ، فَآثِرُوا مَا يَبْقَى عَلَى مَا يَفْنَى» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ژباړه: د ابوموسي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي د خپلي دنيا سره محبت وکړي خپل آخرت ته به تاوان ورسوي او څوک چي خپل د آخرت سره محبت وکړي خپلي دنيا ته به تاوان ورسوي نو تاسو پاته کيدونکی شی پر ورکيدونکي شي باندي غوره کړی.

يعني څوک چي د دنيا سره ډير محبت ولري دومره محبت چي درلودل يې په عباداتو او طاعاتو کي د سستئ لامل جوړ سي، خپل دنيوي ژوند ټوله په دنيوي کارونو کي ولګوي نو دغه سړي د دنيا سره د محبت په خاطر خپل آخرت خراب کړ. او څوک چي د آخرت سره محبت ولري، د الله پاک عبادت او طاعت کوي، ټوله اوامر يې پر ځان باندي عملي کوي نو د آخرت په کارونو کي به کامیابه سي خو په دنيا کي به ارومرو د ستونزو سره مخامخ کيږي چي صبر او تحمل يې د ناکامئ څخه ژغورلای سي.

نو د دنيا او آخرت مثال داسي دی لکه د ترازو دوې پلې هره پله چي درنه سوه هغه بله به سپکه وي نو که د چا د دنيا پله درنه سوه د آخرت پله به يې سپکه وي او که يې د آخرت پله درنه کړه د دنيا پله به يې سپکه وي.

## پر مال باندي د حرص تاوان:

وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ» " [رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ]

ژباړه: کعب بن مالک رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: دوه وږي شرموښان چي د پسو په رمې کي ايله سي دومره يې تاوان ندی لکه د مال او دنيوي شرف د حرص تاوان چي د دين لپاره يې لري.

## مال تر ټولو ستره فتنه ده:

وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عِيَاضٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – يَقُولُ: «إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَفِتْنَةُ أُمَّتِي الْمَالُ»[رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ]

ژباړه: کعب بن عياضي رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويل يي: د هرامت لپاره فتنه وي خو زما د امت فتنه مال دی.

## په دنيا کي د تقوی ګټي:

وَعَنْ أَبِي ذر قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «مَا زَهِدَ عَبْدٌ فِي الدُّنْيَا إِلَّا أَنْبَتَ اللَّهُ الْحِكْمَةَ فِي قَلْبِهِ، وَأَنْطَقَ بِهَا لِسَانَهُ، وَبَصَّرَهُ عَيْبَ الدُّنْيَا وَدَاءَهَا وَدَوَاءَهَا، وَأَخْرَجَهُ مِنْهَا سَالِمًا إِلَى دَارِ السَّلَامِ» "[رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ]

ژباړه: د ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل:هيڅ بنده په دنيا کي تقوی نکوي مګر دا چي الله پاک يې په زړه کي حکمت شين کوي، پر ژبه يې حکمت جاري کوي، د دنيا عيب، ناروغي او دواء په ويني او د دنيا څخه يې سالم جنت ته وړي.

يعني څوک چي په دنيا کي تقوی او پرهيزګاري وکړي، ځان د دنيا په کارونو باندي داسي مصروف نکړي چي د دين او آخرت کار ځيني پاته سي نو الله پاک يې په زړه کي د حق معرفت را ژوندی کوي، او په حق باندي د تلفظ کولو توفيق ورکوي، او د دنيا عيبونه په ويني، او د دنيا ناروغي او درمل په پيژني او د دنيا څخه يې روغ رمټ جنت ته داخلوي.

M.N.Mazhar

## څلور مهم خصلتونه:

وَعَنْ عبدالله بن عمرُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: «أَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فِيكَ فَلَا عَلَيْكَ مَا فَاتَكَ مِنَ الدُّنْيَا: حِفْظُ أَمَانَةٍ، وَصِدْقُ حَدِيثٍ، وَحُسْنُ خَلِيقَةٍ، وَعِفَّةٌ فِي طُعْمَةٍ» [شُعَبِ الْإِيمَانِ 4878]

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څلور خصلتونه دي چي کله په تا کښې موجود سي نو ددنيا هرشی چي ستا څخه ولاړ سي تاته تاوان نکوي: د امانت ساتنه، په خبرو کي رښتيا ويل، ښه اخلاق، او په خوړو کي پاکي. يعني دغه څلور خصلتونه چي د هرچا په برخه سي نور نو هغه سړی تاواني ندی کڅه هم په دنيا کي د دنيا هرشی ورڅخه ولاړ سي او د لاسه يې ووځي.

١ – د امانت ساتنه ده، فرق نلري که د الله پاک لخوا امانت وي اوکه د بل بنده لخوا.

٢ – په خبرو کي رښتيا ويل، د هر ډول درواغو څخه د ځان ساتنه.

٣ – ښه اخلاق غوره کول، په هره معامله کي چي وي.

۴ – د پاک خوراک پيدا کول او لټول، د حرام مال څخه ځان ساتل.

## هغه چاته ځان نژدې کړه چي ګټه درته رسولای سي:

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي خَلَّادٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: " «إِذَا رَأَيْتُمُ الْعَبْدَ يُعْطِي زُهْدًا فِي الدُّنْيَا، وَقِلَّةَ مَنْطِقٍ فَاقْتَرِبُوا مِنْهُ ; فَإِنَّهُ يُلْقِي الْحِكْمَةَ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ)

ژباړه: د ابوهريره او ابوخلاد رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کله چي مو يو بنده وليدی چي په دنيا کي زهد ورکول سوی وو او لږ خبري کول ورکول سوي وه نو هغه بنده ته ځانونه ورنژدې کړی ځکه چي دی حکمت ښکاره کوي.

يعني كوم څوک چي د دنيا سره ډير محبت نلري، د دنيا ډيرول ورته مهم نوي او لږ خبري كوي نو هغه بنده ته ځان نژدې کړی ځکه چي هغه بنده ته حكمت وركول سوی دی او حكمت ورڅخه زده كيږي.

## هيڅ وخت تر ضعيفانو ځان لوړ مه بولی!

وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: «رَأَى سَعْدٌ أَنَّ لَهُ فَضْلًا عَلَى مَنْ دُونَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ؟ !» [رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ]

ژباړه: د مصعب بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چي سعد پدې باور وو چي دی پر هغو خلګو لوړتيا لري چي ترده کښته دي ( فقراء او ضعيفان دي) نو رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسو نصرت نکيږي او تاسو ته رزق نه درکول کيږي مګر ستاسو د ضعيفانو په خاطر.

يعني سعد داسي فکر کوی چي دی تر هغو خلګو بهتره دی چي هغوی مسکينان او ضعيفان دي خو رسول الله صلي الله عليه وسلم د ته په ځواب کي او د نورو لپاره په تنبيه باندي وفرمايل:چي تاسو د همدغه مسکينانو او ضعيفانو په خاطر رزق خوری او د دوی په خاطر ستاسو نصرت اوکومک کيږي. يعني الله پاک ستاسو سره مرسته د دوی په خاطر کوي.

## دوه مهم عادتونه:

وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: " «خَصْلَتَانِ مَنْ كَانَتَا فِيهِ كَتَبَهُ اللَّهُ شَاكِرًا صَابِرًا: مَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ، فَاقْتَدَى بِهِ، وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ، فَحَمِدَ اللَّهَ عَلَى مَا فَضَّلَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ ; كَتَبَهُ اللَّهُ شَاكِرًا صَابِرًا. وَمَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ، وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَأَسِفَ عَلَى مَا فَاتَهُ مِنْهُ، لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ شَاكِرًا وَلَا صَابِرًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ژباړه: عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه هغه دده د نیکه څخه راویت کوي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: دوه خصلته دي چي په هر چاکي وي الله پاک به یې شکر کوونکی او صبر کوونکی ولیکي څوک چي په دین کي ترځان لوړ ته وګوري نو په هغه پسې اقتداء وکړي، او څوک چي په دنیا کي ترځان کښته ته وګوري نو د هغه احسان له کبله چي الله پاک پر ده باندي کړی دی د الله پاک حمدووایي نو الله پاک به یې شکر کوونکی او صبر کوونکی ولیکي. او څوک چي په دین کي ترځان کښته ته وګوري او په دنیا کي تر ځان لوړ ته وګوري نو پر هغه څه باندي چي دده د لاسه وتلي دي غمګیني وکړي الله پاک به یې شکر کوونکی او صبر کوونکی ونه لیکي.

په دین کي ترځان لوړ ته کتل دا ګټه لري چي إنسان د نور لا ډیر عبادت کولو ته هڅیږي او هیڅ وخت په لږ عبادت باندي بسنه نکوي بلکي د ډیر عبادت لپاره لا ډیر زیار باسي او په دین کي ترځان کښته ته کتل ددې لامل جوړیږي چي إنسان دي په لږ عبادت باندي اکتفاء وکړي او په ډیر لږ عبادت دي ځان اهل جنت او اهل الله وبولي.

او په دنیا کي ترځان کښته ته کتل دا ګټه لري چي إنسان هیڅ وخت نه نا امیده کیږي او د خپل ژوند څخه یې هیڅوخت زړه نه توریږي او تل د قناعت څخه برخمن وي خو ترځان لوړ ته کتل دا تاوان لري چي هیڅوخت إنسان ته قناعت نه حاصلیږي، تل د حقارت احساس کوي او تل ځان ورته نیمګړی او ناکامه ښکاري.

## انسان بوډا کیږي خو دوه عادتونه یې ځوانیږي:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَتَشِبُّ مِنْهُ اثْنَتَانِ الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ ».[صحيح مسلم 2459]

ژباړه: د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: بني آدم بوډا کیږي او دوه شیان یې ځوانیږي: پرمال باندي حرص او پرعمر باندي حرص.

## درې خصلتونه او انساني ډولونه:

وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – يَقُولُ: " «ثَلَاثٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ، وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ، فَأَمَّا الَّذِي أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ فَإِنَّهُ مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ، وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلِمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا إِلَّا زَادَهُ اللَّهُ بِهَا عِزًّا، وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ إِلَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ. وَأَمَّا الَّذِي أُحَدِّثُكُمْ فَاحْفَظُوهُ " فَقَالَ: " إِنَّمَا الدُّنْيَا لِأَرْبَعَةِ نَفَرٍ: عَبْدٍ رَزَقَهُ اللَّهُ مَالًا وَعِلْمًا، فَهُوَ يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ، وَيَصِلُ رَحِمَهُ، وَيَعْمَلُ لِلَّهِ فِيهِ بِحَقِّهِ، فَهَذَا بِأَفْضَلِ الْمَنَازِلِ. وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللَّهُ عِلْمًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالًا، فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلَانٍ، فَأَجْرُهُمَا سَوَاءٌ. وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللَّهُ مَالًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْمًا، فَهُوَ يَتَخَبَّطُ فِي مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ، لَا يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ وَلَا يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ، وَلَا يَعْمَلُ فِيهِ بِحَقٍّ، فَهَذَا بِأَخْبَثِ الْمَنَازِلِ، وَعَبْدٍ لَمْ يَرْزُقْهُ اللَّهُ مَالًا وَلَا عِلْمًا، فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ فِيهِ بِعَمَلِ فُلَانٍ، فَهُوَ نِيَّتُهُ وَوِزْرُهُمَا سَوَاءٌ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.

ژباړه: د ابوکبشه انماري رضي الله عنه څخه روايت چي ده د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه واوريدل چي ويې فرمايل: درې شيان دي چي زه پر هغو باندي تاسو ته قسم اخلم او يوه خبره درته کوم هغه ياد کړی. هغه چي قسم ورباندي اخلم( دادي ): د خيرات له وجهي د هيڅا مال نه کميږي، پر بنده باندي ظلم نکيږي چي دی صبر ورباندي کوي مګر دا چي په هغه باندي يې الله پاک عزت ډيروي، بنده د ځان لپاره د سوال دروازه نه خلاصوي مګر دا چي الله پاک ورته دروازه د فقر را خلاصوي. او هغه خبره چي درته کوم يې او تاسو يې بايد زده کړی ( دا ده ) دنيا د څلورو نفرو لپاره ده: د هغه بنده لپاره چي الله پاک مال او علم ورکړی وي نو دی په هغوکي د الله پاک څخه ويريږي، صله رحمي وصل کوي او د الله لپاره په هغو کي ښه کار کوي ددغه بنده تر ټولو ښه مرتبه ده.د هغه بنده لپاره چي الله پاک علم ورکړی وي خو مال يې نوي ورکړی خو دده نيت سم وي او وايي: که ما مال درلودلای نو مابه هم د فلاني(مخکني سړي) په څير په مال کي عمل کولای. نو ددغو دوو نفرو مزدوري سره يو ډول ده. د هغه بنده لپاره چي الله پاک مال ورکړی وي خو علم يې نوي ورکړی نو دی په بې علمۍ سره په خپل مال کي

M.N. Mazharee

تصرف کوي په خپل مال کي د الله پاک څخه نه ویریږي ، صله رحمي نه وصل کوي او سم تصرف پکښې نکوي نو ددې سړي لپاره بد ترینه مرتبه ده او بل د هغه بنده لپاره چي الله پاک نه مال ورکړی وي او نه يې هم علم ورکړی وي نو دی وایي: کچیري ما مال درلودلای نو ما به هم د فلاني(مخکني سړي) په څیر په خپل مال کي تصرف کولای نو دده نیت معتبر دی او ددغو دواړو نفرو ګناه سره یوډول ده.

توضیح: پر درو شیانو باندي رسول الله صلي الله علیه وسلم قسم اخیستی دی:

١ – په صدقې او خیرات باندي د چا مال نه کمیږي.

٢ – څوک چي پر ظلم باندي صبر وکړي الله پاک به يې په هغه باندي عزت ډیر کړي.

٣ – څوک چي سوال او ګدایي کوي هغه به نور هم مسکین کیږي.

بیا رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي: په دنیا کي څلور ډوله خلګ ژوند کوي:

١ – هغه څوک چي الله پاک مال او علم دواړه ورکړیوي نو دی د خپل مال اوعلم په اړه د الله پاک څخه ویریږي په مال او علم کي خیانت نکوي. د خپلوانو او دوستانو سره صله رحمي وصل کوي او په مال او علم کي د الله پاک د رضا لپاره کار کوي ددغه سړي ډیره ښه مرتبه ده.

٢ – هغه څوک چي الله پاک علم ورکړی وي خو مال يې نوي ورکړی خو دده نیت صفا وي او داسي وایي: کچیري ما مال درلودلای نو ما به هم د هغه بل ښه سړي په څیر ورڅخه ښه استفاده کولای. ددغو دوو نفرو ثواب او مزدوري یو ډول ده.

٣ – هغه څوک چي الله پاک مال ورکړی وي خو علم يې نوي ورکړی نو دی په خپل مال کي د ناپوهۍ تصرفات کوي، د خپل مال په اړه د الله پاک څخه نه ویریږي، صله رحمي نه وصل کوي او په خپل مال کي سم روا تصرف نکوي. ددې سړي تر ټولو بدترینه مرتبه ده.

٤ – هغه څوک چي الله پاک نه مال ورکړی وي او نه علم نو دی وایې: کچیري ما مال درلودلای نو ما به هم د فلاني بد سړي په څیر ناوړه تصرف پکښې کړی وای بس دده نیت ته اعتبار سته او ددغو دوو نفرو ګناه سره یو ډول ده.

## د حلال مال اهمیت:

وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: كَانَ الْمَالُ فِيمَا مَضَى يُكْرَهُ، فَأَمَّا الْيَوْمَ فَهُوَ تُرْسُ الْمُؤْمِنِ. وَقَالَ: لَوْلَا هَذِهِ الدَّنَانِيرُ لَتَمَنْدَلَ بِنَا هَؤُلَاءِ الْمُلُوكُ.
وَقَالَ: مَنْ كَانَ فِي يَدِهِ مِنْ هَذِهِ شَيْءٌ فَلْيُصْلِحْهُ، فَإِنَّهُ زَمَانٌ إِنِ احْتَاجَ كَانَ أَوَّلَ مَنْ يَبْذُلُ دِينَهُ.
وَقَالَ: الْحَلَالُ لَا يَحْتَمِلُ السَّرَفَ. [شَرْحِ السُّنَّةِ]

ژباړه: سفيان ثوري رضي الله عنه فرمايي: په تيرو وختونو کي مال ښه نوو خو اوس مال د مسلمان لپاره ډال دی او که دغه دينارونه نوای نو پاچاهانو به زموږ څخه لاس پاکي جوړ کړیوای. بيا فرمايي: د چاسره چي يو څه د مال وي نو هغه دي سم وکاروي ځکه اوس داسي زمانه ده چي مال ته د چا اړتيا پيداسي نو هغه به لومړی هغه کس وي چي دين د مال لپاره مصرفوي. بيا يې وويل: حلال مال د اسراف لپاره ندی.

د سفيان ثوري رحمه الله د خبري څخه معلوميږي چي پداسي وخت کي چي خلګ مال ته اړتيا ډيره ولري او مالونه د حاکمانو او بخيلانو سره وي نو د هرچا لپاره مال ښه شی دی خو دا خبره ورسره معتبره ده چي مال بايد دحلالي لاري څخه لاسته را وړل سي.

## که باران غواړی نو د الله پاک اطاعت وکړی:

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " «قَالَ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ: لَوْ أَنَّ عَبِيدِي أَطَاعُونِي لَأَسْقَيْتُهُمُ الْمَطَرَ بِاللَّيْلِ، وَأَطْلَعْتُ عَلَيْهِمُ الشَّمْسَ بِالنَّهَارِ، وَلَمْ أُسْمِعْهُمْ صَوْتَ الرَّعْدِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: الله پاک فرمايلي دي: که زما بنده ګان زما اطاعت وکړي نو زه به دوی د شپې په باران باندي اوبه کړم او د ورځي به لمر ورباندي را وخيژوم او د تندر ږغ به په دوی باندي وانورم.

يعني كه زما بنده ګان زما عبادت وكړي نو زه به دوى ته داسي ښه باران وركړم چي د شپې به ورباندي باران ووري خو د ورځي به لمر ورباندي راخيژي او هيڅ قسم ويره به پداسي باران كي نوي.

## د رزق پيدا كولو غم مكوى!

وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: " «إِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ» " رَوَاهُ أَبُو نُعَيْمٍ فِي (الْحِلْيَةِ) .

ژباړه: د ابوالدرداء رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: يقينا چي رزق د بنده داسي مطالبه كوي لكه دده اجل چي يې كوي.

يعني  بنده بې رزق او روزۍ نه پاتيږي بلكي روزي داسي په إنسان پسې ځي لكه اجل چي ورپسې ځي.

## د امت لپاره خطرناكه شخص:

وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – عَنِ النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: " «إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ كُلَّ مُنَافِقٍ يَتَكَلَّمُ بِالْحِكْمَةِ وَيَعْمَلُ بِالْجَوْرِ» " رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ)

ژباړه: د عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه  روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: زه پر خپل امت باندي د هر هغه منافق څخه ويريږم چي خبري ښې كوي خو كار د ظلم كوي.

## هغه شيان چي الله پاک رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي امركړى وو:



M.N.Mazhar.e

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " «أَمَرَنِي رَبِّي بِتِسْعٍ: خَشْيَةِ اللَّهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ، وَكَلِمَةِ الْعَدْلِ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَى، وَالْقَصْدِ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى، وَأَنْ أَصِلَ مَنْ قَطَعَنِي، وَأُعْطِيَ مَنْ حَرَمَنِي، وَأَعْفُو عَمَّنْ ظَلَمَنِي، وَأَنْ يَكُونَ صَمْتِي فِكْرًا، وَنُطْقِي ذِكْرًا، وَنَظَرِي عِبْرَةً، وَآمُرُ بِالْعُرْفِ» " وَقِيلَ: (بِالْمَعْرُوفِ) . رَوَاهُ رَزِينٌ.

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: زما رب زه په نه شيانو باندي امرکړی يم: ١ – په پټه او ښکاره باندي د الله پاک څخه په ويري. ٢ – د خښم او خوشالۍ په حالت کي د عدل په خبري. ٣ – په فقر او غنا کي په توسط او ميانه روۍ. ٤ – دا چي د هغه چا سره صله رحمي وصل کړم چي دی يې زما سره قطعه کوي. ٥ – هغه چاته ورکړه وکړم چي ماته شی نه راکوي. ٦ – هغه چاته عفو وکړم چي پرما باندي يې ظلم کړی وي. ٧ – او دا چي زما چوپتيا فکر وهل وي. ٨ – خبري مي د الله پاک ذکر وي. ٩ – او کتل مي عبرت وسي. او بل يې پدې باندي امر کړم چي په ښه کار باندي خلګ امر کړم.

يعني الله پاک زه په نه شيانو باندي امر کړی يم:

١ – دا چي په هر حالت کي بايد الله پاک څخه وويريږم که ښکاره او علني حالت وي او که پټ او مخفي حالت وي.

٢ – دا چي په هرحالت کي بايد د عدل او انصاف خبري وکړم د خښم حالت وي او که د خوشالۍ حالت وي.

٣ – په هر حالت کي توسط او ميانه روي وکړم فرق نلري که حالت د فقر وي او که حالت د غناء.

٤ – دا چي صله رحمي وصل کړم که څه هم د هغه چا سره وي چي زما څخه يې صله رحمي قطعه کړيوي.

٥ – ورکړه او سوغات هغه چاته وکړم چي ماته يې شی ندي راکړي او يايې نه راکوي.

٦ – هغه چاته بخښنه او عفوه وکړم چي زما سره يې ظلم کړی وي.

٧ – ددې لپاره چوپ پاته سم چي د الله پاک په قدرت او مخلوقاتو کي فکر ووهم.

۸ – کله چي خبري کوم نو د الله پاک په ذکر باندي خبري وکړم.

۹ – چي هر شي ته ګورم نو عبرت ورڅخه واخلم.

او بل پدې  باندي يې امر کړم چي امر بالمعروف وکړم.

## د الله پاک لپاره اوښکي تويول:

وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: " «مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوعٌ وَإِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الذُّبَابِ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ، ثُمَّ يُصِيبُ شَيْئًا مِنْ حَرِّ وَجْهِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: ندی يو مسلمان بنده چي تر سترګو يې د الله پاک له ويري اوښکي ووځي کڅه هم د مچ د سر په اندازه وي بيا يې اوښکي يو څه پر مخ راتوی سي مګر دا چي الله پاک دی پر اور باندي حراموي.

يعني د مسلمان تر سترګو چي د الله پاک له ويري اوښکي توی سي کڅه هم لږ اوښکي وي لکه د مچ سر، بيا يې يوڅه اوښکي د مخ يوې برخي ته ورسيږي نو الله پاک دغه انسان اورته نه داخلوي.

## کله ژوند او کله مړينه د مسلمان لپاره ښه ده:

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: " «إِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارَكُمْ، وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ، وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ، فَظَهْرُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا، وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ، وَأَغْنِيَاؤُكُمْ بُخَلَاءَكُمْ، وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ، فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

M.N.Mazharee

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې ښه خلګ ستاسو مشران وي او سخيان خلګ مو سرمايه داران وي او ستاسو تر مينځ کارونه په مشوره باندي کيږي نو د مځکي مخ درته تر نس د مځکي ښه دی او که بد خلګ ستاسو مشران وه، بخيلان مو سرمايه داران وه او کارونه مو ښځو ته سپارل سوي وه نو بيا د مځکي نس درته تر مخ د مځکي ښه دی.

يعني چې کله ستاسو مشري د ښو خلګو په لاس کي وه، دنيا او سرمايه مو د سخيانو په لاس کي وه او خپل کارونه مو په مشوره باندي کول نو پرمځکه باندي ژوند کول تاسو ته تر مرګ بهتره دی اوکه ستاسو مشران بد خلګ وه، دنيا او سرمايه مو د بخيلانو په لاسونو کي وه او د کارونو سرپرستي مو ښځوته سپارلې وه نو بيا مرګ تاسو ته تر ژوند بهتره دی.

## زموږ د اوسني ژوند په اړه د رسول الله صلي الله عليه وسلم وړاند وينه:

وَعَنْ ثَوْبَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا "، فَقَالَ قَايِلٌ: وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: " بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ، وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ، وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ، وَلَيَقْذِفَنَّ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ "، قَالَ قَايِلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَمَا الْوَهْنُ؟ قَالَ: " حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَايِلِ النُّبُوَّةِ) .

ژباړه: ثوبان رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: نږدې دی چې خلګ به پرتاسو باندي داسي را ټول سي لکه خوړونکي چې پر خپلي کاسې باندي را ټوليږي. يوچا وويل: يا رسول الله آيا زموږ د لږوالي له کبله داسي کيږي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: نه پدې وخت کي تاسو ډيری ياست خو داسي سپک ياست لکه د سيل

پوتل ( خاشې )، الله پاک به ستاسو هیبت ستاسو د دښمنانو د زړونو څخه ایسته کړي او ستاسو زړونو ته به وهن (سستي) ور واچوي، یو چا پوښتنه وکړه : وهن څشی دی یارسول الله! رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: د دنیا سره محبت او د مرګ څخه بد وړل.
اوس همداسي وخت دی چي د نړۍ تقریبا ټوله کفار پر مسلمانانو باندي را ټول سویدي او په هرځاي کي مسلمانان وژني او ځپي خو مسلمانان یې په مقابل کي ډېر بې غیرته سویدي، زړونو ته یې بې غیرتي نفوذ کړی دی، د دنیا په عیش او عشرت کي ډوب دي او د مرګ څخه ویریږي نو ځکه دښمنان یې ورباندي دلاوره سوي دي او هیڅ په عار یې نه راوړي.

## د پنځو بدو اعمالو نتیجه:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا – قَالَ: " مَا ظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ إِلَّا أَلْقَى اللَّهُ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ، وَلَا فَشَا الزِّنَا فِي قَوْمٍ إِلَّا كَثُرَ فِيهِمُ الْمَوْتُ، وَلَا نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا قَطَعَ عَنْهُمُ الرِّزْقَ، وَلَا حَكَمَ قَوْمٌ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الدَّمُ، وَلَا خَتَرَ قَوْمٌ بِالْعَهْدِ إِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِمُ الْعَدُوُّ ". رَوَاهُ مَالِكٌ.
ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي دی فرمایي: په هیڅ قوم کي خیانت په غنیمت کي نه ښکاره کیږي مګردا چي زړونوته یې الله پاک ویره اچوي، او په هیڅ قوم کي زنا نه ډیریږي مګر دا چي په دوی کي به مرګ ډیرسي، او هیڅ قوم پیمانه او ترازو نه کموي مګر دا چي پردوی باندي به روزي ودریږي، او هیڅ قوم بیله حقه فیصله نکوي مګر دا چي په دوی کي به د ویني تویدل ډېر سي، او هیڅ قوم وعده خلافي نکوي مګر دا چي پر دوی به د دوی دښمن مسلط سي.
یعني:
۱ – هر قوم چي په غنیمت کي خیانت او غلا وکړي الله پاک به د دوی په زړونو کي ویره واچوي او د خپل دښمن څخه به ډېر ویریږي.
۲ – په هر قوم کي چي زنا ډیره سي په هغه قوم کي به مړینه او آفتونه ډېر سي.

۳ – هر قوم چي په پيمانې او ترازو کي خيانت کوي او هغه کموي نو پر دوی باندي به د دوی روزي بنده سي.

۴ – هر قوم چي بيله قرآنه په بل شي باندي حکم کوي او په خپل مينځ کي ناحقه فيصلې کوي په هغوی کي به وژني او وينه تويول ډېر سي.

۵ – هر قوم چي په وعده باندي وفا نکوي او په تعهد کي مخالفت کوي پر هغوی باندي به د دوی دښمن مسلط کړل سي.

## د فتنې په وخت کي بهترينه خلگ:

عَنْ أُمِّ مَالک الْبَهْزِيَّةِ قَالَتْ ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فِتْنَةً فَقَرَّبَهَا قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ خَيْرُ النَّاسِ فِيهَا قَالَ « رَجُلٌ فِى مَاشِيَتِهِ يُؤَدِّى حَقَّهَا وَيَعْبُدُ رَبَّهُ وَرَجُلٌ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ يُخِيفُ الْعَدُوَّ وَيُخِيفُونَهُ ».[سنن ترمذي2332]

ژباړه: ام مالک بهزيه وايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم د فتنې يادونه وکړه او هغه يې ډېره نژدې وبلل نو دا وايي: ما وويل: يارسول الله! پدې وخت کي بهترينه انسان څوک دی؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هغه څوک چي د خپلو پسونو سره وي د هغو خدمت کوي او د خپل رب عبادت کوي او بل هغه څوک چي د خپل آس سر يې نيولی وي دی دښمن ويروي او دښمن دی ويروي.

يعني د فتنې په وخت کي دوه نفره بهترينه او غوره إنسانان دي او هغه، هغه خلگ دي چي ځان يې د فتنې څخه ساتلی دی لومړی هغه إنسان چي ځان يې د فتني څخه د ليري کولو په نيت د خپلو پسونو په خدمت باندي بوخت کړی وي هغه ساتي او ورسره د خپل رب سم عبادت هم کوي.

دويم هغه څوک چي د فتنې څخه يې ځان ساتلی وي پر خپل آس باندي سپور وي د کفارو سره جګړه يعني جهاد کوي دی کفار ويروي او کفار دی ويروي يعني کفار بيا دده سره جګړه کول غواړي.

## پر امت باندي د رسول الله صلي الله وسلم ويره:

عن ثوبان ان رسول الله صلى الله عليه و سلم قال : إنما أخاف على أمتي الأيمة المضلين.[سنن دارمي2752]

ژباړه: ثوبان رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: زه پر خپل امت باندي د ګمراه باچاهانو او مشرانو څخه ويريږم.

يعني زه پر خپل امت باندي ويريږم چي ګمراه پاچاهان او مشران به يې بې لاري کړي او په ګمراهۍ کي به يې واچوي.

## د فتنو تر راتللو مخکي پر نيکو اعمالو باندي تلوار وکړئ:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِى كَافِرًا أَوْ يُمْسِى مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا ».[صحيح مسلم328]

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: د نيکو کارونو پرکولو باندي تلوار وکړئ مخکي تردې چي داسي فتنې راسي لکه توري تاريکي شپې چي سړی به سهار مسلمان وي خو ماښام به کافر وي، ماښام به مسلمان وي او سهار به کافر وي خپل دين به په يو لږ سامان د دنيا پلوري.

## د شيطاني وسوسو څخه ځان ساتل:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه – صلى الله عليه وسلم – "يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولُ: مَنْ خَلَقَ كَذَا ؟ مَنْ خَلَقَ كَذَا ؟ حَتَّى يَقُولَ: مَنْ خَلَقَ اللَّهَ ؟ فَإِذَا بَلَغَهُ ؛ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّه، وَلْيَنْتَهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.



M.N.Mazhar

ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: شیطان ستاسو څخه یو نفرته راځي او ورته وایي: دغه شی چا پیدا کړی دی؟ دغه شی چا پیدا کړی دی؟ ترڅو ورته وایي: خدای پاک چا پیدا کړی دی؟ نوکله چي یو چاته دغسي وسوسه پیداسي نو په الله پاک باندي دي پناه وغواړي او دغه وسوسه دي پسې پریږدي.

یعني شیطان ستاسو د ګمراه کولو لپاره تاسو ته داسي وسوسه در اچوي چي په ذهن کي مو داسي را ګرځوي چي دغه فلانی شی چا پیدا کړی دی؟ هغه بل شی چا پیدا کړی دی؟ ترڅو چي ذهن ته مو داسي وسوسه اچوي چي الله پاک نو بیا چا پیداکړ ی دی نوکله چي دغسي وسوسه ستاسو ذهن ته راغله بس اعوذ بالله ووایاست او په الله پاک باندي د داسي وسوسو څخه پناه وغواړی او نور داسي وسوسې ختمي کړی، چي په یوکار باندي په مصروف کیدلو سره انسان کولای سي دداسي وسوسو څخه ځان وساتي.

په بل حدیث کي داسي هم راغلي دي چي کله انسان ته داسي وسوسې راځي نو آمنت بالله ورسله دي ووایي نو دغه وسوسې به ځیني ولاړي سي.

## بنې لاري ته د دعوت ورکوونکي ثواب:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه – صلى الله عليه وسلم – "مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا" [رَوَاهُ مُسْلِمٌ]

ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي هدایت ته خلګ را وبولي دده لپاره به داسي مزدوري وي لکه د هغه چا چي دده پسې ځي بیله دې چي د هغوی د مزدورۍ څخه کوم شی لږ کړل سي. او څوک چي ګمراهۍ ته

خلګ را وبولي نو دده لپاره به داسي ګناه وي لکه د هغه چا ګناه چي دده پسې ځي بيله دې چي د هغوی د ګناه څخه دي کوم شی لږ کړل سي.
يعني څوک چي د حق لاري ته دعوت ورکوي دده لپاره داسي ثواب لري لکه هغه څوک چي دده په دعوت پرلاره باندي سميږي او هدايت کيږي بيله دې چي د هغوی په ثوابونو کي دي کمښت راسي.او څوک چي د ګمراهۍ لوري ته خلګ را بولي دده لپاره به داسي ګناه وي لکه ګناه د هغو خلګو چي دده په دعوت باندي ګمراهان کيږي بيله دې چي د هغوی په ګناه کي کمښت راسي.

## نيک عمل دوام کوي:

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ – رضي الله عنه – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم – "إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ ؛ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا " [رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ]
ژباړه: د ابوموسي الاشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کله چي بنده ناروغ او يا مسافر سي نو دده لپاره په اندازه د هغه عمل ثواب ليکل کيږي کوم چي ده په کور او روغتيا کي کوی.
يعني کله چي يو څوک د مقيم والي په وخت او روغتيا کي عبادت کوي نوکله چي دغه انسان مسافر سي او يا ناروغ سي او د هغه عبادت کولو وخت او توان ونلري نو الله پاک يې بيا هم ثواب ورته ليکي کڅه هم دی يې اوس نسي کولای.

## لس شيان د فطرتي سنتو څخه دي:

عَنْ عَايِشَةَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا – قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّه – صلى الله عليه وسلم – "عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ ؛ قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ، وَقَصُّ الْأَظْفَارِ، وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ،

M.N. Mazharee

وَنَتْفُ الْإِبْطِ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ، وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ – يَعْنِي الِاسْتِنْجَاءَ – قَالَ الرَّاوِي: وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ ؛ إِلَّا أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةَ " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ژباړه: د حضرت عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: لس شيان د فطرتي سنتو څخه دي: ۱ – د بريتونو لنډول. ۲ – د ږيري پريښودل. ۳ – مسواک وهل. ۴ – د پزي پرېول. ۵ – د نوکانو لنډول. ٦ – د بندونو پرېول. ۷ – د بغل د وريښتيانو کښل. ۸ – د نامه لاندي وريښتيانو خريل. ۹ – استنجاء وهل. ۱۰ – د خولې پريول.

يادونه: راوي وايي: لسم مي هيردی خو مګر داچي د خولې پريول دي وسي.

## د خوب ليدلو اړوند:

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ – رضي الله عنه – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم – "الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللَّهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ ؛ فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يُحِبُّ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ إِلَّا مَنْ يُحِبُّ، وَإِذَا رَأَى مَا يَكْرَهُ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ، وَلْيَتْفِلْ ثَلَاثًا، وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا أَحَدًا، فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ" [مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ]

ژباړه: د ابوقتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل:ښه خوبونه د الله پاک له لوري دي او بد خوبونه د شيطان په وسوسې دي، کله چي يوڅوک ستاسو څخه داسي خوب ويني چي د ته خوند ورکوي نو هغه چاته دي بيان کړي چي دی ورسره محبت لري. او کله چي داسي خوب ويني چي د ته خوند نه ورکوي نو په الله پاک باندي دي د هغه او شيطان د شرڅخه پناه وغواړي او درې ځلي دي (خپل چپه طرف ته) تف کړي او هيڅوک دي ورباندي نه خبروي ځکه چي هغه خوب ورته هيڅ ضرر نسي رسولای.

## د صبا په تمه د نن کار مه نيمګړی کوه:

د صبا په تمه د نن کار مه نيمګړی کوه! که د صبا ورځ درباندي راغله او تاهم کار پکښې کولای سو نو په صبا کي هم د نن غوندي کار وکړه او که صبا ورځ درباندي را نغله او يادي په صبا کي وخت پيدا نکړ نو د نن پرکار خوبه پښيمانه نه يي.[ الزهد لابن مبارک]

## د اور ځخه د ليري کيدلو لاره:

عَنْ عَبْد اللَّه بْنِ عَمْرٍو – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم – "مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُزَحْزَحَ عَنِ النَّارِ، وَيَدْخُلَ الْجَنَّةَ فَلْتَأْته مَنِيَّتُهُ وَهُوَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَلْيَأْتِ إِلَى النَّاسِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُؤْتَى إِلَيْهِ" [ رَوَاهُ مُسْلِمْ]

ژباړه: د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي غواړي د اور ځخه ځان ليري کړي او جنت ته داخل سي نو مرګ دي ود ته پداسي حالت کي راسي چي دی پر الله او ورځي د آخرت إيمان ولري او خلکو ته د هغه شي سره ورسي کوم چي دی يې ورتلل دځان لپاره خوښوي.

يعني که څوک غواړي د جهنم ځخه نجات پيدا کړي نو ترمرګه پوري دي پر ايمان باندي پاته سي او نورو خلکو ته دي هغه شی خوښوي کوم چي د ځان لپاره يې خوښوي او د خلکو لپاره دي هغه کارونه کوي کوم چي دی يې کول د ځان لپاره غواړي.

## پر دين باندي به کله ژاړو؟

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لا تَبْكُوا عَلَى الدِّينِ إِذَا وَلِّيْتُمُوهُ أَهْلَهُ وَلَكِنِ ابْكُوا عَلَيْهِ إِذَا وَلَّيْتُمُوهُ غَيْرَ أَهْلِهِ .[المعجم الكبير3908]

ژباړه: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: پر دين باندي هغه وخت مه ژاړئ چي کله مو اهل ته ورکړی وي بلکي هغه وختورباندي وژاړئ چي نا اهل ته مو ورکړی وي.

يعني چي کله ددين سرپرستي و نا اهلو انسانانو ته ورکول کيږي نو بيا هغه وخت پر دين باندي وژاړی ځکه چي پدې وخت کي به دين ډير خوار وي.

## په دوو شيانو کي ډير کوښښ وکړه!

أَخْبَرَنَا أَبُو عَبْدِ اللهِ الْحَافِظُ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا بِشْرٍ عَبْدَ اللهِ بْنَ مُحَمَّدٍ الْخَيَّاطَ يَقُولُ: "اجْتَهِدْ فِي اثْنَيْنِ كَارِهًا، الصِّدْقِ فِي الْأَقْوَالِ وَالْإِخْلَاصِ فِي الْأَعْمَالِ ".[شعب الايمان]

ژباړه: عبدالله بن محمد الخياط فرمايي: په دوو شيانو کي په زوره کوښښ وکړه: ۱ – په خبرو کي رښتيا ويل. ۲ – په کارونوکي اخلاص کول.

## د انسان لپاره ښايست:

حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ السُّلَمِيُّ، أنا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّازِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ نَصرٍ الصَّايِغَ، نا مَرْدَوَيْهِ الصَّايِغُ، قَالَ: سَمِعْتُ الْفُضَيْلَ، يَقُولُ: "لَمْ يَتَزَيَّنِ النَّاسُ بِشَيْءٍ أَفْضَلَ مِنَ الصِّدْقِ، وَطَلَبِ الْحَلَالِ ". [ شعب الايمان]

ژباړه: فضيل وايي: ما تر رښتيا ويلو او طلب د حلال هيڅ شی غوره ندی ليدلی چي خلک دي ورباندي ښايسته سي.

## د حکمت، رښتيا او يقين ګټه:

أَخْبَرَنَا أَبُو عَبْدِ اللهِ الْحَافِظُ، أَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْخَلَدِيُّ، حَدَّثَنِي أَبُو الْعَبَّاسِ بْنُ مَسْرُوقٍ قَالَ: سَمِعْتُ سَرِيَّ السَّقَطِيَّ يَقُولُ: " رَأَيْتُ فِي بَعْضِ كُتُبِ الْحُكَمَاءِ كَانَ يُقَالُ:قَلِيلُ الْحِكْمَةِ كَثِيرُ النَّفْعِ، وَقَلِيلُ الصِّدْقِ كَثِيرُ الصَّوَابِ، وَقَلِيلُ الْيَقِينِ كَثِيرُ الْإِيمَانِ، وَقَلِيلُ الْجَهْلِ كَثِيرُ الضَّرَرِ، وَقَلِيلُ الْإِصْرَارِ كَثِيرُ الْعُقُوبَةِ ".شعب الايمان]

ژباړه: سري سقطي رحمه الله وايي: ما د ځينو حکماؤ په کتابو کي ليدلي دي چي ويل يي: حکمت کڅه هم لږ وي خوګټه يې ډيره ده، رښتيا کڅه هم لږ وي خو صواب يې ډير دی، يقين کڅه هم لږ وي خو ايمان يې ډير دی، جهل کڅه هم لږ وي خو تاوان يې ډير دی، پرګناه باندي اصرار کڅه هم لږ وي خو عذاب يې ډير دی.

## د يقين، رښتيا او تقوي څخه محروم خلګ:

أَخْبَرَنَا أَبُو سَعْدٍ الْمَالِينِيُّ، نَا أَبُو طَاهِرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَسَدِ بْنِ هِلَالٍ، نَا عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنِ سِيرَانَ قَالَ: سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ: "مَنْ بَطَرَ حرم الْيَقِينَ، وَمَنْ تَكَلَّمَ بِمَا لَا يَعْنِيهِ حُرِمَ الصِّدْقَ، وَمَنْ شَغَلَ جَوارِحَهُ فِي غَيْرِ طَاعَةِ اللهِ حُرِمَ الْوَرَعَ ، فَإِذَا حُرِمَ الْعَبْدُ هَذِهِ الثَّلَاثَةَ أَشْيَاءَ هَلَكَ، وَهُوَ مُثْبَتٌ فِي دِيوَانِ الْأَعْدَاءِ ".[شعب الايمان]

ژباړه: سهل بن عبدالله وايي: څوک چي تکبر وکړي هغه به د يقين څخه محروم سي، څوک بې مقصده خبري وکړي هغه به د رښتيا ويلو څخه محروم سي، څوک خپل د بدن غړي بيله طاعته د الله په بل شي باندي مشغول کړي هغه به د تقوی څخه محروم سي او هربنده چي ددغو درو شيانو څخه محروم سو بس هلاک سو او دی په لست کي د دښمنانو ليکل سوی دی.

## په هر مصيبت کي لومړی د ځان سره حساب وکړه!

که د يوې ګناه له وجهي تاته کوم تاوان رسيږي نو مخکي تر دې چي پر بل انسان دعوه وکړې د ځانه سره حساب وکړه، خپل ګناه د تاوان لامل وبوله او ځان ملامت کړه ځکه د ګناه په کولو باندي تا په خپل لاس پر ځان د تاوان دروازه راخلاصه کړه هم دي نورو خلګوته بهانه په لاس ورکړه تر څو تاته عذاب درکړي او هم دي الله پاک ځان ته په قهر کړ چي په دنيا کي يې د ګناه له امله عذاب درکړ.

## د الله پاک عبادت ته د فراغت ګټې:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِى أَمْلأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ وَإِلاَّ تَفْعَلْ مَلأْتُ يَدَيْكَ شُغْلاً وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ. [ سنن ترمذي 2654]

ژباړ: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله وسلم وفرمايل: الله پاک وايي: ای بني آدمه زما د عبادت لپاره ځان فارغ کړه زه به ستا زړه د غني څخه ډک کړم او فقر به دي ورک کړم او که دي دا کار ونکړ لاسونه به دي د مصروفيت څخه ډک کړم او فقر به دي ورک نکړم.

## پر دروشيانو د ساتني فايدي:

عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَرْوِي ذَلِكَ، عَنْ رَبِّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ:" ثَلَاثَةٌ مَنْ حَافَظَ عَلَيْهِنَّ فَهُوَ عَبْدِي حَقًّا – زَادَ ابْنُ عَوْفٍ، وَوَلِيِي حَقًّا –، وَمَنْ ضَيَّعَهُنَّ فَهُوَ عَدُوِّي حَقًّا الصَّلَاةُ وَالصَّوْمُ وَالْجَنَابَةُ " – يَعْنِي غُسْلَ الْجَنَابَةِ – وَهَذَا مُرْسَلٌ.[شعب الايمان2494]

ژباړه: رسول الله صلي الله عليه وسلم د الله پاک څخه روايت کوي چي الله پاک وفرمايل: درې شيان دي چي هرڅوک يې ساتنه وکړي نو هغه زما ريښتينی بنده دی او څوک چي يې ضايع کړي نو هغه زما ريښتينی دښمن دی(هغه درې شيان) لمونځ دی روژه ده او د جنابت څخه غسل کول دي.

## پر الله پاک باندي ګران خلګ:

سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه وسلم ، يَقُولُ : قَالَ اللَّهُ تَعَالَى : حَقَّتْ مَحَبَّتِي لِلَّذِينَ يَتَصَادَقُونَ مِنْ أَجْلِي ،وَحَقَّتْ مَحَبَّتِي لِلَّذِينَ يَتَنَاصَرُونَ مِنْ أَجْلِي ، وَمَا مِنْ مُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ يُقَدِّمُ اللَّهُ لَهُ ثَلاثَةً

M.N.Mazharee

أَوْلادٍ مِنْ صُلْبِهِ ، لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ إِلاَّ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمْ.[ المعجم الصغير1095]

ژباړه: رسول الله صلي الله عليه وسلم د الله پاک څخه روايت کوي چي الله جل جلاله وفرمايل: زما محبت د هغو خلګو لپاره ثابت دی چي زما لپاره د يو بل خبره مني، او زما محبت د هغو خلګو لپاره ثابت دی چي زما لپاره د يو بل سره مرسته کوي، او هيڅ مومن ته الله پاک درې اولادونه نه ورکوي چي مخکي تر بلوغ وفات سي مګر دا چي الله پاک يې پر هغوی باندي په خپل فضل سره وجنت ته داخلوي.

## په اسلام کي د نوروز لمانځل ندی روا:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الْمَدِينَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا فَقَالَ « مَا هَذَانِ الْيَوْمَانِ ». قَالُوا كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِى الْجَاهِلِيَّةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا يَوْمَ الأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ».

ژباړه: انس رضي الله عنه فرمايي: کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني منورې ته راغی، د مديني خلګو دوې ورځي لمانځلې او په هغو کي يې لوبي کولې، رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: دا کومي ورځي دي؟ دوی ورته وويل: موږ د جاهليت په وخت کي (يعني مخکي تر اسلامه) دا ورځي لمانځلې او لوبي مو پکښې کولې. رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل: الله پاک تاسوته ددغه دوو ورځو په بدل کي دوې نوري ورځي چي تر دغه دوو ورځو ډيري ښې دي درکړي چي د لوی اوکوچني اخترونو ورځي دي.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم د حديث ددې جزء " قد ابدلكم بهما" له ورايه ښکاري چي د لوی اوکوچني اخترونو ورځي د هغو دوو ورځو په بدل کي ورکول سويدي، معلومه خبره ده چي د بدل ورکولو وروسته، مبدل منه چي هغه پخوانۍ ورځي دي وروسته پرخپل حال باندي

پاته کیدلای نسي. نو د نوروز او میزان ورځي حرامي سوي پرځای یې د لوی اوکوچني اخترونو ورځي ایښودل سویدي.

## د کفاروسره مشابهت کوونکی د هغوی سره را حشر کیږي:

عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه قال:من بنى ببلاد الأعاجم وصنع نيروزهم ومهرجانهم وتشبه بهم حتى يموت وهو كذلك حشر معهم يوم القيامة. [ سنن البيهقي الكبرى: 9/234،]

ژباړه: د عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی چي هرڅوک دکفارو په ښارونوکي بناء وکړي، د دوی نوروز او میزان ولمانځي اود دوی سره ځان مشابه کړي ترڅوچي پر دغه حالت باندي مړکیږي نو دغه سړی به د دوی سره حشرکیږي.

## د هغو خلګو لپاره چي د ځینو خلګو بې ځایه صفتونه کوي:

عن خالد بن معدان رضي الله عنه قال : من مدح إماما أو أحدا بما ليس فيه على رؤوس الأشهاد بعثه الله يوم القيامة يتعثر بلسانه.[الصمت599]

ژباړه: خالد بن معدان وایي: څوک چي د امام او یا د بل چا صفت پداسي شیانو باندي وکړي چي هغه پده کي نوي نو الله پاک به دی د قیامت په ورځ د ټولو خلګو مخي ته پداسي حالت کي را حشر کړي چي ژبه به یې بنده بنده کیږي.

## هیچاته اجازه مه ورکوه چي مخامخ ستا صفت وکړي:

عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال : المدح ذبح.[الأدب المفرد602 ]

د عمربن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چي مدح کول حلالول دي.

او ددې څخه هغه مدح مراد ده چې مخامخ وي او یاهم بې ځایه وي ځکه په مخامخ مدح باندي په انسان کي غرور او تکبر پیدا کیږي او نور خلګ ورته دښمنان کیږي او په بې ځایه مدح کي خو یقینا درواغ راځي چې هغه هم حرام کاردی.

نو لکه په حلالولو باندي چې انسان هلاکیږي، په مخامخ او یا بې ځایه مدح باندي هم انسان هلاکیږي لکه په بل حدیث کي راځي: د رسول الله صلي الله علیه وسلم مخ ته یوسړي د بل چا مدح وکړه رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: ددې سړي ملا دي ورته ماته کړه.

هیچا ته ددې اجازه مه ورکوه چې مخامخ ستا مدح وکړي او یاهم په تاپسې داسي شیان وتړي چې هغه ستاسره نوي کنه تباه او برباد به سې!.

## په هغه چا باور مکوه چې مخامخ ستا بې ځایه صفت کوي:

قال وهب بن منبه رحمه الله : إذا مدحک الرجل بما لیس فیک فلا تأمنه أن یذمک بما لیس فیک. [الصمت605]

ژباړه: وهب بن منبه وایي: څوک چې ستا صفت په هغه شیانو باندي کوي چې پتا کي نسته نو هیڅ باورورباندي مکوه چې ستا بد به هم په هغه شیانو باندي وایي چې پتا کي نسته.

## د انسان حلالول:

عن إبراهیم التیمي رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه و سلم : ذبح الرجل أن تزکیه في وجهه. [ الصمت 596]

ژباړه: ابراهیم تیمي رضي الله عنه فرمایي: رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: د سړي حلالول دادي چې مخامخ یې ستاینه او صفت وکړې.



M.N.Mazharee

**مسلمانانوته:**

**جهاد، دعوت او تعليم هغه درې اصولي تګلاري دي چي په مټ يې د اسلام ساتنه، توسعه او خپراوی راځي بناءً هر مسلمان بايد پرخپل وخت ددغو درو صفاتو درلودونکی وي خو په تزکيه او اخلاص باندي دغه درې واړه صفتونه نورهم تيز، چټک، قوي او دوامداره کيږي بناءً ددغو درو صفاتو دعوه کوونکی بايد په پوره توګه د ځان تزکيه وکړي او خپل اخلاص نورهم ډير کړي ترڅو اوسنی خدمت يې قبول سي، د راتلونکي لپاره پرخدمت کولو توفيق پيدا کړي او خدمت يې په هر اړخيزه توګه مؤثر تمام سي.**

## د هر مسلمان لپاره څلور دښمنه دي:

1. نفس
2. شيطان
3. داخلي إنسي دښمن
4. خارجي إنسي دښمن

**نفس تر شيطان خطرناکه دی او داخلي انسي دښمن تر خارجي إنسي دښمن خطرناکه دی.**

**نفس د إنسان په بدن کي شيطان ته د مداخلې لاره آواره وي داخلي إنسي دښمن خارجي انسي دښمن ته د مداخلې لاره آواره وي.**

**نفس د شيطان معاون او همکار دی داخلي انسي دښمن د خارجي انسي دښمن معاون او همکاردی.**

**نفس او شيطان د انسان د هلاکت لپاره ډير مشترکات سره لري، داخلي انسي دښمن او خارجي انسي دښمن هم د مسلمان د هلاکت لپاره ډير مشترکات سره لري.**

M.N.Mazhar.ee

إنساني حواس چي کله د نفس تر تأثير لاندي راسي نو نفس دېته هڅوي ترڅو د خپل پلان د عملي کولو لپاره شيطان ته دعوت ورکړي.

ملحد او بې دينه انسانان چي کله د داخلي دښمن تر تأثيرلاندي راسي نو داخلي دښمن دېته هڅه وي ترڅو د خپل پلان د عملي کولو لپاره خارجي دښمن ته دعوت ورکړي.

نو را ويښ سه مسلمانه!

د څلورو واړو پرضد په قوي ايمان باندي مقابله وکړه.

## د حياء او شرم اهميت:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الْحَيَاءُ وَالإِيمَانُ قُرِنَا جَمِيعًا ، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ .([4])

ژباړه: حياء او ايمان سره مبنتي دي چي يو يې پورته سي هغه بل هم ورسره پورته کيږي.

توضيح: يعني حياء او ايمان دوه داسي مهم شيان دي چي هيڅ کله نه سره جلاکيږي چي هر يويې د إنسان څخه ولاړسي هغه بل خپله ورڅخه ځي.

مثلا که د چاڅخه ايمان ولاړ سي حياء هم ورڅخه ځي اوکه د چاڅخه حياء ولاړه سي نو ايمان هم ورڅخه ځي.

حياء پر درې ډوله ده:

- حياء د الله پاک څخه
- حياء د خپل ځان څخه
- حياء د نورو مخلوقاتوڅخه

څوک چي په پټه ګناه کوي هغه د الله اوځان څخه حياء اوشرم نلري، او څوک چي په ښکاره او عام منظر کي ګناه کوي هغه د الله، ځان او نوروخلګو د هيچا څخه شرم اوحياء نکوي.

---

[4] - المستدرک58

## د علم اړوند زريني کرښي:

۱.ښوونه اوزدکړه د انساني فطرت تقاضا او ثابت سوی حق دی.

۲.ښوونه اوزدکړه د انساني شرافت اوکرامت ساتندوی اوضامن دی.

3.په ښوونه اوزدکړه د انسان څخه کامل، عارف، عالم، هر اړخيزه خادم، داعي الي الخير، او د زرينو اخلاقو خاوند جوړيږي.

۴.ښوونه اوزدکړه د ټوله بشرد نيکمرغۍ، او بريا لپاره نه ستړي کيدونکی ضمير او قوي انرژي ښوونکي او زده کونکي ته ورکوي.

۵.ښوونه او زدکړه د باسعادته، واقعي او رينښتيني ژوند امکانات برابروي.

٦. اصلاح او آبادي د مځکي په باران وي او اصلاح او آبادي د انسانانو په علم او پوهنه وي.

۷.څوک چي د خپل کوره څخه د علم لپاره ووځي خدای پاک پر هغه باندي خپل رحمتونه نازلوي.

۸.علم او پوهه انسان ته استقامت، اعتماد د نفس، نشاط او خوشحالي ورکوي.

۹.علم خراب اوکنډواله ښارونه، کلي، او کورونه ودانوي.

۱۰.په علم باندي انسان ځان پيژني اوچي څوک ځان پيژني هغه جهان پيژني.

۱۱.علم د مستقيمي او برابري لاري لارښود او بيوونکی دی.

۱۲.علم د شيطان او نفس په مقابل کي سپردی.

۱۳.کچيري غواړی چي افسردګي ونلری نوعلم اوزدکړي ته مخه کړی.

۱۴.کچيري غواړی چي په خپل ژوند درته قناعت حاصل سي نو د علم او زدکړي تحصيل ته تر بل هرشي لومړی مخه کړی.

۱۵.د ماشومانو تعليم او زدکړه د خاوند غضب ساکته وي.

۱٦.علم حاصل کړی مخکي تردې چي سپين ږيري سی.(حضرت عمررضی الله عنه)

۱۷.علم عقل ته پرنفس غلبه ورکوي.

۱۸.پوهنه انسان د سيالانوسره سيال ګرځوي .

M.N.Mazharee

۱۹.طلب د علم د ځان باورۍ او خودکفایۍ یوائنی لاره ده.

۲۰.که څوک ځان په علم سمبال کړي هغه به په هري آزموینې کي کامیاب وي.

۲۱.علم انسان ته حیاء بخښي، حیاء تقوی ډیروي، تقوی انسان خپل پروردګارته رسوي.

۲۲.د علم خوند د ټولو خوندونو سر دی، خو هغه څوک یې درک کولای سي چي عالم وي.

۲۳.علم د انسان استعداد، اوکاري ظرفیت لوړوي.

۲۴.علم انسان ته قوت د درک او استدلال ورکوي.

۲۵.علم د انسان اقتصادي او مالي اړتیا پوره کوي.

۲۶.علم انسان ته د نوروخلګو په سترګوکي د عزت څخه ډک حیثیت ورکوي.

۲۷.دیني علوم د عصري علومو لپاره د انسان ذهن اماده او قوي کوي.

۲۸.دیني علوم د انسان فکري تکنالوژۍ ته انکشاف او پراختیا ورکوي.

۲۹.دیني علوم اصل او منشأ د ټولو علومو دي، باید زد کړي ته یې پوره پاملرنه وسي.

## د ډیر خوراک دري تاوانونه:

قال لقمان – علیه السلام – لابنه: " یا بني إذا امتلأت المعدة؛ نامت الفکرة، وخرست الحکمة، وقَعَدت الأعضاءُ عن العبادة " .

ژباړه: لقمان حکیم رحمه الله خپل زوی ته وویل: زویه! چي کله معده ډکه سي؛ نو فکر ویدیږي، حکمت ګونګیږي او غړي د عبادت څخه لویږي.

توضیح: یعني ډیر خوراک مکوه ځکه چي د ډیر خوراک دغه تاوان دی چي کله د إنسان ګیډه ډکه سي نو فکر یې ویده سي چي په نتیجه کي إنسان ټنبل کیږي او شیانو ته یې ژر فکر نه رسیږي، همدا راز د ګیډې د ډکیدلو سره د إنسان منطق او حکمت کمزوري کیږي چي په نتیجه کي د زړه خبري سمي نسي کولای او خپل زړه د خبرو څخه نسي خالي کولای ځکه چي ژبه یې د خبرو کولو توان نلري، همدا راز د ډیر خوراک له وجهي د انسان د بدن غړي سست

سي چي په نتيجه کي د الله پاک سم عبادت نسي کولای او تل په عبادت کي ورڅخه بې غوري کيږي.

## د ډېر خوراک تاوانونه:

وقال عمر – رضي الله عنه –: " من كثر أكله لم يجد لذكر الله لذة ".
وقال علي – رضي الله عنه –: " إن كنت بَطِنًا؛ فعد نفسک زَمِنًا ".
ژباړه: عمررضي الله عنه فرمايي: د چاچي خوراک ډېر سو هغه د الله د ذکر په خوند باندي نه پوهيږي.
علي رضي الله عنه فرمايي: که دخوراک له کبله ستا نس غټ وو يعني ډېر خوراک دي کوی نو خپل شل وشميره يعني يا به شل کيږي او ياهم داسي يې لکه شل ځکه شل کارونه او عبادت نسي کولاي نو ته يې هم سم نسې کولاي.
وقال بعض الحكماء: " أقلل طعامًا، تحمدْ منامًا ".
ځينو حکماؤ ويلي دي: لږ خوراک کوه چي په خوب کي هم حمد او ثناء ووايې.
يعني د لږ خوراک په کولو باندي انسان د ټمبلۍ څخه ساتل کيږي، زړه، حواس اوفکر يې حتي په خوب کي هم خپل واک اوحس دلاسه نه ورکوي نوچي کله ويده سي خوب به يې هم داسي وي لکه عبادت بد خوبونه به نه ويني، عبادت ته به ژر را ولاړيږي او دخوب له وجهي به يې په عبادت کي تأخير او ځنډ نه راځي.

## الصوم والاخلاص :

اخلاص او د هغه فايدې:
پدې خاطر چي په روژه کي عبادات ډېر ترسره کيږي او په عباداتو کي هم اساسي شی اخلاص دی نو راځی اخلاص او د هغه فايدې وپيژنو!

اخلاص دادی چي ته یواځي او یواځي د الله تعالي عبادت او طاعت وکړې.
اخلاص دادی چي خپل ټول کارونه د مخلوقاتو حتي د خپل ځان د ملاحظې څخه هم پاک کړې.
اخلاص دادی چي ستا ظاهر او باطن سره یوډول وي.
اخلاص دادی چي د الله پاک په دوامداره ذکر او یاد باندي خلګوته کتل او د هغو لحاظ کول هیر کړې.
فضیل رحمه الله فرمایلي دي:د خلګو لپاره د یو کار پریښودل ریاء ده، د خلګو لپاره د یو کار کول شرک دی او ددواړو څخه د ځان ساتل اخلاص دی.
جیند رحمه الله فرمایي: اخلاص یو راز دی د الله او بنده ترمابین، ملایکه نده په خبره چي ویې لیکي، شیطان ندی په خبر چي فاسد یې کړي او دانسان نفسي اشتیاق ندی په خبر چي دده څخه یې واړوي.
سهل رحمه الله ته وویل سوه: پر نفس باندي څشی ډیر سخت دی؟ ده ورته وویل: اخلاص. ځکه چي په اخلاص کي نفس هیڅ ونډه نلري.
ځیني وایي: اخلاص دېته ویل کیږي چي ته پر خپل عمل باندي بیله الله بل هیڅوک شاهد ونه نیسي اوبیله الله د هیچا څخه د اجرت غوښتنه هم ونکړي.
مکحول رحمه الله ویلي دي: څوک چي څلویښت ورځي اخلاص وکړي نو دحکمت چینې به یې د زړهٔ څخه پر ژبه باندي جاري سي.
ابوسلیمان داراني رحمه الله ویلي دي: انسان چي کله اخلاص وکړي نو وسوسې او ریاء ورڅخه لیري کیږي.
هروي رحمه الله ویلي دي: اخلاص دادی چي ته خپل عمل د هرعیب او نفسي غوښتني څخه پاک وساتې: لکه دخلګو په زړونو کي د محبوبیت پیدا کیدلو غوښتنه. داچي خلګ یې ستاینه وکړي او بد یې ونه وایي، خلګ یې تعظیم او احترام وکړي، دخلګو څخه د مال غوښتنه لري، دخلګو څخه دخدمت او محبت غوښتنه لري او داسي نور هغه منفي شیان چي د عمل کولو په وخت کي د نفس په واسطه د انسان ذهن ته راځي.

صدق او صداقت دادی چي په کار کي دخپل نفس هيڅ لحاظ ونه ساتې.

مخلص رياء نلري اوصادق تکبر نلري.

اخلاص په صدق باندي پوره کيږي او صدق په اخلاص باندي او دواړه بيا په صبر باندي.

رياء داده چي د انسان ظاهره تر باطن ښايسته وي.

صدق په اخلاص کي دادی چي باطن د انسان تر ظاهر آباد او ودان وي.

څوک چي د خلګو لپاره ځان پداسي شيانو باندي ښايسته کوي چي هغه پده کي نوي نو دالله پاک داعتبار څخه به ولويږي.

د اخلاص فايدې

۱ – اخلاص د اعمالو او اقوالو په قبليدلو کي پايه او اساس دی.

۲ – اخلاص د دعاء د قبليدلو لپاره پايه او اساس دی.

۳ – په اخلاص باندي د إنسان مرتبه په دنيا او آخرت کي لوړيږي.

۴ – په اخلاص باندي إنسان د وسوسو او وهمونو څخه ساتل کيږي.

۵ – په اخلاص باندي بنده د غير الله د بندګۍ څخه آزاديږي.

۶ – په اخلاص باندي ټولنيز ارتباطات قوي کيږي او دالله پاک نصرت د امت په برخه کيږي.

۷ – په اخلاص باندي دنيوي سختۍ آسانه کيږي.

۸ – په اخلاص باندي د انسان زړه ته اطمينان راځي او دی احساس د خوشالۍ او نيکمرغۍ کوي.

۹ – په اخلاص باندي د انسان ايمان قوي کيږي او دګناه او سرکښۍ څخه يې په زړه کي نفرت پيدا کيږي.

۱۰ – په اخلاص باندي د مصيبتونو په مقابل کي د انسان اراده او عزم قوي کيږي.

۱۱ – په اخلاص باندي إنسان په دنيا او آخرت کي پوره أمن او لاربښونه لاسته راوړلاي سي.

[طريقة لخدمة الدين]

M.N.Mazharee

## ايا غواړې شيطان ليونى كړې؟

كه غواړې چي شيطان ليونى كړې نو په لمانځه كي په التحيات كي د شهادت كلمې سره د شهادت ګوته پورته كړې.

نافع رضي الله عنه فرمايي: عبدالله بن عمر چي به كله پرلمانځه ګښيناستى خپل لاسونه به يې پر ځنګونونو باندي كښېښوول په ګوتي به يې اشاره كول او په سترګو به يې ورته كتل. بيايې وويل چي ددغي اشارې تأثير پر شيطان باندي تر اوسپني ډير دى.

پر شيطان باندي ځكه بد تأثير كوي چي ددغي ګوتي په پورته كولو سره اشاره وتوحيد ته ده او پدې خاطر چي شيطان د توحيد سره ندى جوړ نو پدې كار باندي يې ډيره خوا بديږي او ذهني فشار ورباندي راځي زموږ په اصطلاح عصاب يې خرابيږي او روحي تكليف ورته پيدا كيږي او د اوسپني په وهلو ظاهري خوږيږي او دا معلومه خبره ده چي د روحي تكليف منفي اثر تر ظاهري ټپ ډير دى.

او بله خبره داده چي كله شيطان ددغه انسان څخه ياده اشاره ويني نو ددغه انسان د ګمراه كولو څخه يې طمعه قطعه كيږي او نا اميده كيږي نو خود به بد تأثير ورباندي كوي.

عَن نافِعٍ قَالَ : كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلاَةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ ، وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ ، وَأَتْبَعَهَا بَصَرَهُ ، ثُمَّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَهِيَ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنَ الْحَدِيدِ يَعْنِي السَّبَّابَةَ.[مسند احمد6000]

## د دا ځينو خلګو داسي طبيعت جوړسوى وي:

- پر تا باندي انتقاد كوي خو د اصلاح لاره يې نه درته وايي.
- ستا په اړه د نورو خلګو خبري مني خو ستاپه اړه ستا څخه پوښتنه نكوي.
- دده په فكر چي څوک حق نه وايي پر هغه باندي نيوكه كوي اوكه يې وايي بيا يې په اړه وايي: حتما پدې كي يو هدف لري.

M.N.Mazhar

- مثبت او منفي يې په خپل طبيعت كي را ټول كړيوي.
- پر لمانځه ولاړ وي ددې پرځای چي سم لمونځ وكړي ستا په لمانځه كي يې فكر وي.

د هرچاچي د غسي طبيعت وي بايد د ځان غم وخوري.

## ايا جنت غواړی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: " «أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَاضْرِبُوا الْهَامَ تُورَثُّوا الْجِنَانَ»[التِّرْمِذِيُّ 1854]

ژباړه: ابوهريرة رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په خپل مينځ كي يو بل ته سلام وكړی، يو بل ته ډوډۍ وركړی او دكافرانو سرونه ووهی ترڅو جنت وګټی.

توضيح: د دغو درو كارونو په كولو سره تاسو د جنت ګټونكي كيدلای سی:

- سلام كول عام كړی او يو بل ته سلام وكړی.
- يو بل ته طعام او ډوډې وركړی او د يوبل سره مرسته وكړی.
- د كافرانو سرونه ووهی يعني د هغوی سره جهاد وكړی.

## ځانونه د تكبر څخه وساتی!

إياكم والكبر فإن إبليس إنما منعه الكبر أن يسجد لآدم.[الترغيب والترهيب]

ژباړه:ځانونه د تكبر څخه وساتی ځكه تكبر وو چی شيطان يې آدم عليه السلام ته د سجدې كولو څخه منع كړی.

هر مسلمان بايد ځان د تكبر څخه وساتي ځكه چي تكبر يې د شيطان په عاقبت باندي ګرفتاره كوي لكه شيطان چي يې د الله پاک د اطاعت څخه را وګرځوي إنسان هم د الله پاک د اطاعت څخه را ګرځوي، نه تنها دا چي د نيک كار څخه يې را ګرځوي بلكي د بدكار پر كولو باندي

يې باعث کوي پدې خاطر دی چي په بل حديث کي راځي: دکوم انسان په زړه کي چي يوه ذره تکبر وي هغه به وجنت داخل نسي.

## څوک چي ډاکټرنوي ډاکټري کوي:

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ ، عَنْ أَبِيهِ ، عَنْ جَدِّهِ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ تَطَبَّبَ وَلَمْ يُعْرَفْ مِنْهُ طِبٌّ فَهُوَ ضَامِنٌ. [المستدرک7484]

ژباړه: څوک چي ډاکټري وکړي پداسي حال کي چي دی په ډاکټرۍ باندی نه پوهيدی نودی بايد تاوان ورکړی.

توضيح: څوک چي دعوه د ډاکټرۍ کوي او د ناروغانو درملنه کوي خو په اصل کي دی ډاکټر نوي او د ناروغ په ناروغۍ باندی نه پوهيږی نو دده د معالجې او درملنی په سبب که هرڅاته تاوان ورسيدی دی يې ضامن دی يعني دی يې بايد تاوان ورکړي.

ټول ډاکټران بايد ډيرکوښښ وکړي لومړی دي په زدکړه او تجربه باندي ځان پوه کړي بيا دي د ناروغانو درملنه شروع کړي او چه کله يو ناروغ ورته راځي لومړی بايد د هغه د ناروغۍ تشخيص وسي وروسته ورته درمل تجويز کړل سي.

اوبله خبره داده چي هر ډاکټر بايد د ناروغ د ناروغۍ په اندازه او د هغه د اخيستنی په مقدار دوا مريض ته ورکړي داسي نوي چي په لومړی نسخه کي ورته يو پټو دوا ورکوي هغه هم معلومه نوي چي آيا دمريض به همدا ناروغي وي اوکه يا؟

## د اخرت د ورځی محاسبه مه هيروی!

ابي عسيب چي د رسول الله صلی الله عليه وسلم آزاد سوی مريی وو فرمايي: يوه شپه رسول الله صلی الله عليه وسلم زما، ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سره را ووتی او د يوه انصاري باغ ته داخل سو. انصاري ته يې وويل موږ ته يوڅه خرما راکړه هغه يو ډونډوری د خرما راوړ او زموږ

M.N.Mazhar.e

په مابین کي یې کښېښودی مور ددې ډونډوري څخه خرما وخوړل بیا یې اوبه را وغوښتلې اوبه مو هم وچیښلې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ارومرو به ستاسو څخه ددغه نعمتونو په اړه پوښتنه کیږی حضرت عمر رضی الله عنه دخرما ډونډوری واخیستی او پر مځکه یې وښوروی ترڅو یوڅو خرماوي ځینی ورژیدلې بیا یې وویل یا رسول الله آیا زمونږ څخه ددې نعمتونو په اړه پوښتنه کیږي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو د هر شي پوښتنه کیږي تنها د درو شیانو پوښتنه نکیږي:

۱ – هغه ټوکر چي انسان خپل عورت په پټوي.

۲ – هغه ټوټه ډوډې چي انسان خپله لوږه په لیري کوي.

۳ – هغه کوچنی ځای چي انسان ځان د ګرمۍ او یخ څخه په ساتي.

یعني د انسان څخه د هر شی په باره کي پوښتنه کیږي او په اړه یې محاسبه ورسره کیږي تنها ددغو درو شیانو په اړه ورڅخه پوښتنه او محاسبه نکیږي ځکه چی دغه درې شیان د انسان د ضرورت په خاطر ورته عفو دي.

ددې حدیث څخه له ورایه ښکاري چي إنسانان په دنیا کي هرشی خوري، را ټولوي، جوړوي او اغوندي د ټولو په اړه به ورسره محاسبه کیږي که ډول ډول کالي اغوندي، که رنګارنګ خواړه خوري، که په مختلفو ګاډو او موټرانو کي سوریږي، که په ښایسته کورونوکي اوسیږی اوکه د نورو دنیوی اسبابو او آلاتو څخه ګټه پورته کوي د ټولو په اړه به ورڅخه سوال او پوښتنه کیږي. که یې د حلالي لاري څخه لاسته راوړي وي، اسراف یې نوي کړی، هر شی یې پر خپل ځای او مورد باندي لګولی وي، د هرشي په کارولو کي یې د الله پاک خوښه په پام کي نیولې وي، آخرت یې نوي هیرکړی او په هرشي کي یې د نورو مسلمانانو اړتیا ته کتنه کړېوي نوخیر دی الله پاک به یې په حساب کي بریالی کړي کنه نو د داسي ډیرو شیانو محاسبه ورکول آسانه کار ندی.

الله پاک دي مو په خپل فضل او احسان سره دآخرت په حساب کي بریالي کړي.

أَخْبَرَنَا أَبُو عَبْدِ اللهِ الْحَافِظُ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ الْحَسَنِ، حدثنا أَبُو الْعَبَّاسِ مُحَمَّدُ بْنُ يَعْقُوبَ، حدثنا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ الصَّغَانِيُّ، حدثنا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حدثنا حَشْرَجُ بْنُ نُبَاتَةَ، عَنْ أَبِي نَصْرَةَ الْبَصْرِيِّ، عَنْ أَبِي عَسِيبٍ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلًا، فَمَرَّ بِي فَدَعَانِي فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ، ثُمَّ مَرَّ بِأَبِي بَكْرٍ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ، ثُمَّ مَرَّ بِعُمَرَ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ، ثُمَّ انْطَلَقَ يَمْشِي حَتَّى دَخَلَ حَائِطًا لِبَعْضِ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَاحِبِ الْحَائِطِ: " أَطْعِمْنَا بُسْرًا " فَجَاءَ بِعِذْقٍ فَوَضَعَهُ، فَأَكَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ، –ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَشَرِبَ، ثُمَّ قَالَ: " لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ " فَأَخَذَ عُمَرُ الْعِذْقَ فَضَرَبَ بِهِ الْأَرْضَ حَتَّى تَنَاثَرَ الْبُسْرُ، قِبَلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ إِنَّا لَمَسْئُولُونَ عَنْ هَذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ؟ قَالَ: " نَعَمْ، إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ، خِرْقَةٍ يَسْتُرُ بِهَا الرَّجُلُ عَوْرَتَهُ، وَكِسْرَةٍ يَسُدُّ بِهَا جَوْعَتَهُ، أَوْ حَجَرٍ يَدْخُلُ فِيهِ مِنَ الْحَرِّ وَالْقُرِّ ".[شعب الإيمان4281]

## د اولادونو په محبت کی احتیاط او اعتدال وکړی!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی:إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ مَجْهَلَةٌ مَحْزَنَةٌ. [المستدرک 5284]

یعني اولاد ځای د بخالت، بي غیرتی، ناپوهی او غمګینی دی.

توضیح: یعني اولاد ددې لامل جوړیږی چی انسان دي ددوی پخاطر بخالت وکړي او مال دي په صدقه اوخیرات باندي ورنکړی آن تردې چي ځیني خلګ خو د خپل اولاد لپاره فرض زکات هم نه ورکوي.

همدا راز اولاد ددې لامل جوړیږي چي انسان دي ببغیرته سي او د اولاد پخاطر دي جهاد پسې پریږدي ځکه دیری وختونه إنسان د خپلو اولادونو په فکر د جهاد څخه پاتیږي.

همدا راز اولاد ددې لامل جوړیږي چي انسان دي ناپوه سي یعني د اولاد پخاطر دي د علم او پوهي د تحصیل څخه پاته سي، داسي ډیري بیلګي سته چي ځیني خلګ مخکي تردې چی واده



M.N. Mazharee

وکړي او د اولاد خاوند سي درسونه او سبقونه وايي خوکله چی واده وکړی او اولاد يې پيدا سي نور نو درسونه او سبقونه د همدغه اولاد پخاطر پسې پريږدي.
همدا راز اولاد ددې لامل جوړيږي چي انسان دي غمگينه سي ځکه چي د اولاد د روزی، صحت او پالني غم تل ورسره وي او په هر هغه شي باندي غمگينه کيږي کوم چی دده اولاد ورباندی زوريږي.
نو بايد د اولاد سره په محبت کي ډېر احتياط او اعتدال څخه کار واخيستل سي.

## د بې گناه وژني عاقبت:

وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " «لَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا، مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا، فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ» ". [رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ]
ژباړه: ابوالدرداء رضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه روايت کوي چي مسلمان تل د نيکو کارونو په کولو کي چټک او صالح وي ترڅو چي د حراميويني مرتکب سوی نوي کله چي د حرامي ويني مرتکب سي نو د نيکو کارونو دکولو څخه بند سي.
توضيح: يعني مسلمان تل د نيکو کارونو کولو ته چټک او آماده وي او په شوق باندي نيک کارونه کوي او د الله پاک پر طاعت باندي سم ولاړ وي خوکله چي بې گناه وژنه ځيني وسي بيا دغه ټوله انرژي يې ورسره ختمه سي د نيکو کارونو سره يې رابطه قطعه سي او د الله پاک په طاعت کي ډېر ټنبل سي.
بايد هر مسلمان کوښښ وکړي چي بې گناه إنسان ور څخه قتل نسي.

## د بې گناه وژني لوی تاوان:

لَنْ يَزَالَ الْمُؤْمِنُ فِي فُسْحَةٍ مِنْ دِينِهِ مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا» . [رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ]



M.N.Mazharee

ژباړه: مسلمان تر هغه وخته پوري ددين په ترقۍ کي وي تر څو چي د حراميويني مرتکب سوی نوي.

توضيح: يعني مسلمان تر هغه وخته پوري په ديني ترقۍ کي وي او ديني پوهه او عمل يې ډېرېږي تر څو چي يې بې ګناه قتل نوي کړی که يې چي بې ګناه قتل وکړ نو ددين د ترقۍ مخه يې نيول کيږي او ديني پرمختګ يې ټکنی کيږي.

## د خاينو مشرانو عاقبت:

عن معقل بن يسار قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : " ما من وال بلي رعية من المسلمين فيموت وهو غاش لهم إلا حرم الله عليه الجنة "[متفق عليه]

ژباړه: معقل بن يسار وايي: ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه واورېدل چي ويل يې: هرڅوک چي د مسلمانانو د يوې ټولۍ مشر سي او دی پداسي حالت کي مړسي چي د هغوی سره يې خيانت کړی وي الله پاک به پرده باندي جنت حرام کړي.

## د صله رحمي ګټي او فايدې:

عَنِ الْعَلاءِ بن خَارِجَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:"تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ، فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ لِلأَهْلِ، وَثَرَاءٌ لِلْمَالِ وَمَنْسَأَةٌ لِلأَجَلِ". [المعجم الكبيرللطبراني14598]

ژباړه: علاء بن خارجه وايي: رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: خپل نسبونه دومره و پيژنی چي خپله صله رحمي وصل کړی ځکه چي صله رحمي دکورنۍ لپاره محبت دی، د مال لپاره ډېروالی دی او د اجل لپاره ځنډېدل دي.

توضيح: يعني په خپل مينځ کي خپله قومي او نسب دومره وپيژنی چي د يوبل تر مينځ صله رحمي وصل کړی ځکه چي د صله رحمي ډېري ګټي دي:



M.N.Mazharee

- په کورنۍ کي محبت پيدا کوي.
- د انسان مالورباندي ډېرېږي.
- او د انسان اجل ورباندي ځنډېږي يعني عمر يې اوږدېږي.

## د فقر اومسکنت پيغور ته اعتبار ورنکړی!

وقال صلى الله عليه وسلم: يأتي على الناس زمان يكون هلاک الرجل على يد زوجته وأبويه وولده يعيرونه بالفقر ويكلفونه ما لا يطيق فيدخل المداخل التي يذهب فيها دينه فيهلک.[احياء علوم الدين]

ژباړه: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: پر خلګو به داسي زمانه راسي چي سړی به د ميرمني، پلار او مور او اولادونو له لاسه هلاکيږي، دوی به هغه ته د فقر پيغور ورکوي او پداسي کارونو به يې مکلف کوي چي هغه يې نسي کولای نو داسي ځايونو ته به ورځي چي په هغه کي دی خپل دين له لاسه ورکوي او هلاکيږي.

يعني دده ښځه، مور او پلار او اولادونه به ودته پيغور ورکوي چي ته څنګه مسکين يې، پيسې نلرې خلګ څومره ډېري روپۍ لري؟ نو دی بيچاره به د مجبوريته څخه داسي کارونو ته مخه کړي چي په هغو کي خپل دين له لاسه ورکوي نو هلاکت او بربادي به يې په برخه کيږي.

نو پام کوی چي د فقر اومسکنت په پيغور باندي دوکه نسی او د هيڅا خبره جدي ونه نيسی خپل د ضرورت لپاره بايد إنسان هڅه وکړي څومره مال چي يې لاسته راځي بايد قناعت وکړي او د مال ډېريدلو لپاره هر کار او هرشي ته لاس وانه چوي.

## د بدو خلگو څخه ډالۍ او سوغاتونه مه اخلی!

عَنْ حُذَيْفَةَ الْمَرْعَشِيِّ , قَالَ:إِيَّاكُمْ وَهَدَايَا الْفُجَّارِ، وَالسُّفَهَاءِ فَإِنَّكُمْ إِنْ قَبِلْتُمُوهَا ظَنُّوا أَنَّكُمْ رَضِيتُمْ بِفِعْلِهِمْ. [شعب الايمان8980]

ژباړه: حذیفه مرعشي وايي: ځانونه د ډالۍ او سوغاتونو څخه د ګناهکارانو او بې عقلانو وساتی ځکه که تاسو د دوی سوغاتونه قبول کړی دوی داسي فکر کوي لکه تاسو چي د دوی په کارونو باندي خوشاله یاست.

یعني که یو فاسق او یا بې عقل إنسان تاته یوه ډالۍ درکوي هغه ورڅخه مه قبلوه ځکه چي دی به داسي فکر وکړي چي ته دده څخه خوشاله یې او کارونه یې خوند درکوي چي په نتیجه کي دی نورهم د ناوړه کارونو کولو ته تشویقیږي او ستاسره په رابطه باندي خپل ناروا کارونه توجیه کوي.

## د هري وظیفې اومسیءولیت لپاره باید سم خلگ وګمارل سي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ضُيِّعَتْ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ قَالَ كَيْفَ إِضَاعَتُهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِذَا أُسْنِدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ.[صحيح البخاري6015]

ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: کله چي امانت ضایع سو نو د قیامت انتظار کوه چا پوښتنه وکړه چي امانت څنګه ضایع کیږي یارسول الله ؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: کله چي کار نا اهله ته وسپارل سي نو د قیامت انتظار کوه.

توضیح: حکومت، امارت، ریاست، علم، فتوي، امامت، مشرتوب او هره سرپرستي هغه امانتونه دي چي تل باید اهل او مستحقو إنسانانو ته وسپارل سي داسي انسانان باید ورباندي مقرر سي چي بېله کوم خیانته، ټګۍ اوسستۍ څخه یې سرته ورسوي.



M.N.Mazharee

کله چې ددې اصل خلاف عمل شروع سو او پورته امانت مسیولیتونه نا اهلو إنسانانو ته وسپارل سوه نو پدې باندې پوه سی چې قیامت را نژدې سوی دی ځکه چې نا اهل ته د مسیولیت سپارلو سره په مځکه کې هرج او مرج، ګډوډۍ او فساد را پورته کیږي چې دا یوه لویه علامه د قیامت ده بالآخره د ښو خلګو کمی را مینځ ته کیږي او د قیامت راتګ ته زمینه مساعده کیږي.
نو تل باید عموما ټول انسانان دې اصل ته پوره پاملرنه وکړي او د خپلو ټولو چارو لپاره داسې مشران او رییسان انتخاب کړي چې اهلیت د مسیولیت ولري خاینان، فاسقان او ناکاره خلګ نوي بلکي ریښتیني، معتقد، متعهد او پوه مسلمانان وسي.
پدې کښې ټول مسیولیتونه داخل دي د باچا او امیر څخه شروع بیا تر کښته رتبه رییس او مدیر پوري ټوله باید ښه خلګ وي.
د بدو خلګو انتخاب او ګمارل د دنیوي او ټولنیزو مفاسدو ترڅنګ د الله پاک قهر او غضب هم د ځانه سره لري.

## منافق ته مشر مه وایاست!

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ تَقُولُوا لِلْمُنَافِقِ سَيِّدٌ فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ سَيِّدًا فَقَدْ أَسْخَطْتُمْ رَبَّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ ».[ سنن ابي داود4979]
ژباړه: رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي: منافق ته مشر مه وایاست ځکه که دی مشر وي نو یقینا چې تاسو خپل رب ځانته په خښم کړی دی.
توضیح: یعني منافق او بد سړي ته مشر او سید مه وایاست ځکه چې که دی تاسو د خپلي مشرۍ لپاره غوره کړی وي نو الله پاک مو ځانته په خښم کړی دی او که ستاسو مشر نوي بیا خو نو د داسي خبرو په کولو باندي د درواغو ویل لازمیږي.

## هغه سترګي چي اور یې نه سوځوي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « عَيْنَانِ لاَ تَمَسُّهُمَا النَّارُ عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ ».[سنن ترمذي 1740]

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه واوریدل چي ویل یې: دوه ډوله سترګي دي چي اور نه ورته رسیږي یوهغه سترګي چي د الله له ویرې وژاړي او بل هغه سترګي چي د الله په لاره کي د نګهبانۍ په حالت کي شپه تیره کړي.

توضیح: یعني دوه ډوله سترګي دي چي جهنم ته نه لویږي یو ډول هغه سترګي دي چي د الله له ویري وژاړي او بل ډول هغه سترګي دي چي په جهاد کي د نګهبانۍ په حالت کي شپه تیره کړي.

دلته سترګي ذکر دي خو هدف ورڅخه خاوند د سترګو دی یعني خاوند ددغسي سترګو اور ته نه لویږي.

# د فهرست لاربنوونه:

د فهرست پر هرعنوان باندي چي کلیک وکړی سمدستي هغه مطلب درته راځي


| فهرست | | |
|---|---|---|
| ۱ | د سفر په اړه | ۱ |
| ۲ | د مصیبت په وخت کي د غمګینۍ خبري مکوی | ۱ |
| ۳ | آیا ډیری خلګ د دې حدیث مصداق ندي؟ | 2 |
| ۴ | خوندور او پوره ملاقات | 3 |
| ۵ | بهترینه | ۴ |
| ۶ | صمیمي ملګری | ۴ |
| ۷ | دري شیان د اسلام عزت له منځه وړي | ۵ |


M.N.Mazharee

| | | |
|---|---|---|
| ۸ | د صفر میاشته د بدفالۍ او بدمرغۍ میاشت نده | 5 |
| ۹ | مجازات کسي که در بین امت مسلمه تفرقه میاندازد | 7 |
| ۱۰ | درخواست چوکي و مسیولیت را نکنید | 7 |
| ۱۱ | ماه صفرالمظفر ماه بدپالي نیست | 8 |
| ۱۲ | ذکر خدا را قرباني اولاد و اموال نکنید! | 10 |
| ۱۳ | په دنیا کي د تقوی اودرغبت پایلي | 11 |
| ۱۴ | ددنیا اوآخرت پرتله کول | 11 |
| ۱۵ | د بي حیایۍ او بي علمۍ زمانه | 12 |
| ۱٦ | شپږخلګ دغم څخه نه خلاصیږي | 12 |
| ۴۰ | د حسد په پرېښودلو باندي عمر ډېرېږي | 14 |
| ۴۱ | په اسمان او مځکي کي لومړنۍ ګناه | 14 |
| ۴۲ | همدغه نیت درسره وساتی | 15 |
| ۴۳ | د خبري په ثبوت کي دلیل ته ګوره! | 15 |
| ۴۴ | د علماو سپکاوی مکوی! | 16 |
| ۴۵ | جزاي کسیکه مسلمان را اهانت میکند | 16 |
| ۴٦ | په ناخبرۍ کي د تهمت ویلو سزا | 17 |
| ۴۷ | ښکلي څو عربي د پند څخه ډک شعرونه د پښتو ژباړي سره | 17 |
| ۴۸ | په هر کورکي چي طالب العلم وي هلته به برکت وي | 18 |
| ۴۹ | زموږ څخه پر موږ باندي | 19 |
| ۵۰ | د درو نفرو پسې خبري کول غیبت ندی | 19 |
| ۵۱ | دري غټ آفتونه | 20 |
| ۵۲ | پر درو نفرو باندي الله پاک ډېر رحمت کوي | 20 |


M.N.Mazhar.c

| | | |
|---|---|---|
| ۵۳ | نوي کالي، ښه ژوند، مرګ د شهادت | 21 |
| ۵۴ | د جهاد د پرېښودلو عذاب | 22 |
| ۵۵ | د ژبي ساتل، د خښم کنترول کول او الله پاک ته عذرکول | 22 |
| ۵٦ | مسلمانه!خپل قدر او مرتبه وپیژنه! | 23 |
| ۵۷ | د خپل قوم سره محبت قوم پرستي نده! | 23 |
| ۵۸ | د فاسقانو فسق مه پټوی! | 24 |
| ۵۹ | فاسق حرمت نلري | 25 |
| ٦۰ | فاسق عالم څوک دی؟ | 25 |
| ٦۱ | که د خپل دين عزت غواړې نو.... | 26 |
| ٦۲ | نن همداسي وخت دی | 26 |
| ٦۳ | د باچا په اصلاح کي د وزير رول | 27 |
| ٦۴ | صدقه د مسلمان لپاره د قيامت ورځ کي سايه ده | 27 |
| ٦۵ | بدترينه د خلګو | 28 |
| ٦٦ | په روژې کي به نفل په فرضو اويوفرض په اويا 70 فرضوحسابل کيږي | 28 |
| ٦۷ | د نفسي غوښتنو پسي تلل رسوايي لري: | 30 |
| ٦۸ | د روژې په نيولو باندي ګناهونه بخښل کيږي | 31 |
| ٦۹ | د ظالم مرسته او سود خوړل | 31 |
| ۷۰ | د هرمسلمان لپاره نبوي پيغام | 32 |
| ۷۱ | په مسلمان کي بايد دغه صفات نوي | 33 |
| ۷۲ | د خپل مسلمان ورور ابرو وساتئ! | 33 |
| ۷۳ | لويه ربا او سود | 33 |
| ۷۴ | دوه دکفر عادتونه | 34 |

| | | |
|---|---|---|
| ۷۵ | په آخرت کي شفاعت کوونکي | 34 |
| ۷٦ | د مال په پیداکولوکي د بي باکۍ څخه ډډه کول | 35 |
| ۷۷ | په دوو شیانو کي خبري مکوی! | 35 |
| ۷۸ | د رسول الله صلي الله علیه وسلم سره محبت | 36 |
| ۷۹ | په درو شیانو باندي د ایمان خوند لاسته راوړلای سو | 36 |
| ۸۰ | روژه او قرآن د إنسان لپاره شفاعت کوي | 37 |
| ۸۱ | د شوال روژې هیري نکړی | 37 |
| ۸۲ | د قیامت نښه او علامه | 38 |
| ۸۳ | د روژې میاشته د توبې لپاره ښکلی وخت | 38 |
| ۸۴ | ډیره مهمه دعا | 39 |
| ۸۵ | د یوې ډلې سره د درېدلوحکم | 41 |
| ۸٦ | دوه مخی سیاست | 41 |
| ۸۷ | د نفس سره محاسبه وکړی! | 42 |
| ۸۸ | په اور باندي سوځول د مرتد سزې سوځول | 42 |
| ۸۹ | د مال بیځایه مصرف مکوی! | 43 |
| ۹۰ | دکفارو د دوستۍ او ملګریتوب څخه لاس واخلي! | 43 |
| ۹۱ | د کافرانو او ظالمان څخه لیري ګرځي! | 44 |
| ۹۲ | دکافر د وژلو فضیلت | 45 |
| ۹۳ | د فاسق د صفت کولو او تقدیرولو ګناه | 46 |
| ۹۴ | د هرظالم مخه باید ونیول سي | 46 |
| ۹۵ | د ګناه د نه بندولو عذاب | 47 |
| ۹٦ | د ظالمانو د بقاء لپاره دعا مکوی! | 47 |


M.N.Mazhar.e

| | | |
|---|---|---|
| ۹۷ | د شیطانانوڅخه زده کوونکي | 48 |
| ۹۸ | د هغي ښځي عذاب چي د میړه څخه طلاق غواړي | 48 |
| ۹۹ | دخندا او ټوکو لپاره خلګ پرځان باندي مه ټولوی! | 49 |
| ۱۰۰ | د خپل علم په اهمیت باندي پوه سی! | 49 |
| ۱۰۱ | د بل چالیکنه او یاتصنیف په خپل نامه باندي نشرکول | 50 |
| ۱۰۲ | په یوي روژي باندي د 70 کاله سفر مسافت په اندازه د اورڅخه انسان لیري کیږي | 52 |
| ۱۰۳ | د اختري وجوب | 52 |
| ۱۰۴ | د الله د ذکر نه بغیر ډیري خبري مکوی! | 53 |
| ۱۰۵ | ډیره خندا مکوی! | 53 |
| ۱۰٦ | د الله او مومنانو د دښمنانو سره دوستيِ مکوی! | 54 |
| ۱۰۷ | د روژاتي مزدوري او مسیولیت | 54 |
| ۱۰۸ | د مجاهد فضیلت | 55 |
| ۱۰۹ | جنګ پردوه ډوله دی | 56 |
| ۱۱۰ | د مجاهد مرتبه | 56 |
| ۱۱۱ | وختي لمانځه او بازار ته تلل | 57 |
| ۱۱۲ | هغه خلګ چي تر ټولو بد به یي واکمن وي | 57 |
| ۱۱۳ | انسانانو ته په ناحقه عذاب ورکول | 59 |
| ۱۱۴ | پر دم باندي مزدوري اخیستل | 60 |
| ۱۱۵ | ټول یي باید وګورو او عمل ورباندي وکړو | 61 |
| ۱۱٦ | په دنیوي مصیبتونو باندي مه خوابدي کیږی | 61 |
| ۱۱۷ | پریوبل دکافر اویا مرتد بي تحقیقه ټاپي مه لګوی! | 62 |
| ۱۱۸ | د آخري زماني د باچاهانو اوخلګو په اړه د رسول الله وړاندوینه | 62 |


M.N.Mazhar.e

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۹ | پداسي حال کي مړکيدل چي نيت د جهاد ورسره نوي | 64 |
| ۱۲۰ | په اسلام کي قوم پرستي نسته | 64 |
| ۱۲۱ | تصوف څه شي دی؟ | 65 |
| ۱۲۲ | تر باران لاندي دعا کول | 66 |
| ۱۲۳ | در زير باران دعا نمودن | 66 |
| ۱۲۴ | د نسب تبديلول حرام دي | 66 |
| ۱۲۵ | پوره ايمان او انساني غوراوی | 67 |
| ۱۲۶ | په کوم شي باندي چي خبرنه يي تبصري مه ورباندي کوه! | 68 |
| ۱۲۷ | د هرچاسره په ساده اوروانه ژبه خبري وکړی | 68 |
| ۱۲۸ | په ټوليزه توګه دعاکول | 69 |
| ۱۲۹ | پنځه شيان په پنځوشيانو کي | 69 |
| ۱۳۰ | پرهيزګاري او د هغي لوازم | 70 |
| ۱۳۱ | د نيک عمل کول دکاميابۍ نبنه ده | 71 |
| ۱۳۲ | د مسواک اهميت | 71 |
| ۱۳۳ | إيمان او دکفارو سره دوستي نه سره يوځای کيږي | 72 |
| ۱۳۴ | امر بالمعروف او نهي عن المنکر مه پريږدی! | 73 |
| ۱۳۵ | د ګمراه مشرانو او بخيل سرمايه دارانو پايلي | 73 |
| ۱۳۶ | په جنت کي ده روژاتيانو لپاره ځانګړي دروازه | 74 |
| ۱۳۷ | ذکرکوی خو په ټيټ آواز باندي | 74 |
| ۱۳۸ | د علم آفت او ضايع کيدل | 77 |
| ۱۳۹ | عالم بايد د خپل علم په قدرباندي پوه سي | 78 |
| ۱۴۰ | از بارگاه خداوند نا اميد نشويد! | 78 |

| | | |
|---|---|---|
| 79 | يهود او نصاري د جزيرة العرب څخه اوباسی! | ۱۴۱ |
| 80 | ابوذر ته د رسول الله صلي الله عليه وسلم لارښووني | ۱۴۲ |
| 81 | بازار ته ناوخته راځه ژر ځني وځه | ۱۴۳ |
| 82 | د قيامت په ورځ قرآن د خپل لوستونکي شفاعت کوي | ۱۴۴ |
| 82 | په اوداسه باندي ګناهونه د انسان د بدن څخه وځي | ۱۴۵ |
| 83 | په لمونځونو باندي د إنسان ګناهونه ورانيږي | ۱۴۶ |
| 83 | په مسواک باندي الله خوشاله کيږي اوخوله ورباندي پاکيږي | ۱۴۷ |
| 85 | روژه د مخکنيو ګناهونو ورانوونکي ده | ۱۴۸ |
| 85 | د مجاهد بدن اور نه مسه کوي | ۱۴۹ |
| 85 | د يوه انسان د هدايت ثواب | ۱۵۰ |
| 86 | هر کاربايد د الله پاک په حمد باندي پيل سي | ۱۵۱ |
| 86 | د درود ويلو فضيلت | ۱۵۲ |
| 86 | د ذکر او تعليم د حلقاتو فضيلت | ۱۵۳ |
| 87 | د يوه مسلمان حق پربل مسلمان باندي | ۱۵۴ |
| 87 | د مسلمان په جنازې د ګډون ثواب | ۱۵۵ |
| 88 | بر کتناکه ښځه | ۱۵۶ |
| 88 | د حياء اهميت | ۱۵۷ |
| 88 | د مسجد سره مينه د ايمانداری نښه ده | ۱۵۸ |
| 89 | د مسلمان سره د غم شريکی ثواب | ۱۵۹ |
| 90 | د طالب العلم مرتبه | ۱۶۰ |
| 90 | ايمان او په دين کي استقامت | ۱۶۱ |
| 90 | د دين په لاره کي د شهادت فضيلت | ۱۶۲ |


M.N.Mazhar

| | | |
|---|---|---|
| 91 | د پتي صدقې ثواب | ۱٦۳ |
| 91 | د الله پاک د رحمت وړکسان | ۱٦۴ |
| 91 | د چا د زړه څخه رحمت ایستل کیږي؟ | ۱٦۵ |
| 92 | د الله پاک پرمخلوق باندي رحم وکړی: | ۱٦٦ |
| 92 | دغه دري کسان به جنت ته ځي: | 167 |
| 93 | اولاد ته د پلار بهترینه ډالۍ او سوغات: | 168 |
| 94 | د لور د ساتلو فضیلت: | 169 |
| 94 | خپل مخته د مسلمان د غیبت کولو اجازه مه ورکوه! | 170 |
| 95 | د همسایه خیال باید وساتي: | 171 |
| 95 | څوک دي باید ملګری وي اوچاته باید ډوډې ورکړې؟ | 172 |
| 96 | د الله د رحمت څخه محروم خلګ: | 173 |
| 96 | پر باطل باندي د خپل قوم سره مرسته مکوی! | 174 |
| 97 | په عاجزۍ باندي فخر او ظلم ورکیږي: | 175 |
| 97 | هر خبري کوونکي ته | 176 |
| 97 | ددین د خادمانو لپاره! | 177 |
| 98 | د ګناهکاره إنسانانو پسې مځی! | 178 |
| 99 | مخکي تر دغو حالتونو د الله پاک عبادت وکړی! | 179 |
| 100 | ابوهریره رضي الله عنه ته د رسول الله صلي الله علیه وسلم سپارښتني: | 180 |
| 100 | انسان به کله هلاکیږي؟ | 181 |
| 101 | د بل چا د مال لپاره خپل آخرت مه خرابوه! | 182 |
| 102 | د ځانه څخه بې عزم او بې ارادې إنسانان مه جوړوی! | 183 |
| 102 | دري نجات ورکوونکي او دري هلاکوونکي شیان: | 184 |

| | | |
|---|---|---|
| 185 | د عاجزۍ ګټه او د تکبر تاوان: | 103 |
| 186 | د قهر اوغضب تاوان: | 104 |
| 187 | نه نفره بد إنسانان: | 104 |
| 188 | د خبنم درملنه: | 106 |
| 189 | حیاء او إیمان سره مبنتي دي: | 106 |
| 190 | د دنیا او آخرت سره د محبت پایله: | 106 |
| 191 | پر مال باندي د حرص تاوان: | 107 |
| 192 | مال تر ټولوستره فتنه ده: | 107 |
| 193 | په دنیا کي د تقوی ګټي: | 108 |
| 194 | څلور مهم خصلتونه: | 108 |
| 195 | هغه چاته ځان نژدې کړه چي ګټه درته رسولای سي: | 109 |
| 196 | هیڅ وخت تر ضعیفانو ځان لوړ مه بولې! | 109 |
| 197 | دوه مهم عادتونه: | 110 |
| 198 | إنسان بوډا کیږي خو دوه عادتونه يې ځوانیږي: | 111 |
| 199 | دري خصلتونه او انساني ډولونه: | 111 |
| 200 | د حلال مال اهمیت: | 113 |
| 201 | که باران غواړې نو د الله پاک اطاعت وکړې: | 114 |
| 202 | د رزق پیدا کولو غم مکوی! | 114 |
| 203 | د امت لپاره خطرناکه شخص: | 115 |
| 204 | هغه شیان چي الله پاک رسول الله صلي الله علیه وسلم وربانديي امرکړی وو: | 115 |
| 205 | د الله پاک لپاره اوښکي تویول: | 116 |
| 206 | کله ژوند او کله مړینه د مسلمان لپاره ښه ده: | 117 |


M.N. Mazhar

| | | |
|---|---|---|
| 207 | زموږ د اوسني ژوند په اړه د رسول الله صلي الله عليه وسلم وړاند وينه: | 118 |
| 208 | د پنځو بدو اعمالو نتيجه: | 119 |
| 209 | د فتنې په وخت کي بهترينه خلګ: | 119 |
| 210 | پر امت باندي د رسول الله صلي الله وسلم ويره: | 120 |
| 211 | د فتنو تر راتللو مخکي پر نيکو اعمالو باندي تلوار وکړی: | 120 |
| 212 | د شيطاني وسوسو څخه ځان ساتل: | 121 |
| 213 | نبي لاري ته د دعوت ورکوونکي ثواب: | 122 |
| 214 | نيک عمل دوام کوي: | 122 |
| 215 | لس شيان د فطرتي سنتو څخه دي: | 123 |
| 216 | د خوب ليدلو اړوند: | 123 |
| 217 | د صبا په تمه د نن کار مه نيمګړی کوه: | 124 |
| 218 | د اور څخه د ليري کيدلو لاره: | 124 |
| 219 | پر دين باندي به کله ژاړو؟ | 125 |
| 220 | په دوو شيانو کي ډير کوښښ وکړه! | 125 |
| 221 | د انسان لپاره ښايست: | 125 |
| 222 | د حکمت، رښتيا او يقين ګټه: | 126 |
| 223 | د يقين، رښتيا او تقوي څخه محروم خلګ: | 126 |
| 224 | په هر مصيبت کي لومړی د ځان سره حساب وکړه! | 126 |
| 225 | د الله پاک عبادت ته د فراغت ګټي: | 127 |
| 226 | پر دروشيانو د ساتني فايدې: | 127 |
| 227 | پر الله پاک باندي ګران خلګ: | 128 |
| 228 | په اسلام کي د نوروز لمانځل ندی روا: | 128 |


M.N.Mazhar.ee

| | | |
|---|---|---|
| 229 | د کفاروسره مشابهت کوونکی د هغوی سره را حشر کیږي: | 129 |
| 230 | د هغو خلګو لپاره چي د ځینو خلګو بې ځایه صفتونه کوي: | 129 |
| 231 | هیچاته اجازه مه ورکوه چي مخامخ ستا صفت وکړي: | 129 |
| 232 | په هغه چا باور مکوه چي مخامخ ستا بې ځایه صفت کوي: | 130 |
| 233 | د انسان حلالول: | 130 |
| 234 | مسلمانانوته: | 131 |
| 235 | د هر مسلمان لپاره څلور دښمنه دي: | 131 |
| 236 | د حیاء او شرم اهمیت: | 132 |
| 237 | د علم اړوند زریني کرښي: | 132 |
| 238 | د ډیر خوراک درې تاوانونه: | 134 |
| 239 | د ډېر خوراک تاوانونه: | 135 |
| 240 | الصوم والإخلاص : | 135 |
| 241 | آیا غواړی شیطان لیونی کړی؟ | 137 |
| 242 | د دا ځینو خلګو داسي طبیعت جوړسوی وي: | 138 |
| 243 | آیا جنت غواړی: | 139 |
| 244 | ځانونه د تکبر څخه وساتی! | 139 |
| 245 | څوک چي ډاکټرنوي ډاکتري کوي: | 140 |
| 246 | د آخرت د ورځی محاسبه مه هیروی! | 140 |
| 247 | د اولادونو په محبت کی احتیاط او اعتدال وکړی! | 142 |
| 248 | د بې ګناه وژني عاقبت: | 143 |
| 249 | د بې ګناه وژني لوی تاوان: | 143 |
| 250 | د خاینو مشرانو عاقبت: | 144 |


M.N. Mazharee

| | | |
|---|---|---|
| 251 | د صله رحمي ګټې او فايدې: | 144 |
| 252 | د فقر اومسکنت پيغور ته اعتبار ورنکړی! | 145 |
| 253 | د بدو خلګو څخه ډالۍ او سوغاتونه مه اخلئ! | 145 |
| 254 | د هري وظيفې اومسيوليت لپاره بايد سم خلګ وګمارل سي: | 146 |
| 255 | منافق ته مشر مه واياست! | 147 |
| 256 | هغه سترګي چي اور يې نه سوځوي: | 147 |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |



↑

# د کتاب پيل ته تلل


هيله ده چي ليکونکی د خپلو نيکو دعاګانو څخه هېر نکړی

ستاسو ورور: مولوي نورالحق مظهري

M.N.Mazharee